Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون

# د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زيانونه



محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ ل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زيانونه

ليکوال

محمد اسمعيل يون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه |
| لیکوال: | پوهیالی محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۲ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۱۱) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۱۱) |
| کمپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د دویم چاپ سریزه | ۱ |
| ۲ | سریزه | ۴ |
| ۳ | ښوونځي | ۷ |
| ۴ | د لوړو زده کړو مرکزونه | ۱۴ |
| ۵ | د افغانستان د علومو اکاډمي | ۳۳ |
| ۶ | دولتي فرهنګي ټولنې | ۳۹ |
| ۷ | خپلواکې فرهنګي ټولنې | ۴۸ |
| ۷ | ننداري او سینماوې | ۵۱ |
| ۸ | ملي موزیم او نور موزیمونه | ۵۵ |
| ۹ | ملي آرشیف | ۷۸ |
| ۱۰ | ملي ګالري | ۸۱ |
| ۱۱ | نندارتونونه | ۸۵ |
| ۱۲ | څلي او منارونه | ۸۹ |
| ۱۳ | تاریخي ودانۍ | ۹۵ |
| ۱۴ | بیهقي کتاب خپرولو موسسه | ۹۸ |
| ۱۵ | عامه کتابتون | ۱۰۲ |
| ۱۶ | راډیو او ټلویزیون | ۱۲۱ |
| ۱۷ | اخبارونه او مجلې | ۱۲۸ |
| ۱۸ | چاپخونې (مطبعې) | ۱۳۴ |
| ۱۹ | پایله (نتیجه) | ۱۴۰ |
| ۲۰ | اخځلیکونه | ۱۴۳ |
| ۲۱ | د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه | ۱۴۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دویم چاپ سریزه

دا اثر (د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زيانونه) د افغانستان پر کلتوري شتمنيو د راغلي ناتار يو دردونکی داستان دی. زه (يون) ددې اثر ليکوال، ددې غمجن داستان يو عيني ليدونکی او کتونکی يم، پر هېواد او کابل باندې د جګړې په ټول بهير کې زه د خپل هېواد په غېږه کې پاتې شوی يم، څه چې تېر شوي او څه چې ما ليدلي، ټول نه، خو هغه څه چې زما قلم يې د ليکلو وس درلود، هغه مې ليکلي دي، په تېره بيا زموږ پر کلتوري شتمنيو راغلی ناتار.

کېدی شي نورو خلکو هم دا ډول مسايل ليکلي وي او يا يې وليکي، خو هغه څه چې ما ليکلي د پېښو د يو عيني شاهد په توګه زما درد هم په کې منعکس شوی، نور به يې تر ما ډېر ښه تحليلي، هر اړخيز او بشپړ وليکي، خو کوم درد، چې له دې غملړلو پېښو ما اخيستی او کېدی شي قدرمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستونکي يې په دې اثر کې محسوس کړي، د نورو په دا ډول اثارو کې کېدی شي دا ډول درد احساس نه شي.

ما که همغه وخت په عملي صحنه کې دا يادښتونه نه وای ليکلي، نو کلونه وروسته، چې پر بدو پېښو نورې ناوړه پېښې زياتې شوې، خدای خبر چې بيا به مو ددې مجال پيدا کړی وای، چې دا سې څه وليکم



او يا هم هغه درد او سوز چې په عملي صحنه کې سړي ته رسي، هغه دې تر پېښو ډېره موده وروسته هم په همغه شان پاتې شي. دا اثر له نن څخه يوولس کاله دمخه پر (۱۳۷۲)ل کال په پېښور کې د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې (وفا ) له خوا چاپ شو. تر هغه وروسته د طالبانو په واکمنۍ کې د افغانستان فرهنګي شتمنيو ته نور زيانونه هم واړول شول، چې پر هغو باندې زما په نورو بېلابېلو ليکنو کې بحث شوی دی، لکه په باميانو کې د بودا تاريخي مجسمو نړول او نور. دا ډول زيانونه زما په يو بل اثر (کلتوري يون) کې کتلای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شئ، خو په دې اثر کې اکثره هغو زيانونو ته ګوته نيول شوې، چې د طالبانو تر واکمنۍ دمخه بيا تر ۱۳۵۷ل کال پورې په بېلا بېلو پړاونو کې زموږ فرهنګي شتمنيو ته اوښتي دي، نو ځکه مې په دې اثر کې کمونې او زياتونې ضرور ونه ګڼلې او د همغه وخت د يو تصوير په توګه مې همداسې پرېښود. زه نور پر دې غمجن داستان څه ويل نه غواړم، د لومړي چاپ په برخه کې د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنې (وفا) له مشر پروفيسور رسول امين او همدارنګه سرمحقق زلمي هېوادمل څخه ډېره مننه کوم، چې د دې کتاب د لومړي چاپ زمينه يې برابره کړه. دغه راز له ګران ورور ښه شاعر عبدالغني هاشمي او اسد دانش ساپي مننه کوم، چې لومړي دا اثر وژباړه او دويم چاپ کړ. د قدرمن مشر ورور جنرال صيب شېرمحمد کريمي هم ډېر قدرداني کوم، چې دا اثر يې انګليسي ته وژباړه، که څه هم د دې اثر انګليسي ژباړه لا تراوسه چاپ شوې نه ده، خو هيله من يم چې يو وخت چاپ شي. درانه لوستونکي د دې اثر لوستلو ته رابولم.

په فرهنګي مينه او درناوي
محمد اسمعيل يون
ارګ- د جمهوري رياست ودانۍ
۱۳۸۷ل کال د کب ۲۷مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د ۱۳۵۷ل کال د ثور پر ۷مه نېټه په افغانستان کې سیاسي بې ثباتي پیل شوه. له سیاسي کړکېچ سره یوځای پوځي اړودوړ هم پیل شو او خبره خونړیو جګړو ته ووته. د ۱۳۵۸ل کال د جدي پر ۶مه نېټه روسانو د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف پر افغانستان مستقیم یرغل وکړ. افغان ولس سم له لاسه د هغو پر ضد ملي او اسلامي پاڅونونه پیل کړل او ټول هېواد د اور او سکروټو په اور غورځوونکي غره واوښت. په نتیجه کې په سوونو ملیونه ټنه چاودېدونکي مواد زموږ د هېواد پر غرو رغو، کلیو او بانډو استعمال شول. دې جګړې عموماً د لویو ښارونو له منځ ځخه لږ شان لرې په کلیو او بانډو کې دوام وموند او د جګړې په ترڅ کې دا امکانات برابر شول، چې پردي یرغلګر په شعوري او کورني مخالفین په نا شعوري ډول د هېواد د ژوندانه بېلابېلو ډګرونو ته زیانونه واړوي. دا سې پېښې شول هغه ناوړه نیتونه چې لرې او نږدې ګاونډیو دښمنانو زموږ د هېواد په باب لرل افغانانو هم د هغو په عملي کولو کې، په یوه نه یو ډول برخه واخیسته، دا چې څوک په دې برخه کې زیات مجرم وو او د چا په لاس دا غمیزه دومره اوږده شوه، دا یو بېل بحث دی، خو په هر ډول او هره بڼه چې وو زموږ د ټولنې د ښېراز ژوند پانې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورڅولې او هېواد يې له ستر ناورين سره مخامخ کړ. افغاني ټولنې ته چې کوم زيانونه اړول شوي، هر يو پر خپل ځای د زيات درد او غمونو سبب شوي دي. په دې کې د افغاني ټولنې فرهنګي زيان هم د زياتې اندېښنې وړ دی. هغه وخت چې جګړه له ښارونو د باندې روانه وه، نو هغه فرهنګي شتمنې چې په کليوالي سيمو او له لويو ښارونو څخه په لرې پرتو سيمو کې موجوده وه، هغه د جګړې د دواړو غاړو له خوا په شعوري او ناشعوري ډول له منځه يوړل شوه، خو کله چې د يوې بلې سنجول شوې توطيې له مخې د ۱۳۷۱ل کال د ثور پر ۸مه نېټه د کابل رژيم ظاهري بڼې ته بدلون ورکړای شو، نو خبره تر بدو بدتره شوه. مختلفې وسله والې ډلې د هېواد بېلابېلو ښارونو ته وردننه او پر جګړو اخته شوې. هغه شتمنې چې له تېرو جګړو څخه يوازې په ښارونو کې خوندي پاتې وه، اکثره برخه يې لوټ او تالان شوه. فرهنګي شتمنې چې زياته برخه يې په ښارونو کې وه تر بېلابېلو دردوونکو ناتارونو لاندې راغله، اکثره برخه يې يا چور او يا هم د اور د لمبو په خپو کې وسوځول شوه. هر کله چې به په يوه فرهنګي مرکز کوم طاعون خورېده، نو زموږ د هېواد د فرهنګيانو له زړونو به لمبې جګېدلې، ان خبره تر دې هم راورسېده، چې د هېواد اکثره فرهنګي شتمنې او مرکزونه يو په بل پسې له منځه يوړل شول. څرنګه چې زموږ هېواد له فرهنګي پلوه دومره غريب او بې شتو نه و، لکه څنګه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي ډګر کې ساتل شوی دی. د دې اثر د لیکلو یوه اساسي وجه دا هم ده، چې لوستونکو ته، لکه چې څرګنده ده نوره هم څرګنده شي، چې زموږ هېواد له فرهنګي پلوه غریب نه و، خو لکه د اوس په شان هر وخت جګړې د دې سبب شوي، چې زموږ د هېواد فرهنګي شته لوټ شي. زه د فرهنګ یو مینوال او لېوال د هېواد پر فرهنګ باندې د ډول ډول راغلیو او سنیو ناتارونو شاهد وم او د دې رسالې ځینې بحثونه زما د خپلو سترګو لیدلي حال کیسې دي. د دې رسالې مقصد دا هم دی، چې د هېواد فرهنګي زیانونه په ګوته شي او په راتلونکي کې د هېواد ځیرک او با درده فرهنګیان او پر هېواد او کلتور مین واکمن د هغو د بیا رغونې په فکر کې شي. که په دې رسالې کې پورتني هدفونه تر یوه حده پوره شوي وي، نو دا به زما د زړه د تسکین لپاره یو درمل وي.

په ډېره مینه
پوهیالی محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۱))

# ښوونځي

کله چې د افغانستان دا تېره ۱۹ کلنه جګړه پیلېده، نو لومړی او اساسي ګوزار یې د ښوونې او روزنې پر موسسو و.

د روسانو یرغل او په هېواد کې د ګرمې سیاسي، عقیده یي او ملي جګړې پیل د دې زمینه برابره کړه، چې پر ښوونځیو او نورو روزنیزو بنسټونو مستقیم او نا مستقیم ګوزارونه وشي.

د افغانستان د نورو ملي شتمنیو او ودانیو ترڅنګ ښوونځیو ته هم دومره زیانونه واړول شول، چې ان ویلای شو له هېڅ بلې برخې سره د پرتلې وړ نه دي.

تر جګړې دمخه لومړنی ګوزار، چې ښوونځیو ته متوجه شو، هغه په تعلیمي او تحصیلي نصاب کې منفي بدلون راوستل و.

پر ۱۳۵۷ل کال، چې د سردار محمد داود خان جمهوري نظام رنګ کړای شو، نو د ټولنې په نورو ډګرونو کې د ژورو بدلونونو ترڅنګ د زده کړې په نظام کې هم په فوري ډول لاسوهنه پیل شوه او په لکونو ټوکه نوي تعلیمي، تحصیلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونه په ډېر درانه لګښت له سره چاپ شول. سره له دې چې په نوموړي واټن کې هېواد ورځ پر ورځ له زیاتو ستونزو او ډول ډول اقتصادي، سیاسي او پوځي کړکیچونو سره مخامخېده، خو واکمنو تر خپل ټاکلي اند لاندې کوښښ کاوه، پر ښوونځیو، پوهنځیو او د زده کړې نورو اکثرو روزنځیو باندې خپل کنټرول او څارنه جاري وساتي. د ځینو ښوونځیو د رنګېدو له پیل شوي بهیر سره سره، د یو شمېر نویو ښوونځیو د جوړولو کارونه هم پیل شول، خو څرنګه چې د زده کړې مرکزونه د یو سیاسي فکر تر کنټرول لاندې وو، نو د زده کوونکو او محصلینو د زده کړې ټاکلی او یاد وړ وخت د سیاسي غونډو او مارشونو پر جوړولو تېرېده. ((ګوندي لومړني سازمانونه)) چې په هر ښوونځي، پوهنځي او روزنیز مرکز کې یې جلا جلا ځانګې درلودې، د پوره واک او ځواک څښتنان وو، په روزنځیو او نورو پوهنیزو چارو او بهیر کې یې له خپلې هیلې سره سم وقفه او بندیز راوستلای شو. د همدې ډول وقفو په ترڅ کې په اټکلیز ډول که لږ تر لږه هره ورځ د هر زده کوونکي له هرو شپږو درسي ساعتونو څخه یو ساعت وخت ضایع شوی وي، په ټولیز ډول به په یاد شوي واټن کې د ټولو زده کوونکو په ګډون د اټکل له مخې تر (۱۲۲۵ سوه زره) درسي ساعتونو څخه زیات وخت ضایع شوی وي. (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۳۵۸ل کال د مرغومي پر شپږمه نېټه روسانو د ټولو نړيوالو مدني او بشري قوانينو خلاف د افغانستان پر خاوره مستقيم يرغل وکړ او د ۸۵زره (۲) کسيز لښکر په زور يې خپل ګوډاګيان پر کابل مسلط کړل.

دغې ډلې د افغاني فرهنګ خلاف د نورو ګڼو هڅو ترڅنګ په تعليمي نصاب کې د بدلون هڅه وکړه، د زده کړې په سيستم کې يې نوي مضامين ځای او په تدريج سره يې د هغو مضامينو د محتوياتو پر کمښت پيل وکړ، چې دوی ته يې ذهني او فزيکي خطر راولاړولای شو. ځينو درسي کتابونو ته بدلون ورکړای شو او ځينې نور يې په خپله خوښه ورزيات کړل. په ټولو فرهنګي مرکزونو کې د روسي مشاورينو شتون حتمي خبره وه.

په هر دولتي او روزنيز مرکز کې ((د شوروي دوستۍ خونه)) په نوم يو کلتوري مرکز جوړ شو. روسي ژبه په تعليمي او تحصيلي نصاب کې شامله او هڅه وشوه، چې د انګليسي ژبې ځای ورکړای شي. د روسانو د شتوالي پر وخت د تعليمي نصاب د بدلون په نتيجه کې يو ځل بيا د ملت پر اوږو درونډ مالي لګښت پرېوت. کله چې د روسانو او د هغو د پلوي حکومت پر ضد په ټول هېواد کې ملي او اسلامي سراسري جګړه پيل شوه، نو هغه ښوونځي او فرهنګي مرکزونه چې د حکومت له واکه وتل بيا پر بل ډول ناتار اخته کېدل. تنظيميانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه دې پلمـه، چې ښـوونځي د دولـت ملکيـت کې حسـابېږي او دوی د روسانو او حکومت پرضـد جګړه کـوي، د ښـوونځيو پـه سېزنې او ړنګونې يې لاس پـورې کړ. شـايد ددې تـر شـا داسې ناوړه توطيه ګر لاسونه موجود وو، چې ښوونځي ټول ختم کړای شي او ټولنه بېسواده شي او په دې ډول د جګړې لپاره خام مـواد (بشري قوه) زياتـه شي. ځکـه چې نالوسـتي کسـان د عقيـدې تـر چتر لاندې هر ډول قربانۍ ته حاضرېږي. هر کله چې به يـوه سـيمه د تنظيمونو لاس ته ورغله، نو له ښوونځيو به لوګي پورته کړای شول. په پايلـه کې بـه د جګړه ځپلو سـيمو اکثـره هغـه ښـوونځي چې له يوه لاس نه بل تـه لوېدل، لـه منځـه يـوړل شـول او دا کـار د هېواد پـه اکثرو سيمو کې ترسـره شـو. د ښـوونځيو د ړنګـونې او سېزنې عملي او دروند بار د تنظيميانو پـر اوږو پـروت دی او دا مسووليت تر زياتـه حده د دوی پـر غـاړه دی، خـو د پـردې تـر شـا کېدی شي نـور غرضـونه او لاسـونه موجـود وو. پايلـه دا شـوه، هغه ښوونځي چې په کليوالي او اطرافي سيمو کې موجود وو، د هغو ډېر زيـات شمېر لـه منځـه يـوړل شـو. ((پـر **۱۹۷۲**م کـال پـه افغانستان کې **۱۹۱۲** کليـوالي، **۱۵۱۷** ابتـدايي، **۵۱۲** متوسطې، **۱۹۷**لېسې، **۱۹** ديني مدرسې او **۱۷** مسـلکي ښـوونځي موجـود وو)). (**۳**)

د ښــووني او روزنــې وزارت د يــوې خپرونــې لــه مخــې پــر ((**۱۳۶۹**ل کال د عمومي زده کړو د ښـوونځيو شـمېر ۱۴۰۱و، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغې جملې څخه ۳۴۴ لېسې، ۴۸۰ منځنې ښوونځې او ۵۷۷ يې لومړني ښوونځي وو. په هغوی کې ۹۰۹۸۷۰ تنو زده کوونکو لوست کاوه.)) (۴)

غالباً دا ښوونځي به په هغو سيمو په ځانګړې توګه په لويو ښارونو کې پاتې وو، چې تر دې وختـه لا د تنظيمونو تر واک لاندې نه وو راغلي.

کله چې پر ۱۳۷۱ل کال د تنظيمونو يوه ډله له روسانو سره د پټ سازش او د حاکميت په دننه کې سمتي، قومي او سيمه ييز فکر ته د ځينو د متمايلو اشخاصو د ښکاره ائتلاف په نتيجه کې کابل ته رادننه کړای شوه، هغه څه ترسره شول چې د کولو نه وو.

کله چې د هېواد په اکثرو ښارونو او له هغې جملې نه په کابل ښار کې ستر بشري ناورين پيل شو، په ښارونو کې له تېرو ناخوالو پاتې فرهنګي او ملي شتمنۍ د اور تر ستوني تېره شوه. د ټول هېواد په کچه ۳۵۰۰ (۵) ښوونځي ړنګ او وسېزل شول. که په هر ښوونځي کې ۱۰۰۰ تنه زده کوونکي پر درس بوخت وای، نو مجموعي شمېر به يې (درې نيم مليونه تنه) شوی وای او که لږ تر لږه له هر ښوونځي څخه ۵۰ تنه فارغ شوي وای، نو د يو کال د فارغانو شمېر به (يو سل او پنځه اويا زره تنه) وای او که له هرو پنځو تنو څخه يو تن د لوړو زده کړو امکان پيدا کړی وای، نو پر يو کال به مو لږ تر لږه پنځه دېرش

(c) ketabton.com: The Digital Library

زره تنه د لوړو زده کړو محصلین درلودل او که دا بیا په تېرو ۱۷ کلونو کې ضرب کړو ( نو له پنځه سوه او پنځه نوي زره ) تنو سره مساوي کېږي. یانې تقریباً په هرو دېرشو تنو کې به یو تن د لوړو زده کړو خاوند وای. که یوازې د دولسمو ټولګیو د اټکلیزو فارغانو شمېر په پام کې ونیسو ، نو تر دوو ملیونو تنو څخه زیاتېږي، یانې که جګړه نه وای او یا دا اوسني لوستي کسان هم په پام کې ونیسو ، نو په هرو شپږو او یا اوو تنو کې به یو تن د لیک او لوست خاوند وای. (۶) په داسې حال کې چې اوس مونږ په سلو تنو کې پنځه تنه باسواده کسان هم نه لرو.

دا خو د ښوونځیو معنوي زیانو ، دغه راز د یادو شویو ښوونځیو د ودانیو مالي لګښت هم تر سوونو ملیونو ډالرو څخه زیات اټکلېدای شي.

کله چې د تنظیمونو او ملحدینو بېلابېلې ډلې په کابل ښار کې پر جګړه اخته شوې، نو یوازې په څو لومړنیو ورځو کې د کابل ښار ښوونځیو ته د اړتیا وړ لومړنیو موادو له درکه ۱۵ ملیونه امریکایي ډالره زیان واړول شو. (۷) د ټول زیان د اټکل کچه ډېره زیاته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۲))

# د لوړو زده کړو مرکزونه

په افغانستان کې د لوړو زده کړو عملي پیل له ۱۳۱۱ل کال راهیسې شوی، پر همدې کال په کابل کې د طب پوهنځی جوړ شو، چې د کابل پوهنتون زړی یې کېښود. (۸) سره له دې چې تر دې د مخه هم په افغانستان کې د عصري او لوړو زده کړو لپاره نظرونه او فکرونه موجود وو، خو د لوړو زده کړو په برخه کې د واکمنو هڅې او نظرونه بریالیتوب ته نه وو رسېدلي.

تر ۱۳۱۱ل کال راهیسې په هېواد کې د لوړو زده کړو بېلابېل مرکزونه جوړ شول. د کابل پوهنتون تر تاسیس وروسته پر ۱۳۴۲ل کال په جلال اباد کې د طب پوهنځی جوړ شو، پر ۱۹۶۷م کال په کابل کې د پولیتخنیک انستیتوټ جوړ شو، چې بېلابېل پوهنځي یې درلودل. (۹) دغه راز په حربي او عسکري برخه کې حربي او هوايي پوهنتونونه جوړ شول او هم د پولیسو او تخنیک اکاډمۍ تاسیس شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۷۵- ۱۹۷۶م کال د یو رقم له مخې په ټول هېواد کې ۱۰ دارالمعلمینونه او د لوړو زده کړو ۱۴ موسسې موجودې وې. (۱۰) تر دې وروسته بیا هم یو لړ نورې موسسې جوړې شوې. پر ۱۹۷۷م کال یوازې د دارالمعلمینونو شمېر ۱۵ ته رسېده. (۱۱) له ۱۳۵۷ل کال څخه تر ۱۳۷۱ل کال پورې بیا هم د لوړو زده کړو لپاره ځینې پوهنځي او پوهنتونونه جوړشول، لکه د بلخ، هرات او کندهار پوهنتونونه، د اجتماعي علومو او پیداګوژۍ انستیتیوتونه او ځینې نور، خو له دې سره سره بیا هم په هېواد کې لوړو زده کړو هغسې چې لازمه وه، مناسبه وده ونه کړه. پر ۱۳۵۷ل کال د هېواد د لوړو زده کړو پر موسسو باندې یو فکري سیوری او کنټرول خپور او حاکم شو. هغه چا چې د حاکم فکر مخالف حرکت ته لمن وهله په زغرده له منځه وړل کېدل، په همدې وجه د لوړو زده کړو د موسسو یو شمېر پوهان یا په زندانونو کې واچول شول، یا مهاجر شول او یا هم د ژوند له نعمت نه بې برخې شول. د لوړو زده کړو د موسسو پر علمي ساحې سیاسي فضا خپره شوه، سیاسي غونډې، میتنګونه او مارشونه د درسي چارو د اخلال او تم کېدو اساسي وسیلې شوې. کله چې روسان او ګوډاګي یې راغلل، نو بیا هم دې لړۍ دوام وکړ او په ځینو ځایونو کې لا ګرمه شوه. د پوهنتونونو او د لوړو زده کړو د نورو موسسو په نصابونو کې د بدلون هڅه وشوه او یو زیات شمېر نوي کتابونه چاپ او محصلینو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تدریس لپاره ورانـدې شول. (۱۲) د داسې فکر او لیدلورې د تبلیغ لپاره هڅه وشوه، چې زموږ د ټولنې کلتور او فکر ورسره پوره مخالفت درلود.

د دوکتور نجیب الله د حاکمیت پر وخت هڅه وشوه، چې په تدریجي ډول پوهنتونونه او د لوړو زده کړو نور روزنځایونه خپل اصلي مسیر ته وروګرځول شي، خو دا داسې وخت و، چې د نړۍ د لوړو زده کړو له اکثرو موسسو سره د هېواد د لوړو زده کړو د مؤسسو هغه پخواني روابط شلېدلي وو او نه د دوکتور نجیب الله د حکومت بقا یقیني وه او نه هم د هغه د حکومت اقتصاد ددې جوګه و، چې د لوړو زده کړو مؤسسې دې بېرته خپل تېر کیفیت ترلاسه کړي.

خو بیا هم په ټولیز ډول له ۱۳۵۷-۱۳۷۱ل کال پورې د پوهنتونو او د لوړو زده کړو د نورو مؤسسو فزیکي جوړښت روغ و، یوازې د فکر او د درس د میتود مساله پوره مطلوبه نه وه، خو کله چې پر ۱۳۷۱ل کال په کابل کې یو منفي بدلون راوستل شو، نو هر څه له کنټروله ووتل. ان ځینو هغو کسانو، چې د کابل د لوړو زده کړو په مؤسسو کې یې زده کړې کړې وې له هغو څخه مورچلې جوړې کړې او دومره توغندي، درنې او سپکې ګولۍ یې پرې وورولې، چې په نړۍ کې به یې ساری پیدا نه شي. په نتیجه کې نه یوازې په کابل ښار، بلکې په ټول هېواد کې د لوړو زده کړو کوم مرکزونه چې د تېرو جګړو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناخوالو جوړ پاتې وو، يو په بل پسې رنګ او وسېزل شول، وسايل او وسايط يې لوټ او تالان شول. دلته به مو د کابل پوهنتون، د کابل طب دولتي انستيتيوت او د کابل پوليتخنيک انستيتيوت د بېلګې په توګه راوړو او په نورو به په مجموعي ډول خبرې وکړو:

## ۱- کابل پوهنتون:

کابل پوهنتون په افغانستان کې د لوړو زده کړو تر ټولو لويه او ستره موسسه ده. د دې موسسې د بنسټ ډبره پر ۱۳۱۱ل کال (۱۹۳۲م) کال د (طب پوهنځي) په جوړلو سره کېښوول شوه. پر ۱۳۱۷ل کال د حقوقو پوهنځي جوړ شو، پر ۱۳۲۱ل کال د علومو پوهنځی او پر ۱۳۲۳ل کال د ادبياتو پوهنځی جوړ شو. پر ۱۳۲۵ل کال د هغه وخت د دولت له خوا يو فرمان صادر شو او د هغه تر مخه کابل پوهنتون رسماً په همدې نامه ونومول شو او نومړو ښلورو پوهنځيو يو ځای په کې پر تدريس پيل وکړ.

د پوهنتون په چوکاټ کې پر ۱۳۳۰ل کال د شرعياتو، پر ۱۳۳۵ل کال د انجنيري او زراعت، پر ۱۳۳۲ل کال د اقتصاد، پر ۱۳۳۸ل کال د فارميسي، پر ۱۳۴۰ل کال د وترنري، پر ۱۳۴۱ل کال د تعليم او تربيې او نورو پوهنځي يو په بل پسې جوړ شول.

خو پر شپېتمو کلونو د پوهنتون په چوکاټ کې د ښکلو هنرونو، ژورناليزم، ځمکپوهنې او د اجتماعي علومو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنځي نوي جوړ شول، د شرعياتو پوهنځی چې د شپېتمو کلونو په وروستيو کې ترې د اسلامي څېړنو پوهنتون جوړ شوی و، پر ۱۳۷۳ل کال بېرته د پوهنتون جز شو. کابل پوهنتون ۱۴ پوهنځي او ۲۲ ډيپارټمنټونه لري. يو وخت کابل پوهنتون د کوبالت، د لمر انرژۍ څېړنو مرکز او د کرنې د څېړنو يو فارم درلود.

د کابل پوهنتون د پخواني رئيس پوهاند سيد اميرشاه حسن يار د ځرګندونو له مخې د ((۱۳۷۱ل کال په لومړيو کې په کابل پوهنتون کې **۵۲۵** تنه استادان پر تدريس بوخت وو)) او بيا دې شمېر د وخت په تېرېدو سره بدلون موندلی دی، ورځ پر ورځ د استادانو شمېر کم شوی دی.

د درې کلنو جګړو په اثر د زده کړې اتاقونو، لابراتوري تجهيزاتو مجهزې چاپخونې، سامان او فرنيچر، د ليليې سامان او وسايل، کفتريا او د څېړنو مواد او سامان يا په بشپړ ډول او يا نسبي توګه له منځه وړل شوي دي. د پوهنتون رئيس د يوې مرکې له مخې ((د دې زيانونو لومړنۍ ټاکل شوې خساره **۵۰** مليونه ډالره اټکل شوې ده. پر هره ورځ د هر محصل د پنځوسو درسي ساعتونو او په اوونۍ کې د دېرشو ساعتونو ضايع کېدل او په دوو اکاډميکو کلونو کې د اتلس مياشتني تلف شوي وخت پر اساس له لس زرو څخه د زياتو محصلينو تلف شوی وخت تر ۲۱ مليونو درسي ساعتونو څخه زياتېږي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاني کابل پوهنتون د یوویشتمې پېړۍ د تمدن له کاروان څخه ۲۱ ملیونه ساعتونه وروسته پاتې شوی دی. له دې پرته د پوهنتون مرکزي کتابتون، د ښکلو هنرونو د پوهنځي ګالري او د علومو پوهنځي موزیم له منځه وړل شوي دي. د دې فرهنګ لوټونې معنوي ارزښت په مادیاتو اټکل کېدی نه شي. په حقیقت کې په ځینو برخو کې د دې ولس د فرهنګ د حال رابطه د هغې له ویاړلي ماضي سره پرې شوې ده.

سره له دې چې د پوهنتون ټول پوهنځي یا په بشپړ او یا هم په نسبي ډول تخریب شوي، خو په دې کې بیا د فارمیسي پوهنځي درې پوړیز تعمیر تقریباً په بشپړ ډول تخریب شوی دی، د علومو او وترنرۍ پوهنځیو ودانۍ په سلو کې شپېته زیانمنې شوې، د مرکزي لیلیې یو وینګ هم بشپړ تخریب شوی او لیلیې ته نور هم زیات زیان اړول شوی دی. د کرنې پوهنځي د ودانۍ چت په سلو کې پنځوس تخریب شوی، په مجموعي ډول هېڅ داسې ودانۍ نه شته، چې زیان یې نه وي زغملی. دغه راز د اوبو او برېښنا سیستم او هم د ټلېفون شبکه تقریباً په بشپړ ډول له منځه وړل شوي دي. د نجونو لیلیه چې پر ۱۳۵۷-۱۳۷۱کلونو په ډېر عصري سیستم او له اوسني نرخ سره د ملیونونو ډالرو په ارزښت او لګښت جوړه شوې وه، په بشپړ ډول سېزل شوې او تخریب شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنتون په مرکزي کتابتون کې د ۱۳۷۱ل کال په لومړيو کې (يوسلو پنځوس زره عنوانه) بېلابېل او په بېلابېلو ژبو علمي، ادبي، سياسي، تاريخي، هنري او نور مهم کتابونه موجود وو. پنځه سوه عنوانه علمي ژورناله، اووه زره عنوانه مونوګرافونه، تحقيقي رسالې او کتابونه (د افغانستان پېژندنې په برخه کې) د جرايدو او مجلو شپږ سوه کلکسيونونه د (ميرعماد) د اووه قلمه او اته رنګه قرآن کريم په ګډون دوه زره پنځه سوه خطي نسخې، د بهزاد ميناتوري اثار او نور موجود وو.

تر جګړو وروسته د کابل پوهنتون په مرکزي کتابتون کې يوازې شل زره عنوانه کتابونه پاتې وو او نور ټول يا لوټ شوي او يا د اور تر کومې تېر شوي دي.

د پوهنتون مرکزي کتابتون نه يوازې د استادانو او محصلينو لپاره يو څېړنيز مرکز و، بلکې له بهر څخه هم ځينې څېړونکي دې کتابتون ته د څېړنې لپاره راتلل. کابل پوهنتون چې د نړيوال ارزښت او اتوريتې درلودونکی دی او د يونسکو د پوهنتونونو په زرغون کتاب کې يې نوم ثبت دی، يو وخت د اتومي انرژۍ د څېړنو مرکز، د لمر د انرژۍ، د دارالامان د څېړنيز مرکز او د کتابونو د چاپ لپاره د مجهزې چاپخونې درلودونکی و، يو وخت يې ۱۴ عنوانه بېلابېلې مجلې چاپولې او تر ۱۳۷۱ل کال دمخه د استادانو تر ۱۲۰ عنوانو څخه زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

علمي او مسلکي درسي کتابونه په همدې چاپخونه کې چاپ شوي دي. (۱۳)

## ۲- د کابل طب انستيتيوت:

په کابل کې تر ۱۳۷۱ل کال وروسته د تنظيمي او خپلسرو جګړو په ترځ کې د هېواد زيات شمېر فرهنګي، اقتصادي او ټولنيزې موسسې ړنګې شوې.

د کابل طب انستيتيوت هم د دې جګړو له امله درانه زيانونه زغملي دي. د مالي زيان تر څنګ يې د علمي زيان خبره هم د زياتې اندېښنې وړ ده.

د جګړې په موده کې د محصلينو درسونه يا په نيمه او يا په بشپړ ډول ودرول شوي وو. که د محصلينو د شمېر په تناسب د درسي ساعتونو شمېر په پام کې ونيسو، نو په مجموعي توګه به نو موړي انستيتيوت ته شاوخوا لس مليونه درسي ساعتونه زيان اوښتی وي.

د طب انستيتيوت د هغه وخت، جنسي مدير ښاغلي محمد اصف وويل: (( سره له دې چې انستيتيوت ته د ټولو رسول شويو زيانونو دقيق شمېر خورا ګران کار دی، خو بيا هم په اټکليز ډول د زيانونو اندازه څه نا څه لګېدی شي. په انستيتيوت کې د پتالوژۍ، بيوشيمۍ، هستولوژۍ، فارمکولوژۍ، مکروبيالوژۍ، اناتومۍ، کيميا، فزيک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېپارټمنټونــه موجــود دي. دې ځــانګو خپــل خپــل مجهــز لابراتوارونه لرل، چې د طبي علومو پـه زيـاتو عصري وسايلو سمبال وو. دا لابراتوارونـه ټولـو وسايطو او وسايلو سره لـه منځـه وړل شـوي دي. د انسـتيتيوت فزيکـي سـاختمان او نـورو درسي خونو، وسايطو او وسايلو تـه درونـد زيـان اوښـتی دی. د ودانۍ په سلو کې ۳۰ برخې تخريب شوي دي، د اوبو او برېښـنا سيســتم يــې هــم ويجــاړ شــوی او د انســتيتيوت شــل عــرادې بېلابېل موټر غلا شوي دي. د قرطاسيې ډېپوګانې چور شـوي، ټول سمعي او بصري مـواد، لکـه د عکاسـۍ کمـرې، مايکونـه، پروجکټورونه، لوډسپيکرونه، علمي سينمايي فلمونـه، هنري سينمايي فلمونه، ټلويزيونونـه، ترانسـفرمرونه، ويډيوکيسـټې او داسې نور غـلا شـوي دي. سربېره پـر دې د انسـتيتيوت ډېره مجهزه چاپخونه (مطبعه) هم له منځه وړل شوې ده.))

د بيالوژۍ د څانګې يو سابقه لرونکي استاد وويـل: ((يـوازې زمـوږ د بيـالوژۍ څـانګې لـه لابراتـوارو څخـه يـې پـه لسـګونو ميکروســـکوپونه، د تســـليخ بکســـونه، د ميکروســـکوپ ګروپونـه، مختلـف تثبيـت شـوي سـلايډونه، ۵۰۰۰ دانـې سـاده سلايډونه، ۲۰۰ دانې درجه لرونکې استوانې، يخچالونـه او نـور وسايل چور او له منځه وړي دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انستیتیوت یو تن مسوول وویل: ((کېدی شي د انستیتیوت د بیا رغونې لپاره په لکونو ډالر په کار شي، خو د ټول زیان د دقیقې شمېرې اټکل او س ناشونی دی.))

بل دروند او نه جبرانېدونکی زیان، چې دې انستیتیوت ته اوښتی هغه د علمي او درسي کتابونو له منځه وړل دي. د کابل طب انستیتیوت یو ډېر مجهز کتابتون درلود. د نومړي کتابتون د هغه وخت امر ښاغلي غلام علي وویل: ((په دې کتابتون کې پنځوس زره عنوانه بېلابېل علمي کتابونه موجود وو، چې اکثره یې په انګلیسي ژبه وو، کله چې دلته د جګړې اور ولګېد، نو د کتابتون درې واړو منزلونو اور واخیست، زیات کتابونه په کې ایره شول، د طب انستیتیوت د ځینو کارکوونکو په هڅه او هاند یوازې ۲۰۰۰ عنوانه کتابونه له انستیتیوت څخه بهر یو خوندي ځای ته انتقال شول او د حالاتو په ښه کېدو سره بېرته راوړل شول. د انستیتیوت په کتابتون کې د دې انستیتیوت د استادانو هغه ۵۰۰۰ عنوانه علمي کتابونه هم موجود وو، چې دوی پر بېلابېلو وختونو د خپلو علمي ترفیعاتو لپاره لیکلي وو او دلته یې یوه یوه خطي نسخه موجوده وه. دا اثار هم د جګړې د طاعون ښکار شول.

په اټکلیز ډول ویلای شو، چې یوازې د کتابونو د مالي زیان له امله نومړي انستیتیوت ته په لکونو ډالره زیان اوښتی دی)). (۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳- د کابل پولیتخنیک انستیتیوت:

تر کابل پوهنتون وروسته د کابل طب انستیتیوت په شان د کابل پولیتخنیک هم د هېواد ستر علمي او روزنیز مرکز دی. تراوسه پورې دې انستیتوت په زرګونو کادرونه افغاني ټولنې ته وړاندې کړي دي. دا انستیتیوت د پخواني شوروي اتحاد په مالي لګښت جوړ شوی دی او تراوسه یې تحصیلي نصاب په همغه روسي سیستم روان دی.

د پولیتخنیک انستیتیوت ځلور بېلا بېل پوهنځي لري. د لیلیې د ودانیو ترڅنګ یو لوی جمنازیوم او یو لوی خوړنځای هم لري. د ودانیو او نورې ښکلا له پلوه د کابل پولیتخنیک تر کابل پوهنتون وروسته دویمه ستره اولویه تحصیلي موسسه ده.

کله چې جګړه پیل شوه، نو کابل پولیتخنیک هم ډېر زیات وخت د جګړې ډګر پاتې شو، په پولیتخنیک کې چې د نوموړې علمي مرکز څه شتمني وه، ټوله لوټ شوه، د انستیتوت پر ودانیو په زرګونو لویې او وړې مرمۍ راپرېوتې او د هرې ودانۍ سینې پرې سورۍ سورۍ شوې، د محصلینو د تطبیقاتو اکثره وسایل چې د ډېر زیات مالي ارزښت درلودونکي وو ټول یا چور او یا له منځه یوړل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پولیتخنیک مجهز کتابتون، چې په بېلابېلو ژبو ، په ځانګړي ډول په روسي ژبه په کې په لسګونو زره عنوانه بېلابېل علمي، تخنیکي او نور ډول ډول کتابونه موجود وو اکثره له منځه یوړل شول. د جګړې په اکثرو (تقریباً درې نیم کلونو ) کې کابل پولیتخنیک د محصلینو پر مخ تړلی پاتې شو. که د محصلینو د هرې ورځې درسي ساعتونه او د محصلینو شمېر په پام کې ونیسو ، نو په اټکلیز ډول کابل پولیتخنیک تر ۱۲ ملیونو درسي ساعتونو څخه زیات وخت ضایع کړی دی.

د کابل پولیتخنیک د ټول زیان معلومول هم څه ناڅه ناشونی ښکاري، خو څرنګه چې کابل پوهنتون ته رسېدلي خساره تر ۵۰ ملیونو ډالرو زیاته اټکل شوې وه، نو د کابل پولیتخنیک به هم ددې معادله او یا هم تر دې زیاته اټکل شي، ځکه چې په کابل پولیتخنیک کې د محصلینو د زده کړې لپاره ډېر زیات تخنیکي او انجنیري امکانات برابر شوي وو. سره له دې چې د کابل پوهنتون او کابل پولیتخنیک د ودانیو د بیا جوړونې لپاره پر ۱۳۷۵ل کال بیا کار پیل شو، خو بیا هم دا کار بشپړ نه شو او هغه وسایل او د زده کړې نور امکانات چې په دې مرکزونو کې وو د هغو بیا پوره کول ډېر وخت او غټ مالي امکان غواړي او ځینې برخې یې کېدی شي بیا هېڅ جوړې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴- د لوړو زده کړو نور مرکزونه:

پــر کابــل پوهنتــون، کابــل پولیتخنیــک او کابــل طــب انســتیتیوت سربېره پـه هېـواد کې د لـوړو زده کړو نـورې ګڼ شمېر موسسې هم موجودې وې، چې د ۱۳۷۱ل کال له ثور څخه د ۱۳۷۵ل کـال تـر میـزان پرلـه پسـې جګـړو یـو پـه بـل پسـې ړنګـې کـړې، لکـه څنګه چې دمخـه مو یادونـه وکـړه د لـوړو زده کـړو د نـورو موسسـو ترڅنـګ تـر پنځلسـو زیـاتو دارالمعلمینونـو هـم هېواد ته ښوونکي روزل.

پـه ملکي سـاحه کې د لـوړو زده کړو پـر مرکزونـو سربېره پـه عسکري ساحه کې هم هېواد داسې ستر مرکزونه درلـودل، چې پر خپل وخت د ځینو ګاونډیو هېوادونـو پـه ډلـه کې پـه لـومړي کتار کې ودرېدل.

حربي پوهنتون د خپل ټول عمر پـه بهیر کې پـه زرګونو صـاحب منصبان ټولنې تـه وړاندې کړي دي، خو کله چې پـه کابـل کې څلور نـیم کلنـه جګـړه پیـل شـوه، نـو حربي پوهنتون داسې یـوه ساحه وه، چې په دې ټولـه مـوده کې د جګـړې ډګـر پـاتې شـو. پـه زرګونـو زرګونـو درنـې او سـپکې ګـولۍ د حربـي پوهنتـون پـر سـینه ورتشـې شـوې. پـه نتیجـه کې د پوهنتـون ټولـې ودانـۍ یـا بشـپړې او یـا پـه نسـبي ډول ویجـاړې شـوې. د پوهنتـون درسـي خونې وسایل او وسایط ټول له یوې مخې تباه کړای شول. حربـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنتون په تحصیلي موسسو کې هغهستره موسسه ده، چې ډېر زیات زیان یې ګاللی دی، اوس د پوهنتون د بډایه کتابتون په ګډون هلته هېڅ شی پاتې نه دي. د حربي پوهنتون د درانه زیان د اندازې ټاکل خورا ګران کار دی، خو کله چې سړی د پوهنتون ودانیو، درسي خونو، د درس د نورو لوازمو او په مجموعي ډول د پوهنتون پخوانیو امکاناتو ته ګوري، نو تر سلو ملیونو ډالرو زیاته پانګه په کار ده، چې لږ تر لږه پوهنتون هغه پخواني حالت ته ورننږدې کړي.

د حربي پوهنتون ترڅنګ د هوايي او هوايي مدافعې پوهنتون هغه دویم ستر پوهنتون دی، چې د افغانستان د پوځ لپاره یې پیلوټان، تخنیکران او د هوايي مدافعې لپاره مسلکي پوځیان روزل. دا پوهنتون هم د امکاناتو، وسایلو او مسلکي کادرونو له پلوه په سیمه کې د خپل وخت یو نامتو پوهنتون و. پر ۱۳۷۱ل کال پر دې پوهنتون وبا خوره شوه. د پوهنتون د زده کړې وسایل او د تطبیقاتو ټول لوازم او امکانات له منځه یوووړل شول، ان د پوهنتون د ځینو ودانیو کړکۍ هم پاتې نه شوې؛ څه د توغندیو اور وسېزلې او څه هم د چور او تالان منګولو تباه کړې. د پوهنتون مجهز کتابتون هم چور او تالا شو.

ویل کېږي،یو وخت هوايي پوهنتون هر کال ۵۰ تنه پیلوټان فارغول، د هوايي پوځ د نورو برخو مسلکي کادرونه خو لا پر پرېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حربي پوهنتون په شان ددې پوهنتون زيان هم خورا درونډ دی. ځکه هغه وسايل او وسايط چې دغه پوهنتون د خپلو محصلينو د روزنې په مقصد د تطبيقاتو لپاره ايښي وو، هغو په خپله د مليونونو ډالرو ارزښت درلود.

که د پوهنتون د ودانيو، وسايلو، وسايطو، د محصلينو درسي لوازمو او د هغوی د تطبيقاتو درانه او سپک وسايل په پام کې ونيسو، نو د هغوی ټول مالي ارزښت تر دوه سوه مليونه ډالرو هم زياتېږي. ځينو کسانو ته کېدی شي دا اټکل زيات معلوم شي، خو که هغه ډول ډول الوتکې، توغندي او د هوايي پوځ نورې درنې وسلې چې محصلينو پرې تطبيقات کول او پر هغو باندې يې زده کړه کوله، په پام کې ونيسو نو يقيناً چې دا زيان به تر ياد شوي رقم هم لوړ شي.

د حربي پوهنتون تر څنګ د تخنيک اکاډمۍ موقعيت درلود، دې اکاډمۍ چې د تخنيک په بېلابېلو څانګو کې افسران او تخنيکران ټولنې ته وړاندې کول، هم د جګړې ګوزارونه وزغمل. پر دې ځای د جګړې سيوری تقريباً په څلور نيم کلنه موده کې د زيات وخت لپاره پاتې شو. په نتيجه کې هر څه چې په دې اکاډمۍ کې موجود وو يا په جګړه کې له منځه يوړل شول او يا هم چور او غلا شول.

د تخنيک پر اکاډمۍ سربېره په پوځي چارو کې يوه بله اکاډمي هم موجوده وه، چې د پوليسو او بيا يو وخت (د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځارندوی اکاډمۍ) په نامه یادېدله، دې اکاډمۍ د کورنیو چارو وزارت د مربوطو قطعاتو او نورو ځانګو لپاره مسلکي صاحب منصبان او کادرونه روزل.

دې اکاډمۍ د کابل د خوشال مېنې په سیمه کې موقعیت درلود او دا هغه سیمه وه، چې د نورو سیمو په شان د جګړې درونډ توپان پر همدې سیمه هم تېرېده راتېرېده. په نتیجه کې نه یوازې دا اکاډمي له خپلو زیاتو امکاناتو سره ویجاړه کړای شوه، بلکې په هغه سیمه کې چې نورې تحصیلي، تعلیمي موسسې وې هغه هم له منځه لاړې.

د کابل ښار د خوشال مېنې په ساحه کې (د ټولنیزو علومو انستیتیوت) موجود و. دا انستیتیوت د شپېتمو کلونو په بهیر کې ((د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند)) له خوا د خاصو اهدافو لپاره جوړ شوی و. تر څو کلونو وروسته بیا د ګوند له خوا لغوه شو. ټول محصلین یې په کابل پوهنتون کې جذب شول. خو له دې انستیتیوت څخه ډېرې ښکلې ودانۍ پاتې شوې. یو وخت بیا داسې راغی، چې په همدې ځای کې د ((وحدت حزب)) مرکز جوړ شو. بیا څو ځله دا سیمه لاس په لاس شوه او د انستیتیوت ودانۍ په کې زیانمنې شوې. خو بیا هم د هغې سیمې د نورو ودانیو په تناسب دا ودانۍ جوړې پاتې دي. د کابل په ده بوري سیمه کې (د اسلامي څېړنو مرکز) موقعیت درلود. دې مرکز د خپلو ګڼ شمېر علمي څېړنو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډو د جوړولو ترڅنګ يو ډېر مجهز کتابتون هم درلود. کله چې د کابل په دې سيمه کې ګرمه جګړه پيل شوه، نو دا مرکز له خپلو ټولو امکاناتو سره له منځه لاړ. د مرکز ودانۍ اوس داسې ړنګه شوې ته به وايې دلته هېڅ ودانۍ نه وه.

همدې علمي مرکز ته مخامخ د سيد جمال الدين افغان دارالمعلمين واقع و، چې ګڼ شمېر محصلين يې درلودل. ددې روزنځي ودانۍ اوس پر سينه پرته ده او د يوې لويې غميزې انځورګري کوي. دې دارالمعلمين چې هر څه لرل، سره له خپلو ټولو ځانګو، درسي موادو او نورو امکاناتو له منځه يوړل شول. د دې مرکز د ټولو ودانيو بيا جوړول مليونو ډالرو ته اړتيا لري.

تر سيد جمال الدين افغان دارالمعلمين يو څو کيلو متره وړاندې د دارالامان تاريخي ودانۍ ته نږدې د کابل د پيداګوژۍ انستيتيوت جوړ شوی و. دې انستيتيوت د ښوونې او روزنې د وزارت په چوکاټ کې فعاليت کاوه. د انستيتيوت ودانۍ په خوار ښکلې او لوکسه بڼه نوې جوړه شوې وه. دې انستيتيوت ګڼ شمېر ښوونکي ټولنې ته وړاندې کړي دي. د پښتو، دري، تاريخ ځانګو په ګډون يې يو شمېر نورې ځانګې هم درلودلې. هرې ځانګې ځانته يو ځانګړی کتابتون هم درلود. کله چې جګړه پيل شوه، نو ددې سيمې اکثره ودانۍ د درنو توغنديو تر ګوزارونو لاندې راغلې. اوس ددې سيمې اکثره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودانۍ پر سینه پرتې دي، یوازې ځینې سوي د پوالونه ولاړ ښکاري. څرنګه چې د پیداګوژۍ د انستیتیوت د پوالونه پاخه وو ، د خامه کورونو په پرتله پرې د توغندیو زور ډېر نه دی رسېدلی، خو بیا هم د دې علمي مرکز درسي خونو ، ودانیو او نورو امکاناتو ته دومره زیان رسېدلی، چې بیارغونه یې لکونو ډالرو ته اړتیا لري.

تر دې مرکز څو کیلومتره لرې د واصل اباد د غره په ډډه کې د کابل تخنیکم جوړ شوی و ، چې ښکلو او زړه وړونکو ودانیو یې د هغې سیمې ښکلا ډېره زیاته کړې وه. د دې تخنیکم یو وخت په کابل کې خپل ښه دوران، شان او شوکت درلود دا تخنیکم چې د پخواني شوروي په مالي لګښت او مرسته جوړ شوی و ، درسي سیستم یې د شوروي اتحاد تحصیلي سیستم تعقیباوه او زیات وخت یې درسي چارې د روسي مشاورینو او استادانو تر مستقیمې لارښوونې لاندې پرمخ وړل کېدلې. جګړې دا سیمه هم د کابل د غرب د نورو سیمو په شان ډېره زیاته وځپله.

کابل تخنیکم تر څوارلسم ټولګي پورې محصلین روزل او تر هغه وروسته یې کابل پوهنتون او کابل پولیتخنیک ته د نورې زده کړې لپاره معرفي کول. کابل تخنیکم یو ډېر بډایه کتابتون او مجهزه لیلیه درلوده. د جګړې په دوران کې د دې تخنیکم د درسي چارو ټول لوازم او وسایل له منځه یوړل شول. د تخنیکم ودانۍ په زرګونو درنو ګولیو وویشتل شوې او ټول تخنیکم پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنډوالو بدل کړای شو. د تخنیکم د بیا جوړونې لپاره ډېرو زیاتو پیسو ته اړتیا ده، چې کېدی شي په اټکلي ډول تر لسګونو ملیونو ډالرو واوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۳))

# د افغانستان د علومو اکاډمي

د افغانستان د علومو اکاډمۍ پر **۱۳۵۷**ل (۱۹۷۸م) کال د پښتو ټولنې، د تاریخ ټولنې، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز او د دایرة المعارف ټولنې څخه د هغه وخت د وزیرانو شورا په چوکاټ کې جوړه شوه.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ په ترکیب کې اکاډمیسنان، د کاډمیسنانو کاندیدان او افتخاري غړي شامل دي. د علومو اکاډمي د لاندنیو څلورګونو علمي رتبو لرونکې ده:

۱- د محقق مرستیال

۲- محقق

۳- د سرمحقق مرستیال

۴- سرمحقق

د علومو په بېلابېلو برخو کې د علمي څېړنو سرته رسول، په هېواد کې د ملي اقتصاد د پیاوړتیا او د فرهنګي بډاینې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقصد د اوږدې مودې علمي تحقیقاتو پرمخ بیول، د اوبو د سرچینو، خاورې، تودوخې، انرژۍ، منرالي موادو، اومو موادو او د نورو طبیعي منابعو څېړنه او ارزیابي کول، د زېرمو تاکنه او له هغو نه د اغېزمنې ګټې د لارو چارو لټول، په ملي اقتصاد کې د ډېرو نویو علمي تخنیکي لاسته راوړنو او پرمختګونو نه د ګټې د امکاناتو او لارو چارو لټول، د هېواد د اقتصادي، ټولنیزې ودې، د لنډې او اوږدې مودې د پلانونو جوړول او څېړنه، د هېواد د اقتصادي بنسټونو د پیاوړتیا او فرهنګي بډاینې په مقصد د اسلامي هدفونو په لاره کې فعالیت او ونډه اخیستل، په افغانستان کې د علم او پوهې د سطحې لوړوالی، د علومو په ډېرو سترو برخو کې د څېړنو تاکنه او رهبري کول، په هېواد کې د علمي او څېړنیزو چارو سمون، یووالی او د تجربه یي څېړنیزو مسالو د پرمخبیولو لپاره د مادي او تخنیکي امکاناتو د برابرولو په لاره کې هڅه او هاند د افغانستان د علومو اکاډمۍ ستر هدفونه دي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د همدغو هدفونو د پوره کولو لپاره کامیابي او بریمنې هڅې کړې دي. په کورنۍ کچه یې یو زیات شمېر څېړونکي او پوهان روزلي او د هغو د کار ثمرې یې ټولنې ته وړاندې کړې دي. یوازې د بشري علومو په برخه کې یې تر ۱۳۵۷ل کال پورې د کتابونو او رسالو په ګډون (دوه سوه پنځه شپېته پروژې) برابرې کړې دي. په کورنۍ سطحه یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسګونو لویې او وړې علمي او ادبي غونډې او سیمینارونه جوړ کړي او په لسګونو عنوانه بېلابېل څېړنیز، تاریخي، علمي او ادبي کتابونه، چې عمومي شمېر یې لکونو ټوکو ته رسېږي، په ډېره ښه بڼه او کچه چاپ او خپاره کړي دي. د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کورنۍ سطحه د هېواد د فرهنګ په بډاینه کې خپله ونډه اخیستې ده. د علومو اکاډمۍ ځینو غړو په نړیوالو سیمینارونو او غونډو کې د افغانستان نماینده ګي کړې او هلته یې د خپل هېواد علمي پرستیژ ساتلی دی. په خپله د علومو اکاډمۍ له خوا هم تر لسو زیات علمي نړیوال سیمینارونه او کنفرانسونه جوړ شوي چې د کوشانیانو په اړه، د پښتو د نړیوالو څېړنو د مرکز د لسمې کالیزې، د ابو علي سینا بلخي، خوشال خان خټک، امیر کروړ او ناصر خسرو بلخي نړیوال سیمینارونه د یادونې وړ دي. په دې سیمینارونو کې د نړۍ له نورو هېوادونو نه هم ګڼ شمېر پوهانو ګډون کړی و.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د خپلو علمي پروژو د چاپ او خپراوي ترڅنګ په بېلابېلو وختونو کې د آریانا، خراسان، کابل، پښتو، لرغونپوهنه، طبیعت او ځینې نورې مجلې هم خپرې کړې دي او د زېرې جریده هم. دغه راز یې په لسګونو خطي نسخې چې د اکاډمۍ لاسته ورغلي، بیا پرې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

څېړونکي کار کړی او چاپ شوي دي او په دې ډول يې له مرګه ژغورلي دي.

خو اوس راځو دېته چې ايا اکاډمي هم چا خپل کار ته پرېښوده؟ او که پر هغې يې هم د سکروټو او قهر اورونه وورول؟

کله چې پر ۱۳۷۱ل کال د يوې غميزې له پاسه بله غميزه راغله، نو د اکاډمۍ پر ودانيو هم لوی ناتار خور شو. د اکاډمۍ اکثره ودانيو ته درانه زيانونه واړول شول. د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز ودانۍ او د پښتو ژبې او ادبياتو، همدارنګه د کابل مجلې دفتر او يو شمېر نورې ادارې پر پوځي اډې واړول شوې. له کتابونو نه د سون د موادو په توګه کار واخيستل شو او د نوموړو مرکزونو زياتره علمي اثار او کړي کارونه له منځه يوړل شول. د علومو اکاډمۍ د خپلو ادارو ترڅنګ د کتاب ساتنې او کتاب پلورنې مرکزونه هم درلودل. ټول هغه کتابونه چې په کتاب ساتنځايونو او کتاب پلورنځيو کې موجود وو، هغه يا چور شول او يا له منځه لاړل. د علومو اکاډمۍ په هغو ودانيو کې چې پوځي چونۍ جوړې شوې وې کتابونه د هغو د ملېشو د ډوډۍ پخولو لپاره د سون مواد ګرځېدلي وو. هغوی به يو لوی دېګ اېښی و او يو يو کتاب به يې تر دېګ لاندې لمبو ته غورځاوه. کله چې د کتابونو زېرمې پای ته ورسېدې بيا نو د ودانيو پر کړکيو او دروازو پيل وشو. وايي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان مشهور عالم مرحوم دوست شینواري د کتابونو د سون همداسې یو حالت ولید. هغه د خپل عمر یو مهم څېړنیز کار پسې د علومو اکاډمۍ ته تللی و. هغه کار پسې دی ډېر سرګردانه شوی و او د ده د کلونو د زیار پایله وه، کله چې دی خپل دفتر ته ورننوتې شو، نو ګوري چې یو ټوپکي د ده د پروژې د کړي کار او کتاب یوه یوه پاڼه راشکوي او د اور کومې ته یې ګوزاروي. کله چې ده ټوپکی له دې کار څخه منع کولو ته دعوت کړ، نو هغه په تونده ژبه له دې ځایه ده ته د وتلو امر وکړ او ستغې سپورې خبرې یې هم ورپسې زیاتې کړې. کله چې دوست صیب له داسې یوې صحنې سره مخامخ شو، نو تاب یې رانه وړ، زړه کې یې یو تاو پیدا شو او کله چې کور ته لاړ څو شپې روغ و بیا پرې د زړه یوه حمله راغله، تر روغتون پورې یې ساه یوړه، خو بیا یې بېرته تر خپل کور او دفتره رنې سترګې رانه وړې.

پر یو شمېر نورو لیکوالو هم د زړه حملې راغلې او ډول ډول کړاوونو یې د ژوند ستوني او لاسونه ومروړل.

په دې ډول د اکاډمۍ په زرګونو ټوکه کتابونه او په لسګونو عنوانه پروژې، خطي نسخې او تر لاس لاندې کړي او کېدونکي کارونه له منځه یوړل شول. (**۱۵**)

د علومو اکاډمۍ مرکزي کتابتون سره له دې چې له فزیکي پلوه روغ ښکاري، خو بیا هم ځینې مهم کتابونه او خطي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسخې يې په بازارونو کې ليدل شوې دي. د علومو اکاډمۍ د ټولو څېړونکو څېړنيزې پروژې او نور علمي کارونه تقريباً د ځلورو کلونو په واټن کې پر ټيپه ودرېدل. د کتابونو او ودانيو د فزيکي زيان د محاسبې له مخې نو موږ اکاډمۍ ته په مليونونو ډالره زيان اړول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۴))

# دولتي فرهنګي ټولنې

تر **۱۳۵۹**ل کال وروسته په کابل ښار کې د دولت په چوکاټ کې او د دولت د مالي لګښت په مرسته يو شمېر فرهنګي ټولنې منځته راغلې. د ژورناليستانو، ليکوالو او هنرمندانو ټولنې هغه درې ټولنې وې، چې په دولتي فرهنګي فعاليتونو کې ډېرې زياتې مطرح او د خپل ټول ژوند په اوږدو کې يې ګڼ شمېر علمي او هنري غونډې او سيمينارونه جوړ کړي او هم يې ګڼ شمېر کتابونه خپاره کړي دي. دې هرې ټولنې ځانته يو خپرنی ارګان او نور نشرات درلودل. د ژورناليستانو اتحاديې د (سباوون)) په نوم يوه ذوقي، هنري او ادبي مياشتنۍ مصوره مجله خپروله، د هنرمندانو اتحاديې هم د ((هنر)) په نوم يوه ځانګړې مجله خپروله او هم يې د هنرمندانو لپاره بېلابېل هنري انجمنونه جوړ کړي وو. کله چې په کابل کې جګړه پيل شوه، نو په دې ټولو خواوو زلزله خوره شوه، اکثره ليکوالو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هنرمندانو د جګړې، اقتصادي ستونزو او نورو کړاوونو له کبله کابل پرېښود. ددې انجمنونو د فعالیت ساحه ورځ پر ورځ تنګېدله، په نتیجه کې یې د کار ساحه ډېره محدوده او بیا وروسته ببخي له منځه یوړل شوه. ددې انجمنونو د مانیز زیان ترڅنګ د هغو د ودانیو فزیکي زیان هم د زیاتې اندېښنې وړ دی.

د افغانستان د ژورنالستانو اتحادیه، چې د افغانستان بانک سره متصل موقعیت لري، د څو توغندیو اور ورته وررسېدلی، د اتحادیې دوه پوړیزه ودانۍ سخته ویجاړه شوې، د اتحادیې د کنفرانسونو او سیمینارونو تالار، چې په ډېره ښکلې بڼه او د ټولو امکاناتو او وسایلو په درلودلو سره جوړ شوی و، ببخي له منځه وړل شوی. د ودانۍ دویم پوړ ته هم درانه زیانونه اړول شوي او هم د دفترونو اکثره وسایل او وسایط غلا شوي، د ودانۍ نورې برخې ته هم زیات زیان اړول شوی دی. اوس نو که څوک وغواړي، چې دا ودانۍ بېرته همغه لومړني شکل ته واړوي، نو تر یو ملیون ډالرو زیات لګښت ته په کې اړتیا شته. د هنرمندانو اتحادیې ته، چې په وزیرمحمداکبرخان مېنه کې یې موقعیت درلود، هم د توغندیو د لګېدو له امله زیان وراړول شوی دی. دغه راز د نومورو اتحادیو هغه وسایط هم غلا شوي، چې دې انجمنونو پخوا درلودل او بیه یې سلګونو ملیونو افغانیو ته رسېږي. د دفترونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وسايلو ترڅنګ د نوموړو انجمنونو هغه شمېر کتابونه او نور نشرات، چې دې انجمنونو وخت پر وخت خپاره کړي وو ، هم يا چور او يا هم وسېزل شول. يو شمېر نور مهم اثار چې تراوسه يې لا د تبليغ، نشر او خپرېدو امکان نه و پيدا کړی، هم تباه کړای شول. دلته به د ليکوالو انجمن برخليک د دې ډول انجمنونو د بېلګې په توګه لږ په تفصيل سره تر څېړنې لاندې ونيسو:

## د افغانستان د ليکوالو ټولنه:

د افغانستان د ليکوالو ټولنه پر ۱۳۵۹ل کال د هغه وخت د دولت په چوکاټ کې د يو ټولنيز فرهنګي سازمان په توګه جوړه شوه. د ليکوالو انجمن تر ۱۳۷۱ل کال پورې ښه په خلاص مټ او زغرده توګه د يادونې وړ کارونه ترسره کړل.

په ياده شوې موده کې د ليکوالو انجمن له خوا تر سلو زياتې لويې او وړې علمي، ادبي او هنري غونډې جوړې شوې دي. دې ټولنې د خپلو فرهنګي کارونو د لا ښه سمبالښت لپاره په ځينو ولايتونو او هم د کابل ښار په بېلابېلو موسسو او علمي مرکزونو کې خپلې او د ځوانانو د ادبي انجمن څانګې پرانيستې وې.

له ۱۳۵۹-۱۳۷۱ کال پورې د ليکوالو انجمن په پښتو او دري ژبو په ټوليز ډول تر ۱۵۰ عنوانو څخه زيات علمي، ادبي، تاريخي او هنري کتابونه چاپ کړي او هم يې په پښتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فارسي ژبو د ((ژوندون)) ځانګړې ادبي مجله او د ((قلم)) په نوم ادبي جريده له خپل مهالو پښ سره سم په ډېره ښه علمي او طباعتي کچه خپرې کړې دي.

د ليکوالو ټولنې د خپرو شوو اثارو عمومي شمېر (۲۵۰۰۰) ټوکو په شاوخوا کې دی. له ياد شوي رقم څخه (۱۵۰۰۰) ټوکه کتابونه د نوموړي انجمن د کتاب ساتنې په زېرمه ځايونو او هم په کتابتونو او کتاب پلورنځيو کې خوندي وو. د ۱۳۷۱ ل کال د ثور مياشتې تر لومړۍ لسيزې وروسته چې په کابل ښار کې کوم جنګونه پيل شول، نو دا کتابونه ټول يا چور او يا وسېزل شول.

زما د خپلو سترګو ليدلی حال دی؛ تر ياد شوي تاريخ څخه وروسته زه يوه ورځ د ليکوالو انجمن ته ورغلم، د ليکوالو په انجمن کې يوه پوځي اډه جوړه شوې وه.

د انجمن ټولې څوکۍ، مېزونه او د دفترونو نور وسايل مات او چور شوي وو؛ کتابونه له الماريو څخه راغورځول شوي او په خونو کې ډېرې پراته وو. د ځينو کوټو بامونه سوري شوي وو او د باران او به همدا سې د ننه په خونو کې پر کتابونو څڅېدلې.

له کتابونو څخه لږ څه لرې هلته په کوچنۍ کوټه کې يو نسبتاً لوی ديګی ايښودل شوی و. دا هغه ديګی و، چې تنظيمیانو ته په کې غرمنۍ او ماښامنۍ تيارېدله. د ديګي تر څنګ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسگونو کتابونه، لکه د ښتو په څېر سر پر سر ايښودل شوي وو او يو يو تر د ېکي لاندې د سرو لمبو خولې ته اچول کېده.

ښه مې په ياد دي، يوه ورځ له يوه استاد سره د ليکوالو انجمن ته لاړم، له يو څه وېرې سره سره د ليکوالو انجمن ته وردننه شوو. استاد نېغ په نېغه هغې خونې ته ورغی، چې کتابونه په کې ايښودل شوي وو. هغه د خپل درې کلن زيار (خپل کتاب) د پلټلو او ميندلو په خاطر هغې خونې ته ورغی. هغه د خاورو او دوړو له منځه خپل نازولی اولاد (کتاب) راوېست، په خپل زنگانه يې وواهه او ويې ځانده، دوړې او گردونه ترې لاړل، په خپل کتاب يې د ليدو مينه نه وه ماته شوې ځکه چې هغه نوی چاپ شوی و او تراوسه يې لا د بازار سترگې هم نه وې ليدلې. دواړه له خونې راووتو. استاد د خپل اثر څو جلده نور هم راواخيستل، ما ته يې وويل دا به هم واخلو، چې له مرگه بچ شي. کله چې له دې خونې راووتو، نو د يو ټوپکوال سترگې رابانديې ولگېدې له ((چيس چيس؟)) اواز سره يې رابانديې غږ وکړ او بيا يې د لاس په اشاره د ځان خواته وغوښتو. کله چې يې د استاد په لاس کې کتابونه وليدل، نو وې ويل: ((چيست ده بغلت؟)) له دې سره يې لاس را اوږد کړ او د استاد له لاسه يې د هغه (اولادونه) واخيستل. يو څوگامه وړاندې تر تور د ېکي لاندې سرې لمبې بيا په مستۍ راغلې او دا کتابونه يې هم ددې لمبو غېږې ته گوزار کړل. استاد ما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکتل او ما هغه ته. په سترګو کې یې د قهر او نهیلۍ لمبې تاوې شوې، خپل تندی یې د لاس په دوو ګوتو ټینګ کېکاږه او دواړه په یوې درد بدلې چوپتیا له انجمنه ووتو.

تر هغه وروسته زه بیا هم څو ځلې انجمن ته لاړم، خو یوازې پر همهغه تور دېګي او سرو لمبو مې سترګې لګېدې، چې یوه ګړۍ هم له نغري څخه نه کښېته کېده.

یوه ورځ مې سوچ وکړ داسې یو څوک پیدا کړم، چې د دوی په ژبه پوه وي، په خوی او بوی یې بلد وي او په یوه کاسه یې ورسره ډوډۍ خوړلې وي، خو په پای کې مې داسې یو څوک پیدا کړ، له هغه سره یو ځای انجمن ته لاړم، غرمه رانږدې وه، یو ځل بیا مې پر دېګي سترګې ولګېدې، د لمبو غورس ترې پورته کېده، یو تن یې تر څنګ ناست و، یو یو کتاب یې نیمایي کاوه او بیا یې تر دېګي لاندې د اور کومې ته اچوه. کله چې پر موږ د پوستې د قوماندان سترګې ولګېدې، نو زما د همځنګ په لیدو ډېر خوشاله شو او تر سلام دمخه یې وار له واره وویل: ((کجا استی بادار؟ درکایت نیس، مرا تنا ماندی تو رفتی چکرایته میزنی؟)). ((قوماندان)) د خولې مزې نور هم سستول، خو زما د همځنګ په اشاره یې ځان کنټرول کړ. تر دې خبرو وروسته لومړی زما همځنګ او بیا ما ورسره روغبړ وکړ. بیا هغه دننه خونې ته وبللو، دا هغه خونه وه چې پخوا په کې (د افغانستان د لیکوالو د انجمن رئیس) د کار دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

و. څوکۍ، مېزونه ټول مات او کړوپ شوي وو، له دفتر څخه فرش ټول شوی و او کوچونه په برچو سوري شوي وو، په خونه کې څو تنه نور هم ناست وو، د کوټې د متن په ځینو ځایونو کې د نسوارو شین رنګ له ورایه څرګندېده، په فضا کې د چرسو او سګرټو لوګیو او بوی خپلې حلقې جوړې کړې وې. زموږ له ناستې سره سم زما همځنګ (( قوماندان صاحب )) ته زما د مشکل یادونه وکړه.

بیا ((قوماندان صاحب)) مخ را واړاوه او د خپلې ((ځوانۍ په شنګ)) یې راته وویل: (( برو بیادر تمام تامیرا در خدمتت است هر قدر که پالیدی از تو باشه، پیش چرا نامدی که به کتابا سیرت میکدم حالا خو چیزی نه مانده باشه. از روزیکه ما امدیم، بچه ها سرش دیگ پخته میکنه )).

کله چې زه د خپلې شعري مجموعې په لټه کې شوم او هغو خونو ته لاړم، چې پخوا په کې د کتابونو ګودام و، هېڅ شی مې هم په نظر رانغلل، یوازې څو ګردجنې پاڼې مې ولیدې، چې په هره خونه کې تیت و پرکې پرتې وې. دا و د لیکوالو د انجمن د کتابونو په باب زما د سترګو لیدلی حال.

د افغانستان د لیکوالو انجمن پر خپلو چاپ شویو کتابونو سربېره یو بل ډېر مجهز او بډایه کتابتون هم درلود، چې خپله انجمن په مقر کې جوړ شوی و. په ټولیزه توګه په دغه کتابتون کې په بېلابېلو کورنیو او بهرنیو ژبو د (۳۰۰۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوانو پـه شـاوخوا کـې ډېـر ګټـور او مهـم علمـي، ادبـي، تاريخي، سياسي او هنري کتابونه موجود وو. دا کتـابتون هـم له خپلو ټولو وسايلو سره له منځه وړل شوی دی.

ددې کتـابونو د مـانيز زيـان او ارزښت د حد ټاکـل ناشـونی کـار دی، خـو لـه مـالي پلـوه کـه د هـر يـو ټـوک کتـاب بيـه دوه امريکـايي ډالـره اټکـل کـړو، نـو د ليکوالـو انجمـن پـه کتـاب ساتنځايونو کـې د (۱۵۰۰۰۰) ټوکـو کتـابونو مـالي لګښـت بـه (۳۰۰۰۰۰) امريکـايي ډالـره شـي. دغـه راز د ليکوالـو انجمـن د مطالعې په کتابتون کې چې په بېلا بېلو برخو کې د بېلا بېلو ژبـو (۳۰۰۰) عنوانـه کتابونـه موجـود وو کـه پـه اوسـط ډول د کتـابتون لـه نـورو وسـايلو سـره يوځـای د هـر کتـاب بيـه (۸) امريکـايي ډالـره اټکـل کـړو، نـو (۲۴۰۰۰) ډالـره بـه شـي. پـه دې ډول به په ټوليز ډول ددې کتابونو مـالي زيـان (۳۲۴۰۰۰) ډالـره شي. دغـه راز د ليکوالـو انجمـن دربـو ودانيـو او د هغـو ټولـو لوازمـو تـه هـم درانـه فزيکـي زيانونـه اړول شـوي، چـې بيـا جوړونـه يـې لکونـه ډالـر اټکـل کېـدی شـي. سـربېره پـر دې د ټولنې مهالنۍ خپرونې هم زيـانمنې شـوې دي. تـر ۱۳۷۱ل کـال وروسته د ((قلم)) جريدې او د ((ژوندون)) مجلې د ګوتـو پـه شمار ګڼې خپرې شوې او يـو وخـت لا داسې هـم راغـی چـې دا ټولې خپرونې پر ټپه ودرېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ((۵))

# خپلواکې فرهنګي ټولنې

د ۱۳۶۵-۱۳۷۰ کلونو په موده کې په کابل کې واکمنو هڅه وکړه، چې د دیموکراسۍ تمثیل وکړي. په همدې وجه یې یو لړ ازادو(!) سیاسي سازمانونو او ټولنو ته د فعالیت اجازه ورکړه.

په کابل کې یو شمېر فرهنګي ټولنې جوړې شوې، دا ټولنې ظاهراً خپلواکې ښکارېدلې، خو داسې نښې نښانې هم څرګندې شوې وې، چې له دې ټولنو څخه یې له ځینو ځانګړو دولتي ادارو سره لارې درلودې.

په دې فرهنګي ټولنو کې د ناصر خسرو بلخي، هرات باستان، حکیم سنایي غزنوي، انجمن فرهنګي امیر علي شیر نوایي، انجمن دوستداران مولانا او یو کم شمېر نورې فرهنګي ټولنې شاملې وې. دې ټولنو اکثرو خپل نشراتي ارګانونه درلودل او ددې ترڅنګ یې ځانګړي علمي او فرهنګي اثار هم خپرول. یو شمېر غونډې، فرهنګي او علمي سیمینارونه یې جوړول. د ناصر خسرو بلخي انجمن د (حجت)، د دوستداران

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولانا جلال الدين بلخي انجمن د (نای) په نوم او ځینو نورو انجمنونو په نورو نومونو مجلې خپرولې. د پورتنیو یادو شویو ټولنو اکثره کار دري ژبې او ادب ته وقف شوی و.

وروسته بیا په کابل کې یو شمېر فرهنګي اشخاصو دا وپتېیله، دا سې یوه ټولنه جوړه کړي، چې افغاني فرهنګ ته هم ستر خدمتونه وکړي. په همدې وجه یې د ۱۳۶۹ل کال د لړم پر ۲۵مه نېټه د کابل د انټرکانټیننتال هوټل په تالار کې د یوې درنې غونډې په ترڅ کې (د خوشال فرهنګي ټولنه) جوړه کړه. په پیل کې ۸۰ تنو فرهنګیانو، چې د هېواد له بېلابېلو قومونو، بېلابېلو سیمو او د بېلابېلو مسلکونو استازیتوب یې کاوه د بنسټ ایښودونکو په توګه دا ټولنه جوړه کړه. وروسته بیا نور فرهنګیان په ډله ییز او انفرادي ډول د ټولنې غړي شول، چې شمېر یې سلګونو ته رسېده. خوشال فرهنګي ټولنې د یو کال ۱۳۶۹ عقرب- ۱۳۷۰ کب پورې تر لسو زیات علمي او ادبي سیمینارونه او محفلونه جوړ کړل او ۴ عنوانه بېلابېل ادبي او علمي کتابونه یې چاپ کړل.

کله چې پر ۱۳۷۱ل کال په کابل کې جګړې پیل شوې، نو د هېواد د نورو فرهنګي مرکزونو په شان دا ټولنې هم پوپناه شوې. نه یوازې دا چې د ټولنو د فعالیت ساحه له منځه لاړه، بلکې د دې اکثرو ټولنو ټول دفتري امکانات او شتمني هم له منځه یوړل شوه. د دغو ټولنو له جملې څخه د خوشال فرهنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې دفتر چې د کابل ننداري په سیمه کې یې موقعیت درلود ، له ټولو وسایلو سره چور او رنګ کړای شو. د خوشال فرهنګي ټولنې ترڅنګ د علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنې هم پر فعالیت پیل وکړ ، چې هغې هم په کابل کې د جګړو له امله نور فعالیت ونه کړای شو. پورتنۍ یادې شوې ټولنې د جګړې له امله ټولې له سقوط سره مخامخ شوې، خو یوازې خوشال فرهنګي ټولنې او د سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنې وکولای شول په پېښور کې خپلو خپرونو ته دوام ورکړي او بیا خپلې خپرونې په کابل کې پر لیکوالو او فرهنګیانو وویشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۲))

# ننداري يا سينماوې

د تېرو شلو کلونو په بهير کې په ځانګړي ډول هغه وخت، چې جګړه لا له غرونو، رغونو، کليو او بانډو څخه د ښارونو زړونو ته نه وه ننوتلې، د هېواد په لويو ښارونو په تېره په کابل ښار کې سينماوې ښه په ګرمه توګه چلېدې، هندي فلمونو او نورو جنګي امريکايي او اروپايي فلمونو د سينماګانو بازارونه ښه تاوده کړي وو. هره ورځ تقريباً دوه ځله او کله هم درې ځله سينماوې چلېدلې. په دې ډول له يوې خوا د نندارچيانو ذوقونه خړوبول او له بلې خوا يې عايدات هم درلودل. دا چې دې سينماګانو د هېواد د ځوان پښت او نورو نندارچيانو د ذهن په روزلو کې کوم ډول رول ترسره کړی دی، په دې باب کېدی شي مختلف نظرونه او فکرونه موجود وي. ځينې اشخاص وايي چې په دې سينماګانو کې داسې فلمونه ننداري ته وړاندې کېدل، چې هغو زموږ له ملي کلتور او اسلامي عقيدې سره سمون نه درلود او د هغو خلاف بهير کې يې برخه اخيسته. دغه راز ځينې نور بيا په دې نظر دي، چې دا فلمونه که هر ډول وو او هر څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو ، ښېګڼې او بدګڼې يې دوا ړه درلودلې، خو ځينې فلمونه يې د ستاينې وړ وو. په مجموعي ډول ويل کېدی شي، چې په افغانستان کې سينماګانو د هېواد د ځوان پښت او په مجموعي ډول د ټولو نندارچيانو د ذهني سطحې او ذوق د اوچتولو په لاره کې مثبت ګامونه پورته کړي او هغوی يې له نړيوال کلتور، تمدن، پرمختيا او نويو پرمختګونو سره اشنا کړي او هم د هنر او تخنيک بېلابېل ډولونه يې هغوی ته ورښودلي دي.

دا خو د سينماګانو د معنوي رول او د هغو د اغېز په باب د نظر د اختلافونو خبره وه، خو اوس راځو دې ته چې همدا سينماوې هم چا خپل مثبت او يا منفي پدل ته پرېښودې او که نه؟ په خواشينۍ سره بايد ووايم، پر دې فرهنګي مرکزونو هم ناترسه ګوزارونه وشول. د يادونې وړ ده، چې په افغانستان کې خصوصاً په کابل ښار کې سينماګانې په دومره عصري او اساسي توګه جوړې شوې وې، چې فزيکي جوړښت يې د هغه وخت له لسګونو مليونو افغانيو او د اوس وخت له لکونو ډالرو سره معادل دی.

يوازې په کابل ښار کې ۱۲ سينماوې موجودې وې، چې له هغې جملې څخه د کابل ننداري، ميوند ، فرخي، بهزاد ، بريکوټ، اريانا ، ميرويس ميدان سينماوې يا په بشپړ ډول او يا هم په سلو کې ۹۰ برخې له منځه وړل شوې دي، نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینماګانو، لکه پامیر، بهارستان، اریوب، باختر ننداري، زینب، پارک، ملي، د خیرخانې سینما او تیمورشاهي په قسمي ډول زیانمنې شوې دي. که دغو ټولو سینماګانو او سنی بنې ته څوک وګوري او یا وغواړي ببرته یې په همغه لومړني شکل له سره جوړې کړي، نو د اټکل له مخې به له پنځه ملیونه ډالرو څخه تر لسو ملیونو ډالرو پورې لګښت پرې راشي. دا چې د څو کلونو جګړو او نورو فکري او ذوقي سانسورونو په وجه دا سینماوې له کتې څخه لوېدلي دا خو نو بل درووند مالي زیان دی، چې دا هم تر لکونو ډالرو اوړي، دا چې دې سینماوو به دهنر په برخه کې څومره معنوي خدمتونه کړي وای، دا خو بل معنوي زیان دی.

د کابل ښار پر سینماوو سربېره د هېواد په ځینو ولایتونو، لکه: کندهار، ننګرهار، هرات، هلمند، مزار، لغمان او نورو ولایتونو کې هم یو شمېر سینماوې موجودې وې، چې هغه هم پر همدې برخلیک اخته کړای شوي. دغه راز په کابل ښار کې له تجارتي سینماګانو پرته یو شمېر نورو دولتي ارګانونو داسې ودانۍ درلودلې، چې هغوی د سینما او غونډو لوی لوی تالارونه لرل، چې هم د دولتي او رسمي غونډو لپاره کار ورڅخه اخیستل کېده او هم د هنري، علمي فلمونو د ننداري او د غونډو د جوړولو لپاره مناسب ځایونه وو. لکه د استقلال، اماني، خوشال خان لیسې د غونډو تالارونه، چې د سینما او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلم پوره وسایل یې درلودل او یا هم د ځینو وزارتونو او دولتي ادارو سالونونه او د کنفرانسونو خونې، چې اوس اکثره یا په بشپړډول ویجاړ کړای شوي او یا یې زیاته برخه له ټولو وسایلو او وسایطو سره له منځه وړل شوې ده. که ددې ډول تالارونو او سالونونو ټول مالي لګښت په پام کې ونیسو، نو تر لسګونو ملیونو ډالرو هم اوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ((۷))
# ملي موزيم او نور موزيمونه

((کابل موزيم چې وروسته د افغانستان ملي موزيم وبلل شو د لومړي ځل لپاره پر ۱۲۹۷هـ ش کې د باغ بالا په ماڼۍ کې په موقتي ډول تاسيس شو او هغه وخت يې د ((عجايب خانې)) په نوم ياد کړ. ځينې حربي وسايل، د جهاد بيرغونه، لاسي کارونه د کور ځينې انتيک شيان، تزيني الات، دولتي يادګاري اثار، تفسير شريفونه او ځينې خطي نسخې د ننداري لپاره په کې کېښودل شول)) (۱۷)

د وخت په تېرېدو سره موزيم دارالامان ته نقل شو او د موزيم کلکسيون د لرغونپوهنې د علمي ګروپونو پر بنسټ، چې د ۱۹۲۲م کال تر سپتمبر وروسته د يوې ډپلوماتيکې معاهدې له مخې د فرانسويانو په مرسته پيل شوې، لا بډای شو. له فرانسويانو سره دا ګډه موسسه د DAFA (په افغانستان کې د فرانسې د لرغونپوهنې هئيت) په نامه وپېژندل شوه. تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته يو زيات شمېر کيندنې د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونو لـه خـوا ، چـې ایټالیـا ، امریکـا ، جاپـان، بریتانیـا ، هندوستان او شوروي هم په کې شامل وو ، تر سره شوې، خو د افغانانو تر لارښوونې لاندې لومړنۍ کیندنه په ((هډه)) کې پر ۱۹۲۵م کال ترسره شوه.

د وخت پـه تېرېدو سره زیـات شمېر اثـار کشف او د کابـل موزیم ته راوړل شول. دلته په لنډیز سره د موزیم د ځینو اثارو پر څرنګوالي خبرې کوو:

| د فرهنګي دورې نوم | د څېړونکي نوم | د سیمې نوم |
|---|---|---|
| ۵۰ زره کالـه وړانـدې زمانـه د پخوانۍ ډبرې منځنۍ دوره | لویس دوپرې | دادل دره |
| ۳۰ زره کالـــه وړانـــدې د پخوانۍ ډبرې پورتنۍ دوره | کـــارلتون، س، کون | قمره کمر |
| د کـوپرک دوره (محلـي نـوم) لــه ۲۰ څخـــه تـــر ۱۱ زره کالــه وړاندې زمانه | لویس دوپرې | اق کپرک |
| لـه ۱۱ زرو څخـه تـر ۷ زره کالـه وړانـدې زمانـه د نـوې ډبـرې دوره | لویس دوپرې | اق کپرک |
| د ۲ زره کالـه ق م زمانـه د نوې ډبرې دوره | لویس دوپرې | کور دره |
| له ۳ زره څخه تر یو زر کالـه ق م زمانه د برونز عصر | لویس دوپرې | اق کپرک |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| له ۳ زره څخه تر یو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | D.A.F.A | منديګک |
| له ۳ زره څخه تر یو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | D.A.F.A | ناد علي |
| له ۳ زره څخه تر یو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | لویس دوپرې | د موراسي غونډۍ |
| له ۳ زره څخه تر یو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | لویس دوپرې | شمشېر غار |
| له ۳ زره څخه تر یو زر ق م زمانه د اوسپنې عصر | لویس دوپرې | اق کپرک |
| له ۶-۴ ق م پېړۍ پورې د هخامنشي دوره | تصادفي | حضوري چمن |
| له ۴-۳ م پېړۍ پورې باختري دوره | D.A.F.A | آی خانم |
| له ۲-۱ م پېړۍ پورې هندو یوناني دوره | تصادفي | میرزکه ګردېز |
| له ۱-۳ میلادي پېړۍ د یونان- کوشاني دوره | D.A.F.A | بګرام |
| له ۱-۳ میلادي پېړۍ د یونان- کوشاني دوره | D.A.F.A | سور کوتل |
| له ۱-۳میلادي پېړۍ پورې د یونان کوشاني دوره | تصادفی | شترک او پایتاوه |
| له ۱-۳میلادي پېړۍ پورې د یونان کوشاني دوره | D.A.F.A | چم قلعه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| لـه ۱-۳ مـيلادي پېـړۍ پـورې د يونان کوشاني دوره | D.A.F.A | باميان |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | هډه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | باميان |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | شترک او پايتاوه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | مرنجان تپه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | قول نادر |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | تصادفی | مرنجان تپه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | تصادفی | سرای خواجه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | د لرغونپوهنې انستيتوت | خم ازگر |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | جاپاني لرغونپوهان | درمان تپه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | کم داقا |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | کهنه مسجد |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | تپه کلان |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او يفتلي دوره | D.A.F.A | فندوقستان |
| له ۸-۹ م پېړۍ پورې | تصادفي | ګردېز |
| د هندوشاهي دوره | تصادفي | تګاب |
| له ۱۵ پېړۍ څخه تراوسه | ISMEO | غزني |
| د اسلامي دورې اثار | D.A.F.A | لښکرګاه |
| د اسلامي دورې اثار | D.A.F.A | غلغلې ښار(۱۸) |

له کابل موزيم وروسته د موزيمونو د سيستم په پام کې نيولو سره برابر شوي و ؛ د نورو اثارو ترڅنګ (( د موزيم په چوکاټ کې د مسکوکاتو يوه خونه وه ، چې په هغې کې ټولې سکې او فلزي پيسې چې په اتفاقي توګه پيدا شوې او يا د حفرياتو په جريان کې لاس ته راغلې او موزيم ته وړاندې شوې وې. د بېلګې په توګه له خزينهء امو څخه ۱۵۰۰ سکې، چې په هخامنشي دورې پورې مربوطې ګڼل شوې دي، له بلخ څخه ۱۷۰ يوناني سکې، چې پر ۱۹۲۲کال کشف شوې او اړوند تاريخ يې ۳۸۰ق.م پېړۍ ټاکل شوی و. د حضوري چمن خزانه، چې له يو زر سکو څخه يې ۱۱۵ سکې د شلمبرژه فرانسوي لرغونپوه له خوا څېړل شوې وې او تاريخ يې څه ناڅه څلور سوه کاله ق.م ټاکل شوی و. د خوګيانو د ولسوالۍ له پنځوسو سکو څخه چې فقط ۱۲ سکې موزيم ته انتقال شوې هم په څلورمه ق. م پېړۍ پورې مربوطې ګڼل شوې وې. له ميرزکې څخه لږ تر لږه يو ولس

(c) ketabton.com: The Digital Library

زره سکې پر ۱۹۴۷م کال پیدا شوې، چې په هغو کې پنځوس محدبې، ۵۲۳ سکې سایفیټې، ۴۸۴ سکې نقره یي، ۲۰۱۲ سکې یوناني، نور باختري درهمونه، ۳۳۳۵ ساکي درهمونه وو او همدا شان له بګرام څخه لږ تر لږه ۳۰۰۰ بېلا بېلې سکې چې پر ۱۹۴۱او ۱۹۴۲ کلونو د فرانسه یي هئیت د لرغونپوهانو په لاس کشف او موزیم ته لېږدول شوې وې. (۱۹)

په دې ډول تر ډېر اوږده مزله او هلو ځلو وروسته د کابل موزیم د اثارو د تاریخي لرغونتوب له مخې د نړۍ د سترو موزیمونو په کتار کې ودرېد او په لسګونو زره بېلابېل تاریخي اثار یې په خپله غېږه کې راټول کړي وو.

((د افغانستان ملي موزیم د ۱۳۷۰ل کال پر وروستیو میاشتو تر سلو زرو پارچو زیات تاریخي اثار درلودل)). (۲۰)

پر ۱۹۷۸م کال د ۲۱ زره طلایي سکو اریانوونکې خزانه د جوزجان په ولایت کې شبرغان ته نږدې د طلا تپې له غونډۍ څخه لاسته راغله. (۲۱)

کله چې پر ۱۳۷۱ل کال په کابل خونړي جنګونه پیل شول، نو د افغانستان د نورو فرهنګي بنسټونو غوندې پر موزیم هم د چور او تالان طاعون خور شو. لومړۍ هغه ډله موزیم ته ورسېدله، چې ځانونه یې د دولت ممثلین معرفي کول، د دوی چې څومره د موزیم پر اثارو لاس بر شو هغه یې یوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نانسي دوپرې وايي: (( د ۱۹۹۲م کال پر اپریل د جګړه مارو تنظیمونو تر راتګ وروسته، چې په کابل کې نظم او قانون مات شو، موزیم ته لویه بدمرغي پېښه شوه. په لومړي سر کې کله چې د دارالامان سیمه د موزیم په شمول د نظار شورا په لاس کې وه د موزیم کارکوونکو ته د کار اجازه نه وه. نجیب الله پوپل چې د موزیم یو ډېر مستعد کار کوونکی و، د تنظیمونو تر بریالیتوب درې میاشتې وروسته مخکې تر دې چې پر موزیم باندې توغندي و وربېږي، له موزیم سره هېڅ ډول رسمي ارتباط نه درلود. سره له دې د موزیم له ویشتل کېدو څخه یوه اوونۍ مخکې ده خطر پر ځان ومانه او له کومې اجازې پرته یې موزیم وکوت. ده ولیدل، چې صندقونه او بکسونه پر خپل ځای دي، خو ددې وخت یې پیدا نه کړ، چې د صندقونو منځ ولټوي. کوم وخت چې موزیم په توغندیو ویشتل کېده دا سیمه د استاد عبدالعلي مزاري تر مشرۍ لاندې د اسلامي وحدت حزب لاس ته ورغله. د جګړې تر کراریو درې ورځې وروسته پوپل یو ځل بیا په نا رسمي ډول موزیم وکوت. ده ولیدل چې د دلبرجان تپې د بوالي انځورونه په نه رغېدونکې توګه سوځېدلي دي، خو زېرخانه له بکسونو او صندقونو سره خوندي ده. د سپتمبر په پیل کې د CNN او BBC خبرلوڅو ولیدل، چې د زېرخانې د دروازو مهرونه روغ دي، خو دوی مطمین نه وو، چې دا به هماغه د پوپل په لاس لګول شوي مهرونه وي. ددې لپاره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی پوه شي د مهرونو تر شا څه شی دي، هېڅ لاره نه وه. د سپتمبر په نیمايي کې پوپل په پټه موزیم ته ورغی او د موزیم په غولي کې یې د صندوقونو پاتې شوني ولیدل. دا ډېره د تشویش وړ خبره وه.

ویلیم ریو د BBC خبریال له موزیم څخه په خپله دویمه لیدنه کې راپور ورکړ، چې بکسونه او صندوقونه خالي شوي او وړل شوي دي. د بودا یو وړوکی سر د یو ګودام کړکۍ ته چې میلې ورکړای شوې وې، نږدې ایښودل شوی او له بهر څخه د تایر کرښې مستقیماً تر دغې کړکۍ پورې ورغلې وې. د ۱۹۹۳م کال د سپتمبر په پای کې ما د ښاغلي ستوریس موسوریس په غوښتنه، چې د افغانستان له کلتوري میراثونو سره د زړه له کومې علاقمندي لري، له کابل څخه لیدنه وکړه. د دې توصیې پر وړاندې، چې د موزیم د ترمیم چارو لپاره باید د استاد مزاري ملاتړ ترلاسه شي، ښاغلي موسوریس سملاسي عکس العمل وښود. په موزیم کې د ترمیم چارې UNOCHA د ۱۹۹۳م کال په نومبر کې د ملګرو ملتو د بشري اسکان له مرکز HABITTAT وغوښتل، چې د ژمي تر پیلېدو وړاندې د موسم د ناخوالو پر وړاندې د موزیم مقاومت او امکانات وسنجول شي، څکه ددې وېره ده، چې ښایي د واورې د انبار کېدو له امله پاسني چتونه راوغورځي او د باران اوبه د زېرخانو ګودامونو ته ورننوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

HABITTAT خبر ورکړ، چې په هره خونه کې صندوقونه خلاص پراته دي او د شیانو په ترتیب کې ژوره ګډوډي لیدل کېده او په دغه ځای کې ګودامونو ته هم په اسانۍ سره لاس نه رسېده. نازک کاغذي مهرونه، چې د لومړي پوړ د ګودامونو پر دروازو او کړکیو نښلول شوي وو، پر ځای وو، خو دا مهرونه په اسانۍ سره د بدلېدو وړ وو. د HABITTAT عکسونه چې له ماتو شویو او شیندل شویو شیانو څخه اخیستل شوي وو، ډېر دردوونکي وو. په عکسونو کې هغه اره شوې الماری هم لیدل کېږي، چې هلته به د موزیم دفترونه او لستونه ساتل کېدل. دا الماری ټولې یو شان او بې توپیره راوړل شوې وې او کاغذونه ډېر بد څیرې شوي وو. زولپې خلاصې شوې وې او پولادي صندوقونه ټول سپک ښکارېدل او داسې اټکل کېده، چې باید تش وي. بکسونه او جعبې ټول د کوټې پرمخ اړول شوي وو. په دې توګه څرګنده شوه، چې زیاتې تحویلخانې ښې لټول شوې دي. د HABITTAT له خوا ځینې ترمیمونه وشول. کړکۍ د تیږو او خښتو په واسطه بندې شوې، چتونه د هوا د خرابوالي پر وړاندې جوړ شول او تحویلخانو ته پولادي دروازې ورکړل شوې. ښاغلي موسوریس چې پخوا یې د UNESCO په موزیم کې د کار لپاره تشویش څرګند کړی و، کله چې د موزیم په هکله د ارزیابۍ راپور ترلاسه کړ د نومبر پر ۷مه یې په اسلام اباد کې یوه عاجله غونډه راوبلله. ورپسې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومبر پر ۲۹مه دی کابل ته ولاړ او له استاد مزاري سره یې ولیدل. استاد مزاري ښاغلي موسوریس ته اطمینان ورکړ، چې د موزیم خوندیتوب به تامین کړای شي. وروسته د نجیب الله پوپل په مشرۍ د نظارت یوه کمېټه جوړه شوه او دغې کمېټې د ډسمبر پر ۲۱مه خپل کار پیل کړ. ښاغلي موسوریس په خپله د موزیم لیدنه وکړه او دی لومړی کتونکی و، چې د سکو خونې ته د ننوتو اجازه ورکړل شوه، ده ولیدل چې ټولې جعبې تشې دي.

د ۱۹۹۴ په مې کې زه کابل ته لاړم او د مې پر ۱۲مه ما ټوله ورځ د موزیم د تحویلخانو پر کتنو تېره کړه. ترسره شوی کار واقعاً قناعت بښونکی و. په تېره بیا دا چې د ژمي شرایط او سخت ساړه وو، د کار کوونکو لپاره له یوه تیلي لاټین پرته د تودوخې او روښنایۍ هېڅ وسیله نه وه. ټولو خونو ته ښې مضبوطې دروازې ورکړای شوې وې. دهلیزونه پاک شوي وو او درې زره خټین لوښي له فضلاتو څخه را ایستل شوي وو او په تحویلخانو کې خوندي شوي وو. یوه خونه د اسلامي برونزي شیانو له ماتو شویو ویلي شویو او خیرې شویو ټوټو څخه ډکه وه. په کتابتون کې ۲۲۴۷ ټوکه کتابونه پاتې وو، خو هغه کتابونه چې د ډېرو ښو اثارو عکسونه یې درلودل، غلا شوي وو. اوس باید د لوټمارانو په هکله رښا واچول شي. بریالیو مجاهدینو له پیله لوټماري خپل طبیعي حق ګاڼه. د کابل موزیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ارتباط ټول مدارک ښيي، غلا ښه په ډاډه زړه ترسره شوې ده او داسې نښې نښانې نه ليدل کېږي، چې دا کار دې د بېسوادو او بې پروا تنظيميانو له خوا شوی وي، په لومړي سالون کې د ننداري شيان، لکه د کنشکا مجسمه او له سره کوتل څخه نور ترلاسه شوي شيان، د کندهار مرمرين لوښي او د ناستې په حال کې د بودا لويه مجسمه، چې له مرنجان تپې څخه لاس ته راغلي پر خپل ځای ليدل کېدل. د ۱۹۹۴م کال تر سپټمبر پورې ۱۵۳۴۱ قلمه اثار ثبت شوي وو او څلور ګودامونه د موجودی لپاره لا پاتې وو. د پوپل د اټکل له مخې د ډېرو ښو اثارو تقريباً په سلو کې اويا ورک شوي وو. داسې ښکاري چې لوټمارانو پوره وخت درلود، چې د شيانو ارزښت وټاکي او ډېر ښه اثار په کې چاڼ کړي. ښايي مورږ هېڅکله پوه نه شو، چې دغه غلا څه وخت ترسره شوې ده؟ او څو پورې چې دقيقه موجودي ونه شي، د موزيم واقعي حالت به هم څرګند نه شي.

وروسته تر دې چې کابل د مجاهدينو لاس ته ورغی، اوازه خپره شوه، چې د کابل موزيم د مجاهدينو له خوا چور شوی دی. پېښور- اسلام اباد او د کراچۍ بازارونه له غلا شويو اثارو څخه ډک شول. يو وخت ماته خبر راورسېد، چې د موزيم ټول اثار په چترال کې دي او د لوړو بيو انتظار کوي. عملاً د بهرنيانو يوه ډله چترال ته لاړه، خو دوی يوازې د کباړ شويو شيانو يو دردونکی کلکسيون وليد. ما په خپله هم ډېر اثار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیدل، خو هغه ټول جعلي او پروني شیان وو. یو ازې د بګرام لس عاجونه چې د ۱۹۹۴م کال پر اپریل په اسلام اباد کې ولیدل شول واقعاً اصلي وو. د هغوی بیه دوه سوله لکه برتانوي پونډه وه، څه موده مخکې زه خبره شوم، چې دغه عاجونه له پاکستان څخه وتلي دي او بیه یې څلور سوه لکه پونډو ته ختلې ده.)) (۲۲)

دا د موزیم د غملړلي داستان یوه برخه وه، چې دوپرې لیکلی و. پر موزیم باندې د راغلي طاعون داستان ډېر اوږد دی. کله چې موزیم د بېلابېلو ډلو لاس ته ورغی، نو هر یوه تر خپل وسه په موزیم کې پاتې شیان غلا کړل، ،خو هغه ډله چې په لومړي پړاو کې یې موزیم په لاس کې و، په ډېر ماهرانه ډول د موزیم اثار غلا کړل او بیا یې د نړۍ په بازارونو کې وپلورل. د نورو اثارو ترڅنګ په همدې موزیم کې د قرآن کریم هغه نسخه، چې ویل کېږي د طلاوو په اوبو لیکل شوې وه او په نړۍ کې یې ساری نه و، غلا او د باجوړ په سیمه کې په اتیا زره کلدارو وپلورل شوه. (۲۳)

یو افغان په خپلو سترګو لیدلي وو، چې د پاکستان د کوچي بازار په سیمه کې څلور د برش مجسمې چې قیمت یې په ملیونونو کلدارې اټکلېده او د مغولو د عصر ۱۲ تورې چې ۲۳ ملیونه ډالره قیمت یې لاره په یو تر زمکې لاندې دکان کې اینښودل شوی وو. (۲۴) د موزیم په اثارو نه یوازې زموږ د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګاونډيو نړدې بازارونه ډک شول، بلکې لرې نړيوالو بازارونو ته يې هم لاره وکړه. د موزيم د اثارو د غلا او د غلو په اړه پر همغه وخت او هم بيا وروسته پلټنې او ګروېږنې وشوې. يو بهرني شخص چې پر هغه وخت يې د موزيم د اثارو د غلا کوونکو په باب ليکنې کولې، د دې لپاره، چې ده ته څه ستونزه جوړه نه شي، نو هغو ډلو چې د موزيم په لوټ او تالان کې يې برخه اخيستې ده، د هغو نومونه يې په شفري ډول ثبت کړي او بيا يې د کمپيوټر حافظې ته سپارلي. دا شفرونه په دې ډول دي: ((HI-۷، Am-۲, GH-۲، BR-۱۳، Hw-۲، SNP، HI-۹، HI-۸ او نور)). (۲۵)

د ملي موزيم په اثارو کې د طلا تپې هغه شل زره (۲۶) طلايي سکې، هوسۍ او نور اثار هم شامل وو، چې د ډېر زيات ارزښت درلودونکي وو.

ځينې داسې اوازې هم وې، چې ((له ملي موزيم څخه يو شمېر با ارزښته اثار د ډاکتر نجيب الله د واکمنۍ په وروستيو شپو ورځو کې د ساتنې په خاطر د افغانستان مرکزي بانک تحتاني منزل ته راوړل شوي دي، دا چې دا اثار به اوس چېرته وي معلومات نه شته، دغه راز د ملي موزيم يو شمېر اثار د يونسکو په مرسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته هم انتقال شوي دي)). (۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثرنگه چې د افغانستان بانک د نظار شورا په لاس کې و، نو که دا خبره رښتیا وي، چې د نجیب الله د حاکمیت پر وخت دا اثار هلته ورل شوي دي، نو طبعاً د شورای نظار د افرادو په لاس کې به لوېدلي وي. د ۱۳۷۵ ل کال پر څو لومړنیو میاشتو یو ځل بیا د موزیم د اثارو په تېره بیا د طلا تپې د اثارو په باب د هېواد په دننه او بهر کې ګڼ شمېر مقالې چاپ او خپرې شوې. پخوانۍ تنظیمي ادارې او نظار شورا ته هم په دې ارتباط ډېر زیات سوالونه راجع شول. بالاخره قوماندان مسعود اعتراف وکړ، چې: ((اثار طلا تپه در جایی که به وسیلهء هئیت حکومت قبلي و هئیت ملل متحد جا به جا و مهرلاک گردیده بود محفوظ است)). (۲۸) ښه به وي چې په دې اړه د دوکتور نجیب الله په واکمنۍ کې د هغه د دفتر رئیس ښاغلي محمد اسحق توخي ثرګندونې هم راوړو؛ ښاغلي توخي دا ثرګندونې په خپله یوه اوږده لیکنه (دوکتور نجیب الله و خروج نیروهای نظامی شوروی از افغانستان) کې چې د ۱۳۸۷ل کال په وروستیو کې د انټرنټ له لارې خپره شوه، کړې دي. موږ د طلا تپې اثارو سره اړوند موضوع کټ مټ له کومې ژباړې او کمونې پرته خپروو: * [((... ریيس جمهور دکتور نجیب الله کشورش را در شرایط حساس رهبری میکرد. او نخستین

* دا ثرګندونې مې ځکه په کې راوړې چې موضوع لا پسې روښانه شي. (یون)

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیتیست، که خطری راکه سرمایهء ملی و فرهنگی افغانها را تهدید میکرد، احساس مینمود.

قبل از بسته شدن موزیم کابل به علت حمله های راکتی مجاهدین، او همه اثار طلاتپه را تحت نظر مستقیم خودش به زیرزمینیهای بانک مرکزی، جایی که ذخیرهء طلای مملکت محفوظ است، منتقل ساخت و ان را در اتاق مخصوص که تنها رییس جمهور صلاحیت باز کردن آن را دارد، قرار داد، حالا گاوصندوقهای حاوی این اثار را بیرون کشیده اند. هر صندوق با بوریهای مخصوص پوش گردیده است و یک جدول و پروتوکول و فهرست محتوای داخل ان با مهر و نامهء رییس جمهور نجیب الله دریافت گردید.))

حامد کرزی با چند وزیرش در برابر خبرنگاران ظاهر شده اظهار نمود که: ((گنجینهء طلا تپه محفوظ و دست ناخورده باقی مانده است. «بدون توضیحهای بیشتر».))

به همین ارتباط برای شناخت هر چه بیشتر شخصیتهای چون برهان الدین ربانی، که جز ثروت اندوزی به چیزی دیگری نمی اندیشد، خاطره یی در ذهنم تداعی گردید، که میخواهم خدمت هموطنان بیان کنم.

روزی، کارمند بین المللی ملل متحد در کابل به دکتور نجیب الله مراجعه نمود، که برهان الدین ربانی دو نفر را که حامل کدام پیغام از جانب او هستند فرستاده است و تقاضای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاقات با شما را دارند. دکتور نجیب الله به کارمند ملل متحد گفت، که اگر او (کارمند ملل متحد) مانعی نمیبینند، میتوانند بیایند. دو نفر مذکور داخل امدند، وقتی که من ان ها را دیدم، یک نفر ان راشناختم، که همان وکیل عبدالرسول از بدخشان بود، که در صفحه های قبل نیز در موردش نوشته ام، که در سال ۱۳۶۷خ. (۱۹۸۸م.) عضو رابط برهان الدین ربانی با سفارت اتحاد شوروی در کابل بود. به نظر من دلیل اعزام وکیل عبدالرسول مذکور این بود، تا ما باور کنیم، که فرد همراه او امده واقعاً فرستادهء برهان الدین ربانی بوده است. این فرستاده یکی از اعضای جمیعت اسلامی بود، که خود را ثارنوال معرفی میکرد. بعد از مصافحه دکتور نجیب الله برای شان گفت، بفرمایید، چه گفتنی داشتید، من در خدمت تان هستم.

کسی که خودر را ثارنوال معرفی کرده بود، گفت: ((استاد برهان الدین ربانی پس از عرض سلام، تقاضا دارد، در این روز هایی که دولت اسلامی افغانستان دچار مشکلات اقتصادیست، اگر شما لطف نموده کمک نمایید، که در زمان شما کدام ذخیره یی از داراییهای دولت در کدام جایی اگر مانده باشد، برای ما معلومات بدهید، تا از ان در رفع مشکل اقتصادی دولت استفاده شود.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتور نجیب الله خندید و برای موصوف گفت: (( به استاد ربانی بگویید ، که قدرت دولتی را شما با تمام دم و دستگاه ان به طور سالم و رسماً در سال ۱۳۷۱خ. (۱۹۹۲م) تسلیم شدید و چندین سال هم از حکومت اسلامی (( عدالت گستر )) شما میگذرد. حالا چگونه به من مراجعه نموده اید ؟ من رییس جمهور کشور بودم، نی خزانه دار. بهتر است، بعد از این به من همچو مراجعات را انجام ندهید. ))

سپس ان ها را از نزد خود رخصت کرد. ان گاه خطاب به من گفت: ((از این میترسم، که نشود این غارتگران به ذخیرهء طلای افغانستان دست یابند و ان را غارت کنند. چیزی دیگری را در کشور باقی نگذاشتند. )) ] له دې خبرو څخه څرګندېږي، چې استاد برهان الدين رباني د افغانستان د دې ملي او فرهنګي شتمنۍ د لاسته راوړلو هڅه کړې، خو بریالی شوی نه دی. احمد شاه مسعود چې کومه یادونه کړې هغه هم له همغې غوښتنې سره ارتباط لري. ځکه دوی ته یوازې دومره پته وه، چې دا شتمني د مخنې حکومت او ملګرو ملتو له خوا خوندي شوې ده، خو د ترلاسه کولو امکان یې پیدا نه کړای شو.

لنډه دا چې هر چا چې په هر نامه او د هر مقصد لپاره موزیم چور کړ، زمونږ هېواد یې له ډېرو زیاتو تاریخي اثارو څخه بې برخې کړ، اوس نو موزیم پر یوه سوځېدلې کنډواله بدل شوی او اثار یې غلو وړي دي. د هېواد تر ملي موزیم وروسته ( د اردو

(c) ketabton.com: The Digital Library

موزیم) په هېواد کې بل ستر موزیم و، چې په زرګونو بېلابېل اثار په کې خوندي وو. د نورو مهمو اثارو په لړ کې د احمدشاه بابا د لاس توره او د اعلیحضرت امان الله خان د کار څوکۍ هم په دې موزیم کې خوندي وو. دغه راز د جګړې د اکثرو هغو وسلو بېلګې په کې خوندي وې، چې له ډېرې پخوا راهیسې افغانانو عملاً په هغو د یرغلګرو پر ضد مبارزه کړې وه. دا موزیم تر ملي موزیم لږ څه وړاندې په یوه ښکلې ودانۍ کې په ډېر منظم او سیستماتیک ډول جوړ شوی و. له ملي موزیم سره یو ځای د دې موزیم اثار هم لوټ او تالان شول.

## د هېواد سیمه ییز او ولایتي موزیمونه:

### ۱- د غزني موزیم:

د غزني موزیم پر **۱۳۴۵**ل کال د لړم پر میاشت د تیموریانو د دورې په یو تعمیر کې رسماً پرانیستل شو.

د غزني موزیم اثار د تاریخ او هنر له مخې خاص اهمیت لري او د افغانستان د اسلامي دورې ډېر پخواني اثار په کې شامل دي. دغه اثار له لسمې میلادي پېړۍ څخه تر دولسمې پېړۍ پورې اړه لري او له هنري پلوه هغه یوازېني اثار دي، چې د غزنویانو د مخصوص سبک، چې سلجوقیانو ته نږدې دي نمایندګي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربېره پر دې چې ځينې وړې او لويې پارچې، د قبرو لوحې، کوچني حوضونه هم د ننداريو لپاره تيار شوي وو. په مجموعي ډول د غزني موزيم اثار پر **۱۳۴۶**ل کال **۳۵۰** قلمو ته رسېدل، چې تر **۱۳۵۷**ل کال پورې زرو قلمو ته ورسېدل. دا اثار تر **۱۳۷۰**ل کال پورې خوندي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲- د کندهار موزیم:

دا موزیم پر ۱۳۱۱ل کال تاسیس شوی او لومړی اثر یې هم د وزیرمحمد اکبر هغه کمیس و، چې د دوی لاس ته ورغلی و. پر ۱۳۳۹ل کال د دغه موزیم د اثارو شمېر ۸۰۷ ته رسېده.

## ۳- د هرات موزیم:

دا موزیم د ۱۳۰۲ل او ۱۳۰۴ل کلونو ترمنځ جوړ شوی دی. د ۱۳۰۷ او ۱۳۰۸ کلونو د پېښو په جریان کې د هرات موزیم دروازه خلاصه شوه او د هرات د جامع جوماتِ مسي دېگ او د هفت اقلیم په نوم اثر چې د تنظیمیه رئیس په امر له گازرگاه څخه موزیم ته نقل شوي وو، بېرته وایستل شول او د موزیم نور اثار له منځه لاړل. پر ۱۳۱۰ل کال موزیم ښاروالۍ ته وسپارل شو، پر ۱۳۲۵ل کال یو شمېر لرغوني اثار له کابل نه موزیم ته د تحفې په ډول ورکړی شول. د هرات موزیم اثار هغه وخت لا زیات او د درنښت اندازه یې زیاته شوه، چې د (لرغوني هرات) په نوم نړیوالې پروژې خپلې مرستې پیل کړې.

## ۴- د میمنې موزیم:

پر ۱۳۳۵ل کال د میمنې د اعلی حاکم غلام حیدرخان زوی محمد سهیل، چې له خپلو او نورو مېلمنو سره خواجه کنت ته نږدې د سلطان سنجر پر غونډۍ په تفریح بوخت و، یو منگوټی وموند، چې په هغه کې د غوریانو د دورې سکې پرتې وې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغــو ســکو د ســاتنې مســالې د مــوزیم د جوړېــدو موضــوع را منځته کړه.

د میمنــې اعلــی حــاکم د مــوزیم اســاس کېښــود ، څــه مــوده وروســته مــوزیم د یــوې مجمــوعې خاونــد شــو. دې مــوزیم خپــل ننداریز پروګرامونه تر ۱۳۳۲ل کــال وروســته بیــا تــر ۱۳۵۷ل کــال پورې په منظمه توګه ترسره کړي دي.

## ۵- د مزارشریف موزیم:

د مزارشریف مــوزیم زیــات پخــوانی تــاریخ لــري. د دې مــوزیم اساس له هغه وخته پیلېږي، چې د حضرت علي کرم الله وجهــه مرقد تــه ځینو پاچاهانو او لویانو سوغاتونه او هدیې ورکړې دي. دغــه ســوغاتونه ټــول د روضــې مبــارکې پــه یــوه کوټــه کــې ایښودل شوي دي او همدا راز یو شمېر پخواني او لرغوني اثــار د مزارشریف په تحویلخانه (ساتنځي) کې موجود وو. دا مــوزیم د قلمــي نســخو او مســکوکاتو لــه اړخــه زیــات شــتمن ګڼــل شــوی دی. پر ۱۳۳۹ل کال د دې موزیم د اثــارو شــمېر ۷۳۵ تــه رســېده. (۲۹)

## ۶- د هډې موزیم:

د جلال اباد د ښار د جنوب ختیــز پــه شــپږ کیلــو متــري کــې یــو ستر کلی د کوچنیو کوچنیو غونډیو په منځ کې پــروت دی. دغــه ځای ته هډه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په زمانه کې همدلته کیندنې پیل شوې او په نتیجه کې تر ځمکې لاندې یو بیضوي موزیم وموندل شو. هغه وخت د دولت له خوا د همدې ځای د اوسېدونکو ۱۵۰ تنو پر دې ځای د دې غونډۍ ګرد چاپېره پر کار پیل وکړ. د درې جریبه ځمکې په ساحه کې د ښار په بڼه موزیم وموندل شو. دغه موزیم ته یوه لار راغلې وه او همدا لار له ټولې ودانۍ څخه ګرد چاپېره ګرځېدلې وه. د دروازې خوا کې یو لوی بُت د سلامۍ په حال کې لیدل کېده، تر ټولو مشر بُت چې ګرد چاپېره ورڅخه ځو بُتان د محافظینو په شکل ولاړ وو، ځای پر ځای شوي وو. یوه فرانسه یي ښځه د کیندونکو د فني هئیت مشره وه. هغې دغه بت ته د ((ارکولیس پهلوان)) نوم ورکړ. دا موزیم د شپږو کلونو په موده کې سم برابر شو، ټولې ۴۲ کوټې وموندل شوې، حکومت ورته یو ساتونکی کنډک واچاوه. یو کانتین هم په دروازه کې ورته جوړ شو، چې وروسته به سیلانیان ورته راتلل.

د سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر وخت پر دغو نورو غونډیو ګانو کار شروع شو په هر ځای کې به بُتان موندل کېدل. دا موزیم د جهاد په دوران کې د تنظیمي ځواکونو له خوا وسوځول شو. کله چې تنظیمونو جلال اباد ونیو، د هډې شاوخوا په چټکۍ کیندنې پیل شوې، د ملیونو ډالرو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښت بتان راوو تل او هغه ټول باندنۍ نړۍ ته انتقال شول، خو نن ورځ هلته هېڅ نه شته او سپېره میدان دی. (۳۰)

د هڅې پر تاریخي اثارو سربېره د هېواد په زیاتو سیمو کې ګڼ شمېر تاریخي اثار د مختلفو اشخاصو له خوا راوسپړل شول او پر نورو هېوادو خرڅ کړای شول. دا څېړنې او پلټنې له کوم مسلک او قانون پرته ترسره شوې او د هېواد په اکثرو هغو سیمو کې چې د تاریخي اثارو د پیدا کېدو هیله ترې کېدله ترسره شوې، لکه کونړ، لغمان، ننګرهار، پکتیا، کابل، تخار، غزني، بلخ او نور. یوازې د پکتیا له میرزکي څخه په لسګونو ډوله تاریخي اثار را وایستل شو ل او بیا خرڅ شول. په دې کې ځینې هغو اثارو ته هم زیان واړول شول، چې د انتقال وړ نه وو، د ساري په توګه د بامیانو تاریخي بُتان چې د ځینو جګړو او طبیعي پېښو له کبله زیانمن شوي دي.

کله چې جګړه له کلیو نه ښارونو ته دننه شوه، نو د هېواد د نورو اقتصادي او فرهنګي مرکزونو په شان پر دې ولایتي موزیمونو هم تالان خور شو او اکثره اثار یې لوټ شول. اوس په دقیق ډول معلومه نه ده، چې په دې موزیمونو کې څومره اثار پاتې دي، خو د عیني کتنو او لیدنو له مخې نه یوازې دا چې د دې موزیمونو اثار له منځه وړل شوي دي، بلکې ان ودانۍ یې هم ړنګې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۸))

# ملي آرشيف

له څو لسيزو راهيسې زموږ په هېواد کې ځينو وزارتونو او موسسو د خپلو اسنادو د ساتنې لپاره خپل ارشيفونه لرل. په غالب ګمان په دې برخه کې به تر ټولو پخوانی آرشيف هماغه د بهرنيو چارو د وزارت آرشيف وي.

د وزارتونو او دولتي موسسو پر آرشيفونو سربېره په افغانستان کې تر ټولو مهم او د زيات ارزښت لرونکی آرشيف د افغانستان ملي آرشيف دی.

ويل کېږي چې د ملي آرشيف د جوړېدو مفکوره پر **۱۳۵۲**ل کال منځته راغله، د هغه وداني د سردار محمد داود خان د جمهوري رياست پر وخت بيا له سره جوړه او ښکلې شوه. د دې آرشيف اساس د اطلاعاتو او کلتور وزارت خطي کتابتون و. د محمد داود خان د جمهوري رياست پر وروستيو مياشتو نوموړې نسخې دې نوې ودانۍ ته انتقال شوې او په دې ډول د ملي آرشيف جوړښت پيل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۳۲۰ل کال د مني په شپو کې ملي آرشيف رسماً پرانيستل شو. خطي نسخې، تاريخي اسناد، د خطاطۍ ليکنې، زاړه چاپي کتابونه، تاريخي عکسونه، د زړو مطبوعاتو متفرق کلکسيونونه او ګڼې د آرشيف نور ډول ډول مواد دې موسسه کې ځای پر ځای شول.

دغه راز د غزنې د عامه کتابتون او د اعليحضرت محمدظاهر شاه د کتابتون د خطي نسخو انتقال ملي آرشيف نور هم بډايه کړ. دغه راز يو لړ نور اثار په بيه واخيستل شول او آرشيف ته ورکړل شول. په پښتو، دري، عربي، ترکي، اويغوري، اردو، سنسکريت او هندي ژبو په زرګونه زرګونه خطي نسخې په ملي آرشيف کې راټولې شوې، چې د مسوولينو په وينا د هغو ټول شمېر تر لسو زرو زياتېږي. د دې نسخو ځينې د خط د هنر او ميناتورۍ له مخې ځانګړي او ډېر اوچت اثار ګڼل کېږي.

د اسنادو، عکسونو او نورو اثارو شمېر هم زرګونو ته رسېږي. ملي آرشيف په شپېتمو کلونو کې د خپلو خطي نسخو دوه کتابونه، چې په هغو کې د آرشيف خطي نسخې معرفي شوې وې، چاپ کړل. همدارنګه پر دې وخت کې ملي آرشيف ته قانون جوړ شو. (۳۱)

له نېکه مرغه بايد يادونه وکړو، چې د جګړې په دې تېرو کلونو کې د نورو فرهنګي مرکزونو په انډول ملي آرشيف ته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروند تاوان او زيان نه دی اړول شوی. (( سره له دې چې په دې موده کې د ملي آرشيف په اثارو د غلو څو حملې وشوې، خو داسې ويل کېږي ، چې د غلو لاس بر نه شو ، خو د تخنيکي امکاناتو د نشتوالي او مشکلاتو او وسايلو د کمښت له کبله ځينو اثارو ته زيان اوښتی دی )). (۳۲ )

د ۱۳۷۲ کال د سرطان تر مياشتې پورې بيا هم د ملي آرشيف تخنيکي مشکلات حل شوي نه دي او نه د اثارو د ساتنې او پالنې لازم وسايل او امکانات برابر شوي، نو که دا وضعه همدا شان دوام ومومي، د ملي آرشيف هغه قيمتي اثار به چې لازمې ساتنې او پالنې ته اړتيا لري، په تدريجي ډول له منځه لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۹))

# ملي ګالري

د افغانستان ملي ګالري د ۱۳۶۲ل کال د ثور پر میاشت افتتاح شوه. د ګالرۍ د پرانیستو په مراسمو کې د کندهار له ولایت، د کابل له موزیم او له سلطنتي قصر څخه ۲۰۰ هنري او تاریخي اثار راوړل شوي او ننداري لپاره ایښودل شوي وو.

دا موسسه په اسمایي واټ کې د غلام نبي خان څرخي په کور کې او وروسته بیا په اطلاعاتو او کلتور وزارت پورې تړل شوې وه. سره له دې چې دا ودانۍ د ملي ګالرۍ د اثارو د ساتنې او ننداري لپاره مناسب ځای هم نه و، خو بیا هم دا اثار په کې ننداري ته کېښوول شول.

د ملي ګالرۍ د ۱۲ کلن فعالیت په لړ کې هر کال د پلان او بودجې له مخې د هېواد د معاصرو هنرمندانو اثار اخیستل کېدل. په دې لړ کې د نقاشۍ، میناتورۍ، مجسمې او ظریفه اثارو ۵۹۲ اثار اخیستل شوي او ملي ګالرۍ ته تحویل شوي وو. ددغو اثارو زیاته برخه د غلام محمد میمنه ګي، عبدالغفور

(c) ketabton.com: The Digital Library

برېښنا، استاد عبدالعزيز، استاد غوث الدين، استاد يوسف کهزاد، استاد عطايي، استاد خيرمحمد ياري، استاد کريم، استاد قربانعلي عزيزي او داسې نورو اثار وو.

تر يوې لسيزې په زياته موده کې دې ګالرۍ هر کال لس زره ليدونکي درلودل.

کله چې ۱۳۷۱ل کال پيل شو او تنظيمونه کابل ته داخل شول، پر دې وخت، نو د اطلاعاتو او کلتور وزارت اداري، حقوقي او فرهنګي مسوولين په دې هيله وو، چې هر څه به خوندي پاتې شي، خو امنيتي چارواکي او غالباً وسله وال تنظيمي افراد د يو توند باد په شان راخواره شول او د ګالرۍ دېوالونه يې ولړزول. کله چې وسله والو افرادو د اطلاعاتو او کلتور وزارت ټول اداري قيمتي وسايل او وسايط، لکه غالۍ، فرشونه او موټر چور کړل، نو د ملي ګالرۍ د له منځه تللو وېره لا پسې ګړندۍ شوه.

د ۱۳۷۱ل کال د سنبلې پر ۲۳مه نېټه د وسله والو کسانو له خوا د استاد غوث الدين او نورو هنرمندانو څلور تابلوګانې غلا شوې. دولتي ادارو ته خبر ورکړ شو، چې د ګالرۍ پهره دارانو دا کار ترسره کړی دی او په راتلونکي کې هم دا وېره شته، خو هغوی بې تفاوته پاتې شول او د ګالرۍ د برخليک په باره کې يې هېڅ پرېکړه ونه کړه، ان دا چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هغه وخت د اداري رئيس په دستور او د هغه وخت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوپوني مغازي د مدير په واسطه د ۱۳۷۱ ل کال د سنبلې پر ۴مه نېټه تر ۳۰ موټرو زيات د ډېرو سکاره د ملي ګالرۍ په انګړ کې وغورځول شول. دې کار د دې مخه ونيوله چې د ګالرۍ اثار راټول او يو خوندي ځای ته انتقال شي، ان تر دې چې د ګالرۍ ځينې ښکلي او ناب اثار د ډېرو سکرو په تور ګرد ککړ شول او د ګالرۍ تعمير او لوازم هم د ډېرو سکرو په شان تور واوښتل. دې کار د هېواد ټول فرهنګپال او فرهنګيان متاثر کړل او د يادو شويو کسانو عمل يې وغانده. ويل کېږي چې د نومړو اشخاصو عمل قصدي و؛ د ګالرۍ اثار به يې د ((بتانو)) په نومونو يادول.

د ۱۳۷۲ ل کال د ثور پر ۵مه نېټه په ګالرۍ کې د ځای پر ځای شويو وسله والو کسانو له خوا ۳ نور هنري اثار هم غلا شول، پر دې کار د وزارت امنيتي ځانګو هم ځان غلی کړ او بيا يې هم د ګالرۍ د اثارو د ساتنې کوم مشخص تدبير ونه نيو.

د ۱۳۷۳ ل کال د ثور پر ۱۳مه نېټه د ګالرۍ د امنيتي ساتونکو له خوا د هنر او نقاشۍ ۲۹ اثار غلا شول، دا ګالرۍ ته دومره لوی زيان و، چې نه جبرانېدونکی ګڼل کېږي. په دې ټولو پېښو کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت لوړو مقامونو او نورو اړوندو ادارو هېڅ پاملرنه ونه کړه. کله چې د ګالرۍ د ښځي له منځه تلو وېرې د ځينو زړونه ولړزول، نو په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې ځينو اشخاصو له هغې جملې د هغه وخت د هنر رئيس په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځاني هلو ځلو او د ځينو نورو مسوولينو په مرسته د ملي ګالرۍ ۲۹۲ تاريخي اثار له اصلي تعمير څخه د وزارت ودانۍ ته را انتقال شول.

بيا هم تر ډېره وخته پورې د ګالرۍ په ودانۍ کې وسله وال کسان پاتې شول او په هغو ځايونو کې چې پخوا به ظريفه اثار ننداري ته ايښودل کېدل، دوی پرې تشنابونه جوړ کړل.

هغه اثار چې له ملي ګالرۍ څخه د وزارت مقر ته راوړل شول بيا هم خوندي پاتې نه شول، ډېر ځله داسې ګونګسې وې، چې د وزارت د هغه وخت د ځينو چارواکو له خوا هم ځينې اثار غلا شوي او دې لړۍ کېدی شي نوره هم ادامه پيدا کړې وي. (۳۳) خو خدای(ج) دې داسې ورځ نه راولي، چې موږ د خپلې ګالرۍ يو اثر هم ونه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۱۰))

# نندارتونونه

د نورو فرهنګي مرکزونو ترڅنګ د افغانستان نندارتونونو ته داسې زيان واړول شول، چې اوس څوک هغه سيمه ګوري، نو فکر نه کوي، چې دلته به هم يو وخت د يو لرغوني هېواد داسې کلتوري مرکزونه وو، چې يو وخت به هر کال په زرګونو افغانانو او په سلګونو بهرنيانو ورڅخه ليدنه کتنه کوله او د افغانستان د کلتور، پراختيا او لاسي صنايعو د ځينو برخو پر څرنګوالي او څومره والي به خبرېدل.

د کابل ښار حضوري چمن ته ورڅېرمه (د کابل ننداري) په سيمه کې د هېواد د لاسي صنايعو، قيمتي ډبرو، غاليو، ټولنيزې پراختيا او برېښنا بندونو، مهمو ودانيو، او ډول ډول لرغونو او اوسنيو وسلو (پنځلس نندارتونونه) (۳۴) جوړ شوي وو. په دې نندارتونونو کې د ((شوروي اتحاد)) او

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د تخنیکي همکارۍ او نورو برخو یو ځانګړی نندارتون هم موجود و.

دې نندارتونونو هر یو ځانته ځانګړې ودانۍ درلودله، چې د اړوندې څانګې خپل اثار په کې د ننداري لپاره وړاندې شوي وو. هر نندارتون په خپل ذات او د امکاناتو د لرلو په وجه د زیات ارزښت وړ و.

په دې ګڼو نندارتونونو کې د قیمتي ډېرو یو ستر نندارتون د زیاتو کتونکو پاملرنه ځانته راګرځوله. په دې نندارتون کې د افغانستان له اکثرو هغو کانونو څخه چې بېلابېلې قیمتي ډبرې یې درلودې، یوه یوه او یا هم څو بېلګې خوندي وې، چې د لیدونکو زړه یې ځانته راکاږه، نه یوازې د دې نندارتون سمبولیک ارزښت ډېر زیات و، بلکې هغه قیمتي غمي او تیږې چې دلته ایښودل شوي وو، هم تر لکونو ډالرو څخه یې مالي ارزښت زیات محاسبه کېدی شي.

بل نندارتون، چې هغه هم په ډېر زیات زحمت او ظرافت جوړ شوی و، هغه د افغانستان د غالیو نندارتون و. په دې نندارتون کې د افغاني غالیو تقریباً ټول ډولونه ننداري ته ایښودل شوي وو. د نندارتون دېوالونه او متن ټول پر رنګارنګ غالیو فرش او ښکلی شوی و. له وربښمینو غالیو څخه نیولې د غالیو ټول ډولونه په کې خوندي وو. دلته له ډېرو کوچنیو غالیو څخه نیولې بیا تر ډېرو لویو غالیو پورې هر ډول غالۍ راټولې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. پر هرې غالۍ خپل قيمت ليکل شوی و. په دې غالیو کې داسې غالۍ موجودې وې، چې له نن څخه د پرش یا څلوېښت کاله دمخه يې قيمت په مليونو افغانيو وو چې د اوس وخت له لسګونو زرو ډالرو سره معادل دي، دا ډول غالۍ دې ننداړتون ته راټولې شوې وې. اوس نو د غالیو د ننداړتون يوازې څلور د يوالونه ولاړ دي او بس. د کابل ننداري په سيمه کې چې موږ د کومو ۱۵ ننداړتونونو ياد وکړ دا ټول د ۱۳۷۱ل کال د ثور د مياشتې پر ۷مه، ۸مه او ۹مه نېټه جنګونو کې، چې له يوې خوا د جمعيت ګوند او د دوستم مليشې او له بلې خوا د اسلامي حزب د قواوو ترمنځ وشول، له منځه يوړل.

دا سيمه د لنډ وخت لپاره د اسلامي حزب تر واک لاندې وه، خو کله چې د دوستم مليشې او د نظار شورا کسان دلته داخل شول، نو لومړی دا ټول ننداړتونونه چور او بيا يې ځينو ته اور واچول شو او ځينې يې بيا په پرله پسې جګړو کې له منځه يوړل شول. د شاه شهيد او سيد نورمحمد شاه مېنې ځينو اوسېدونکو دا ننداړتونونه په خپلو سترګو ليدل، چې لوټ کې ترې پورته کېدل. ځکه چې د دوی کورونو ته ډېر نږدې پراته وو. د شاه شهيد اوسېدونکي وايي چې موږ پر هغو شپو ورځو په خپله ليدل، چې د دوستم مليشو د ننداړتونو اثار په ډېره ارزانه بيه پر خلکو ان پر عادي لارويانو هم خرڅول، ځکه چې د دوی عادي اشخاص د دې اثارو پر قدر نه پوهېدل. خو د ننداړتونونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر مهم او قيمتي اثار په ډېر دقت او مهارت سره چور او مهمو قوماندانانو پټو ځايونو ته انتقال کړل.

دا د افغانستان د ننداړتونونو غملړلی برخليک و. هغه چا چې مخکې دا سيمه ليدلې وه او اوس يې بيا وګوري، نو کېدی شي ويې نه پېژني او فکر وکړي، چې په خوب کې دا سيمه ګوري، يو وخت به هلته د علم او تمدن، پوهې او فرهنګ مينوال افغانان او بهرنيان د دغو ننداړتونونو کتنې لپاره ورتلل، خو اوس په کې د وزو، پسونو او غويو ګلې ګرځي. اوس يوازې د ننداړتونونو ولاړ او لغوړن شوي دېوالونه ښکاري او بس، چې يو لوی تېر شوی وحشت په کې ننداړې ته وړاندې شوی دی.

کوم اثار چې په دې ټولو ننداړتونونو کې موجود وو، په خواشينۍ سره بايد ووايو، چې د هغو بيا لاسته راوړل، لکه د افغانستان د نورې لوټ شوې فرهنګي شتمنۍ په شان ناممکن دي او نه يې څوک د زيان اندازه ټاکلی شي. هسې که په سرسري ډول هم محاسبه وکړو، نو تر لسګونو مليونو ډالرو اوړي. يوازې د هغو د ودانيو د بيا رغونې لپاره په مليونو ډالرو ته اړتيا ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۱۱))

# ځلي او منارونه

زموږ د هېواد په وينو لړلې برخليک همداسې جوړ شوی، چې هر کله دلته يو تمدن، يو انساني نظام، يو ټولنيز سمون او يو فرهنګي بهير منځته راغلی، بيا نو ورپسې داسې يوه سيلۍ خوره شوې، چې زموږ د ولس مېوې ته رسېدلې ونه يې نه يوازې دا چې ښورولې، پاڼې او مېوې يې ورته له منځه وړي، بلکې وچه کړې او سوې يې هم ده. پرديو له دغه او يا هغه ملک سره د مقابلې او نيولو په نامه خپل آسونه ددې خاورې پر شنه کرونده تېر کړي دي او د خپلې ځانپالنې، ځان غوښتنې او هوسپالنې په غرض يې يو وخت هم ددې ولس د واک ځوکۍ په ارامه پرېښې نه ده. د همدغو کړکېچونو په پايله کې مادي او معنوي شتمني وخت پر وخت د مرګ او نابودۍ تر کندې رسېدلې ده.

د هېواد د فرهنګ او تاريخي ارزښتونو د محوه کولو يو بل ناتار پر ۱۳۷۱ل کال پيل شو. د دې خونړۍ او تباه کوونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیلۍ په بهیر کې د افغانستان زیات تاریخي اثار محوه کړای شول. په دغو فرهنګي او تاریخي اثارو کې هغه څلي او منارونه هم شامل دي، چې د هېواد په پلازمېنې او نورو سیمو کې موجود وو. دا څلي او منارونه یا په بشپړ ډول او یا هم په نیمه ډول له منځه وړل شوي دي.

د کابل ښار د پل محمود خان په څلور لارې کې چې کوم منار (د ساعت برج) په نوم مشهور و، لومړی په توپونو او درنو ګولیو وویشتل شو، بیا نیمه ړنګ او وروسته بیا لکه د لاس ورغوي په شان اوار کړای شو.

د دهمزنګ په درې لارې کې، چې د سختو جنګونو مرکز و، د خپلواکۍ د ګټلو د یو تن نامتو مبارز (عبدالوکیل نورستاني) یادګاري څلی دی. دا څلی چې په ډېره ښکلې بڼه له مرمرینو ډبرو څخه جوړ شوی، له څو خواوو څخه په توغندیو او سپکو وسلو ویشتل شوی، خو تراوسه پوره ړنګ شوی نه دی او د منار د لاندیني متن په شاوخوا کې زغره والو وسایطو د خپلو زنځیرونو د ورانۍ نښې پرېښې دي.

د کابل ژوبڼ د ختیزې ډډې ترخنګ د خپلواکۍ د شهیدانو او اتلانو یادګاري څلی دی او پر ښکلو مرمرینو ډبرو د غازیانو او شهیدانو نومونه پرې لیک دي. سره له دې چې دا څلی روغ پاتې دی، خو د وړو مرمیو ډېر تېپونه یې پر بدن څرګند ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل پوهنتون ختیزې دروازې ته مخامخ د کابل د سناتوریم یادګاري منار دی، چې ډېر ښکلی برېښي. پر ۱۳۱۰-۱۳۱۲ل کال په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د سل د ناروغۍ د مخنیوي او علاج لپاره یو روغتون جوړ شو، دا د دغه روغتون د جوړېدو یو یادګاري منار دی، چې په ډېر ښکلي ډیزاین او جوړښت له ډېرو ښکلو مرمرینو ډبرو څخه ودان شوی. دا منار سره له دې چې درنو جګړو او مرمیو څخه خوندي پاتې شوی، خو د برېښنا د روښانتیا ځای یې ویجاړ شوی، په ورو ګولیو یې ځینې برخې ویشتل شوي او هم یې ځینې ډبرې ښورول شوي او بېځایه شوي دي.

د کابل پوهنتون په زړه کې د ختیځ د ستر نابغه او د اسلام روښانه مفکر سید جمال الدین افغان مقبره واقع ده، چې ډېر ښکلی څلی یې پرې جوړ کړی دی. د درې کلنو جګړو په ترڅ کې دې څلي ته هم درانه زیانونه اړول شوي، پر قبر او څلي په لسګونو لویې او ورې ګولۍ لګېدلي، خو څلی لا ولاړ دی.

د کابل د میوند واټ په منځنۍ برخه کې د افغان ولس د بریمنې سوبې (د میوند فتحې) یادګاري څلی په ډېره ښکلې او زړه وړونکې بڼه جوړ شوی و. د څلي په کښتنۍ برخه کې د افغان اتلې او د میوند له ویاړه ډکې قهرمانې ملالۍ له خولې دا راوتلې لنډۍ لیک وه:

کـه پـه مـیوند کې شهـید نـه شـوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه ! ))
د جګړو په ترڅ کې دا يادګاري څلې هم په غتو او وړو ګوليو ويشتل شوی او پر سينه پرېوتی، يوازې کمه برخه يې د زمکې پرمخ ښکاري، چې پر دې ځای د يو تېر شوي وحشت ښکارندويي کوي (۳۵) خو د وخت په تېرېدو سره دا څلی هم کېدی شي د محمود خان پُل د (ساعت برج) د منار په څېر پر سپين ږاګ بدل شي.

دغه راز د هېواد د ځينو ولايتونو په مرکزونو او نورو ځايونو کې چې کوم تاريخي منارونه، برجونه او څلي د تاريخ په بېلابېلو وختونو کې جوړ شوي وو، هغه هم يا په بشپړ ډول او يا هم په نسبي ډول ويجاړ شوي دي.

لکه د پغمان په سيمه کې د خپلواکۍ څلی (تاق ظفر) د لښکرګاه تاريخي دروازه، د هرات منارونه او د غور منار چې د اسلام د راتګ له لرغونو اثارو څخه شمېرل کېږي، (۲۸) متره لوړوالی لري او د يونسکو له خوا د نړۍ د مشهورو او نامتو تاريخي اثارو په لست کې شامل دی. (۳۶) او يو لړ نورو دې ډول اثارو ته ډېر زيانونه اوښتي او نور هم اوښتونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۱۲))

# تاريخي ودانۍ

د څلور کلنو جګړو په ترڅ کې هغو تاريخي او ښکلو ودانيو ته چې نه يوازې يې تاريخي ارزښت خورا زيات و، بلکې د جوړښت او انجنيري ساختمان له مخې هم په زيات مالي لګښت جوړې شوي وې، هم زيات زيان اړول شوی دی. اکثره دا ودانۍ نه يوازې مهم دولتي، سياسي او اداري مرکزونه پاتې شوي دي، بلکې د يو زيات شمېر هېوادوالو او نورو سيلانيانو لپاره د سيل، تفريح، ښکلا او ننداري ځايونه هم وو.

په دې ښکلو او تاريخي ودانيو کې د دارالامان ښکلې او تاريخي ماڼۍ، چې په ډېر مستحکم ډول او ظرافت سره د الماني انجنيرانو له خوا طرح او ډيزاين شوې وه په تېرو شلو کلونو کې څو ځله د جګړو له امله تر ګوزارونو لاندې راغلې ده. پر ۱۳۶۸ل کال کې په هغه جګړه کې چې ((د شهنواز تڼي کودتا)) په نامه مشهوره ده، سخته زيانمنه شوه. پر هغه وخت په دې ودانۍ کې د دفاع وزارت هم و او شهنواز تڼی هم د دفاع

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزیر و ، نو دا ودانۍ د جګړې د قوماندانۍ محل و. تر دې ودانۍ څخه لږ وړاندې مخ ښار پلو د (خاد پنځم ریاست) و او تر دې ودانۍ لږ شان پورته د تاج بېګ پر غونډیو نور پوځي قطعات وو ، چې د دوکتور نجیب الله د حکومت ملاتړ یې کاوه. په جګړه کې دا ودانۍ له همدغو دوو لورو او ځینو نور خواوو څخه تر سخت اور لاندې ونیول شوه. په نتیجه کې په سلګونو لویې او په زرګونو وړې مرمۍ پر دې ودانۍ ولګېدې، چې ودانۍ ته یې بې شمېره درونده مالي زیان واړوه. دغه راز کله چې دا ودانۍ د نجیب الله د پلوي ځواکونو ، چې جلال رزمنده او بابه جان هم په کې شامل وو ، ونیول شوه، دې ودانۍ کې اکثره دولتي شته لوټ او تالا شول.

تر دې جګړې وروسته د دوکتور نجیب الله د حاکمیت پر وخت د دې ودانۍ د بیا جوړونې لپاره پر هغه وخت په زرګونو ملیونه افغانۍ ولګول شوې، ودانۍ تقریباً له سره بیا ترمیم شوه. تر دې ودانۍ لږ شان پورته د تاج بیګ په تپه کې یو بل تاریخي قصر هم ودان و ، چې هغه ته هم په همدې جګړه کې زیات زیان واړول شو.

کله چې د ۱۳۷۱ل کال د ثور پر میاشت د مجاهدینو مختلفې ډلې کابل ته دننه شوې، نو ښار هم پر مختلفو ډلو ووېشل شو. ان د ارګ ودانۍ هم د څو بېلابېلو تنظیمونو لاسته ورغله. هر کله چې دا ودانۍ له یو تنظیم نه د بل لاس ته ورتلې، نو هر یوه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ځواک او توان په اندازه د خپل قسمت مطابق د خپل چور برخه وړله. لنډه دا چې د جګړې په کلونو کې په ودانیو کې هېڅ شتمني پاتې نه شوه. د خونو کوم دېوالونه چې پاتې وو، هغه په مرمیو، توغندیو، چاودنو او هوايي بمباريو کې داسې وسوځول شول او ونړول شول، چې ځینې ودانۍ يې بيا بشپړې ودانۍ ته اړتيا لري او ځینې په قسمي توګه بيا رغونې ته اړتيا لري. د دلکشا او ګلخانې ماڼۍ چې د هر وخت د افغانستان د واکمنو د اداري چارو او ليدنو کتنو ځايونه پاتې شوي وو، په خورا ظرافت او ښکلې معمارۍ سره جوړ شوي وو اوس د يو داسې لوی وحشت عکاسي کوي، چې د انسان د سر وېښتان ورته جګېږي. د ماڼيو دېوالونه په لويو او وړو مرميو سوري سوري دي، د ماڼيو ټول متنونه چې په لوکسو غاليو پوښتل شوي وو اوس سپېره مېره معلومېږي. هغه غالۍ چې د ځمکې له متن سره سريښ شوې وې او د راټولېدو امکان يې نه و، په برچو سورې سورې شوي دي. په دې ودانيو کې د لرګيو داسې الماري په داسې ظرافت سره جوړې شوې وې، چې کېدی شي د خپل وخت د امکاناتو په پام کې نيولو سره يې په ټولو ګاونډيو هېوادو کې سارې نه درلود او په هرې الماري د افغانستان د دولت نښان او بيرغ انځور شوی و، اوس په برچو او ګوليو سورې سورې شوي او هنداري يې په ګوليو ويشتل شوې دي. هر چا چې پخوا د دې ودانيو شان او شوکت، ظرافت او ښکلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلي وي او اوس یې په دې ښه وګوري، نو چې د کانې او ډبرې زړه هم ولري له سترګو به یې اوښکې راشي، اوس د دې ودانیو پر الماریو، چې یو وخت به هلته ماشی هم په ادب تېرېده او غړېده، بېلا بېلو ملېشو او جګړه مارو په تباشیر او نورو ډول ډول رنګونو خپل منفور یادګارونه لیکلي، چې د دې ښکارندویي او انځورنه کوي، چې څه ډول او د کوم فرهنګ درلودونکي اشخاص ددې جرم مرتکب شوي دي. د دې دوو ماڼیو او په ارګ کې دننه د ځینو نورو ودانیو د بیا جوړښت لپاره د پیسو اټکل خورا ګران کار دی او زیاته څېړنه غواړي.

تر ارګه لږ لرې د څو کیلو مترو په واټن د چهلستون تاریخي ودانۍ او ښکلي باغ موقعیت درلود، چې د بهرنیو مېلمنو او د افغانستان د مهمو غونډو د جوړولو لپاره مناسب ځای و او د ځانګړې ښکلا لرونکې وه. د ۱۳۷۱ ل کال د ثور د میاشتې په هماغو لومړنیو جنګونو کې دا ودانۍ وسېزل شوه او ټول شته یې چور شول. تر دې ودانۍ څو کیلو متره مخ ښار پلو د خوشال بابا لېسه جوړه وه، چې ترڅنګ یې د بابرباغ، رستورانت او ودانۍ جوړې وو. دا سیمه ډېر وخت د جګړې لومړنۍ لیکه پاتې شوه او په زرګونو توغندي او درنې مرمۍ یې پر سینه ورتش شول او هر څه چې په کې وو، هغه له خاورو سره برابر شول. د جګړې اور یوازې په کابل کې پاتې نه شو، د کابل ښار په شمال کې د استالف کابو ۸۵ کلنه تاریخي ودانۍ موجوده وه، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استالف د تخت پر سر ودانه وه. دا ودانۍ هم د جګړې بلا تر ستوني تېره کړه، همدا ډول نورې په لسګونو تاريخي او ښکلې ودانۍ، چې د هېواد په مرکز او بېلابېلو ولايتونو کې له کلونو راهيسې ابادې وې، خو جګړو ونړولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۱۳))

# بیهقي کتاب خپرولو موسسه

افغانستان د کتاب چاپولو او خپرولو له پلوه د نړۍ تر ډېرو هېوادونو شاته پاتې و، خو په تېره نیمه پېړۍ کې په افغانستان کې هم د کتاب د چاپ او خپرولو دود ورځ پر ورځ ګړندی کېده، د نوي عصري تعلیمي سیستم منځته راتګ، د ژوندانه ضرورتونو، د زده کړې قشر زیاتون او د نورې نړۍ اغېزو دلته هم د کتاب له چاپ او خپرولو سره مرسته وکړه، خو بیا هم د نورې دنیا په انډول او د ځینو نږدې او لرې هېوادونو په تناسب دلته لږ شمېر کتابونه چاپ او خپاره شوي دي یو خو دا چې د افغانستان اکثریت ټولنه نالوستې وه، بل تنګو اقتصادي شرایطو او د کتاب پر چاپ او خپرولو باندې د وخت د حکومتونو حاکمیت هم څه ناڅه ددې کار مخه ونیوله، چې د کتاب بازار دې منځته راشي، بله وجه دا هم وه، چې د کتاب د خرڅلاو له لارې بېرته د کتاب لګښت لاسته نه راته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم کتابونه چې د افغانستان په چاپخونو کې چاپ شوي له تعليمي او څو عنوانو سياسي کتابونو پرته، چې تيراژ يې لسګونو زرو ټوکو ته رسېده، د نورو ټولو کتابونو (د هر عنوان) شمېر ۵۰۰، ۱۰۰۰، ۲۰۰۰ او يا پنځه زرو ټوکو ته رسېده.

تعليمي او څه نا څه سياسي کتابونه په وړيا ډول د لوستونکو په واک کې ورکول کېدل او پاتې نور کتابونه هم په ځينو علمي غونډو او سيمينارونو کې د بېلابېلو مناسبوتونو تر عنوان لاندې په وړيا توګه وېشل کېدل. يو ټاکلى شمېر علمي او ادبي کتابونه تر تمام شوي قيمت نه په ډېره ټيټه بيه د دولت له خوا بازار ته وړاندې کېدل.

لنډه دا چې په افغانستان کې د کتاب د خرڅلاو د بازار په اړه ول د وړيا وېش دود ډېر ګرم و، خو له دې سره سره د لوستي قشر او د ولس د اقتصادي ستونزو په پام کې نيولو سره د کتاب د خرڅلاو او اخيستو بازار په تدريجي ډول او ګام پر ګام خپلې پوړۍ وهلې.

په افغانستان کې د کتاب خپرولو او پلورلو تر ټولو لويه موسسه (د بيهقي کتاب خپرولو موسسه) وه. نوموړې موسسه د يوې ځانګړې تصدۍ په توګه پر ۱۳۵۷ل کال تاسيس شوه او تر دې د مخه يې د دولتي مطابعو د رياست په چوکاټ کې (د بيهقي کتاب چاپولو موسسه) په نامه فعاليت کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرنګه چې دا یوه تصدي وه، نو د کتاب چاپولو له ټولو کورنیو موسسو، منابعو او هم د پخواني شوروي اتحاد د کتاب چاپولو له ځینو سرچینو سره یې اړیکې درلودل؛ هغوی خپل کتابونه دوی ته رالیږل او دوی د یو ټاکلي کمېشن په مقابل کې هغه د خپلو کتاب پلورنځیو له لارې پلورل.

د بیهقي کتاب خپرولو موسسې تر ۱۳۷۱ل کال دمخه یوازې په کابل ښار کې **۲۵** څانګې او تر هغه وروسته **۱۵** څانګې درلودې. همدارنګه دې موسسې د هېواد په ځینو ولایتونو کې **۱۸** نورې څانګې هم درلودې، چې د دې څانګو له لارې یې لوستونکو ته هر ډول کتابونه وړاندې کول.

تر **۱۳۷۱**ل کال وروسته د جګړو او ځینو نورو عواملو له کبله د ټول هېواد په سطح د دې تصدۍ یوازې **۳** څانګې په کابل ښار کې پاتې شوې، چې هغه هم کېدی شي د ټاکلي وخت په تېرېدو سره له منځه لاړې شي.

د بیهقي کتاب خپرولو تصدي یو مرستیال ښاغلي شاه زمان وریځ ستانیزي وویل: له (( **۱۳۵۷**ل کال راهیسې دې تصدۍ ته د **۲۵۰۰** عنوانو په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه راوړل شوي دي. د **۱۳۷۱**ل کال پر لومړیو وختونو د دې تصدۍ په کتاب پلورنځیو کې د **۱۵۰۰** عنوانو په شاوخوا کې کتابونه موجود وو، چې عمومي شمېر یې تقریباً دوه ملیونه جلدو ته رسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۳۷۱ل کال د ثور میاشتې له ۸ تر ۱۰ نېټې پورې تقریباً یو ملیون ټوکه کتابونه د بیهقي تصدۍ له کتاب پلورنځیو څخه راټول او د سیاسي- کمونیستي کتابونو په نوم ورته اور واچول شو او ایره یې کړل. نور پاتې یو ملیون ټوکه کتابونه په راوروسته جګړو او چپاولونو کې چور او له منځه یوړل شول.

که په تقریبي او اټکلیزډول د پورتنیو دوو ملیونو ټوکو کتابونو مالي ارزښت وسنجوو، نو زموږ د ټولنې لپاره به د معنوي زیان ترڅنګ یو دروند مالي زیان هم وګڼل شي. که په اټکلیز ډول او متوسطه توګه د یو کتاب مالي ارزښت دوه امریکایي ډالره اټکل کړو، نو په مجموعي ډول به څلور ملیونه امریکایي ډالره شي، معنوي او پوهنیز ارزښت خو یې لا پرېږده، چې هغه خو په دې معیارونو او تلو هڅو سنجبدی نه شي.

سربېره پر دې د بیهقي تصدۍ د کتاب پلورنځیو د ودانیو فزیکي جوړښت ته درانه زیانونه اړول شوي او ځینې خو یې بېخي له منځه وړل شوي دي. مېزونه، څوکۍ، د کتاب ساتلو او پلورلو وسایل، اسناد او وسایط ټول تباه کړای شوي دي. د نوموړې تصدۍ د یوه کارکوونکي په قول لږ تر لږه دوه ملیونه امریکایي ډالره په کار دي، چې د دې تصدۍ کتاب پلورنځي پرې له سره جوړ او د چارو نور تخنیکي وسایل پوره شي. (۳۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ((۱۴))
# عامه کتابتون

عامه کتابتون په افغانستان کې د ډېرو سترو کتابتونونو له جملې څخه و، تر **۱۳۴۵**ل کال پورې يې د ښوونې او روزنې وزارت په چوکاټ کې فعاليت کاوه، وروسته بيا په اطلاعاتو او کلتور وزارت پورې وتړل شو. بيا يې په کابل ښار او ولسواليو کې **۲۸** څانګې پرانستلې، چې ټول **۱۰۳۰۹۵** عنوانه کتابونه په کې خوندي وو. وروسته يې په ولايتونو کې **۵۱** بېلابېلې څانګې پرانستلې، چې **۱۰۴۹۷۱** عنوانه کتابونه په کې د مطالعې لپاره ايښودل شوي وو.

عامه کتابتون تر **۱۳۷۱**ل کال پورې په ټول افغانستان کې **۷۹** کتابتونونه درلودل، چې **۲۰۸۰۶۶** عنوانه کتابونه په کې خوندي وو.

پر **۱۳۷۱**ل کال د هېواد د نورو فرهنګي مرکزونو په شان عامه کتابتون ته هم درانه زيانونه واړول شول. تقريباً د عامه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولې څانګې له منځه يوړل شوې، اکثره کتابونه چور او غلا شول.

د مسوولينو په وينا اوس د ټول افغانستان په سطح د عامه کتابتون ۳ څانګې پاتې دي او نورې ټولې له منځه وړل شوي دي، چې د دوی په قول اوس په کې ۸۹۰۴۹ عنوانه کتابونه پاتې دي.

د BBC راډيو د يو خبر ترمخه له عامه کتابتون څخه ۲۷ زره عنوانه کتابونه غلا شوي دي. (۳۸) خو د عامه کتابتون د ځينو مسوولينو د څرګندونو له مخې له عامه کتابتون څخه په مجموعي ډول تر يو سل زره عنوانو څخه زيات کتابونه غلا شوي دي. (۳۹)

د کتابونو تر چور او چپاول سربېره هغو ودانيو ته هم زيات زيان اړول شوی، چې د هېواد په بېلابېلو ځايونو کې د کتابتونو لپاره جوړې شوې وې. دا ودانۍ يا په بشپړ او يا هم په قسمي ډول له منځه وړل شوې دي.

په خپله د عامه کتابتون مرکزي ودانۍ ته هم د توغنديو د لګېدو په وجه زيات زيان اړول شوی دی. دغه راز ويل کېږي د مرکزي کتابتون د مجلو او اخبارونو له څانګې څخه د مجلو او اخبارونو ځينې کلکسيونونه هم ايستل شوي دي. د کتابتون د ټول رسېدلي زيان د اندازې ټاکل خورا ګران کار دی. د کتابتون مسوولين وايي، چې دې کتابتون ته تر زر مليونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانیو زیات مالي زیان اوښتی دی، خو که موږ لږ تر لږه د کتابتون یو سل زره عنوانه کتابونه په پام کې ونیسو، سره له دې چې تر دې به هم زیات وي او د هر کتاب بیه له اوسني نرخ سره سمه ۴ ډالره اټکل کړو، نو یوازې به د کتابونو له درکه ځلور سوه زره ډالره زیان اوښتی وي، که د کتابتون د وسایلو، وسایطو او خپله د ودانیو رسېدلی زیان په پام کې ونیسو، نو دا تر پنځه سوه زرو ډالرو هم اوړي، چې د اټکل له مخې کېدی شي لږ تر لږه ټول یو ملیون ډالره محاسبه شي، که چېرې دا په افغانیو واړوو، نو د نني نرخ له مخې به ځلیریشت زره ملیونه افغانۍ شي.

## د کابـــل پوهنتـــون، د طـــب او پولیتخنیـــک انستیتیوت او ځیني نور کتابتونونه:

لکه د کابل پوهنتون په بحث کې چې مو وویل، د کابل پوهنتون مرکزي کتابتون د هېواد له سترو کتابتونونو څخه و. دغه راز د کابل پوهنتون پر مرکزي کتابتون سربېره د نوموړي پوهنتـون ۱۳ ګونـو بېلابېلـو پوهنځیـو هـم اکثـرو ځـانګړي کتابتونونه درلودل. ان تر دې چې د کابل پوهنتون ۵۲ بېلابېلو څانګو هم اکثرو کتابتونونه درلودل. ځینو استادانو د پوهنتون په ساحه کې د ځان لپاره واړه ځانګړي کتابتونونه جوړ کړي وو، خو دا اکثره له منځه یوړل شول. د دې ټولو کتابونو بشپړ او

د قیق شمېر معلوم نه دی، خو په مجموعي ډول د ټولو شمېر تر دوو ملیونو ټوکو زیاتېږي.

د کابل طب انستیتیوت هم د ېته ورته کتابتونونه درلودل، چې یوازې له مرکزي کتابتون څخه یې ۵۰۰۰۰ زره عنوانه کتابونه وړل شوي او سېزل شوي دي. د طب پر مرکزي کتابتون سربېره په دې انستیتیوت کې د محصلینو د زده کړې هغه په زرګونو ټوکه بېلابېل کتابونه هم اکثراً تباه شوي، چې د محصلینو په درسي پروګرام کې شامل وو.

کابل پولیتخنیک هم پر همدې ډول برخلیک اخته شو. د پولیتخنیک په مرکزي کتابتون کې کتابونه اکثره چور او غلا شول. سربېره پر دې په ځینو وزارتونو کې هم یو لړ بډایه کتابتونونه موجود وو، چې پر کابل ښار باندې د جګړې د واکمنۍ پر کلونو یا په بشپړ ډول او یا هم په نسبي ډول زیانمن شوي دي. په دې کتابتونو کې د ښوونې او روزنې وزارت کتابتون او د سرحدونو چارو وزارت کتابتونونه هم شامل دي. د ښوونې او روزنې وزارت له کتابتون څخه یو ټاکلی شمېر کتابونه او د سرحدونو چارو وزارت له کتابتون څخه اکثره کتابونه غلا شوي دي.

دغه راز په نورو اکثرو وزارتونو او دولتي ادارو کې، چې هغوی د خپل کار او اړتیا مطابق کوم کتابتونونه جوړ کړي وو، هغه هم پر همدې برخلیک اخته شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــر وزارتونــو او دولتــي ادارو ســربېره د هېــواد پــه اکثــرو ښــوونځيو، روزنيــزو، تعليمــي او تحصــيلي موسســو کــې هــم د هغــوی د ســطحې او اړتيــا وړ کتابتونونــه موجــود وو، چــې د هغوی هم اکثره له منځه وړل شوي دي. د دې ټولو کتابونو دقيـق شمېر ټاکل ناشونی دی، خو په تخميني ډول تر مليونونـو ټوکـو اوړي.

## د ارګ کتابتون:

د ارګ دننه د ښکلو ودانيو په منځ کې يو ډېر ښکلی او مجهـز کتابتون موجود و، چې د ډېرو کلونو پـه موده کـې د ګـڼ شـمېر علمي، ادبي او تاريخي کتابونو ترڅنګ په دې کتابتون کې يـو زيات شمېر خطي نسخې، چې پـه پښـتو او فارسي ژبو ليکـل شـوې وې، هـم موجـودې وې. دې کـې داسـې خطـي نسـخې هـم موجودې وې، چې تراوسه لا چاپ شوې نه وې او زمـوږ د ادب او فرهنګ لپاره ډېرې مهمې ګڼل کېدلې.

د ۱۳۷۱ل کـال د ثـور مياشـتې پـر ۷، ۸، ۹ نېټـه پـه ارګ کـې درنې جګړې وشوې، دغه راز د ارګ ودانۍ داسې ملېشـو تـه پـه لاس ورغله، چې نه يوازې له فرهنګ سره يـې مينـه نـه درلودلـه، بلکې په وحشت، دهشت، غلا، چور او چپاول کې يې ريکـارډ ټينګ کړی و. دوی د ارګ د نورو شتمنيو د لـوټ ترڅنګ د ارګ کتابتون ته هم لويه ضربه ورکړه. تر هغه وروسته پر ارګ بانـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ځله بمباري وشوه، څو ځله په کې چاودني وشوې او په زرګونو توغندي پرې وورول شول. اوس د ارګ اکثره ودانۍ یا په بشپړه ډول او یا هم په نیمه ډول زیانمنې شوې دي. د کتابتون هم هېڅ درک نه شته، یوازې د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په کور، چې اوږدې پردې پرې راځړول شوې دي، په چوپه او غلې ژبه د یوې لویې تېرې شوې غمیزې بیان کوي، په خونه کې یو څه کتابونه خوندي پاتې دي. څرنګه چې پر دې وخت د ارګ د کتابتون هغه پخواني مسلکي مامورین دندو ته نه راځي، نو په دې وجه د کتابتون د غمیزې داستان او د ضایع شویو کتابونو او د کتابتون د چور او چپاول ټوله کیسه پوره بیان نه شوه، خو په غالب ګمان هر څومره چاپي کتابونه او خطي نسخې چې په دې کتابتون کې خوندي وو هغه ټول چور شوي دي. د ارګ کتابتون له دې پلوه هم د زیات ارزښت درلودونکی و، چې په ښه ظرافت او ښو امکاناتو سره جوړ شوی و او بل دا د ټول هېواد په سطح هغه یوازینی کتابتون و، چې نه یوازې محققینو ترې ګټه اخیستله، بلکې د هېواد مخورو سیاسي اشخاصو او لومړۍ درجې واکوالو لپاره هم د مطالعې او ماخذ یوه منبع وه.

## (( د وطن ګوند )) کتابتون:

د وطن ګوند مرکزي کتابتون د هېواد له ډېرو سترو او لویو کتابتونونو څخه و. دا کتابتون چې د نوموړي ګوند په هڅو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو کلونو په بهير کې جوړ شوی و؛ زيات شمېر کتابونه او د بېلابېلو کورنيو او بهرنيو مجلو او اخبارونو کلکسيونونه په کې خوندي وو. سره له دې چې په دې کتابتون کې اکثره هغه کتابونه راټول شوي وو، چې د نوموړي ګوند له سياسي تګلارې سره سم مطالب په کې چاپ شوي وو، خو بيا هم يو زيات شمېر علمي، ادبي، تاريخي او نور کتابونه په کې موجود وو، چې د هېواد علمي کړيو ورځخه ګټه اخيستلای شوه. له فزيکي پلوه پر کتابتون خورا زيات لګښت شوی و او د يو عصري او مجهز کتابتون د بډايه کولو لپاره يې زياتې هلې ځلې کړې وې. د دوی ځينې دا هڅې تر دې حده هم رسېدلې وې، چې له ځينو نورو مهمو کتابتونو، لکه عامه کتابتون او نورو څخه يې ځينې مهم کتابونه او د مجلو او اخبارونو کلکسيونونه په زور او يا د واک د نفوذ پر اساس، دې کتابتون ته راوړي وو. په همدې وجه د دوی په دې عمل په ځينو فرهنګي کړيو او اشخاصو کې انتقادي ګونګوسې راپورته شوې و.

دا کتابتون د ۱۳۷۱ل کال د ثور پر ۷-۸ نېټه او وروسته تر هغې په ځو نورو جګړو کې له يوې مخې چور شو او هغه په زرګونو عنوانونه بېلابېل کتابونه، مجلې او د اخبارونو کلکسيونونه، چې په دې کتابتون کې موجود وو، ټول له سترګو پناه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ((د ځوانانو سازمان)) مرکزي کتابتون:

دا کتابتون چې د نوموړي سازمان له خوا جوړ شوی و او د هغه مال ګڼل کېده، د ۱۳۷۱ل کال د ثور پر ۸-۹-۱۰ نېټو، چې د کابل ننداري، شاه شهید او حضوري چمن په سیمه کې د اسلامي حزب او اسلامي جمعیت او د دوستم د ملېشو ترمنځ کوم جنګونه پیل شول، ټول له یوې مخې چور شو. دا کتابتون سره له دې چې د وطن ګوند د کتابتون په پرتله بډایه نه و، خو بیا هم ډېر درونډ مالي لګښت پرې شوی و. د داخلي اخبارو، مجلو او کتابونو ترڅنګ یې یو شمېر هغه خپروني هم درلودلې چې په پښتو او دري ژبو په ځینو نورو هېوادونو په ځانګړې ډول په شوروي اتحاد کې چاپ شوې وې. دا کتابتون د ((ځوانانو سازمان)) د خپل سیاسي تګلوري له فکر سره سم ګڼ شمېر شوروي چاپ کتابونه هم درلودل، خو د دې ترڅنګ داسې ادبي، هنریي، ذوقي، علمي او نور کتابونه او اثار هم په کې موجود وو، چې ډېر ګټور او په زړه پورې وو.

## شخصي کتابتونونه:

کله چې جګړه له کلیو نه پر ښارونو راخوره شوه، نو د عامه دولتي فرهنګي شتمنۍ ترڅنګ هغه فرهنګي شتمنۍ هم له منځه یوړل شوې، چې په خپله په لیکوالو او پوهانو پورې یې اړه درلوده. په دې کې د لیکوالو هغه کتابتونونه شامل دي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی د خپل ټول عمر په اوږدو کې په ډېر زيات زيار او زحمت جوړ کړي وو. د دې ډول ځاني کتابتونونو شمېر خورا زيات دی. د افغانستان په ګوټ ګوټ په تېره بيا په مهمو ښارونو له هغې جملې څخه په کابل ښار کې ځينو ليکوالو او پوهانو ځانته شخصي کتابتونونه درلودل. دلته د ساري په توګه د څو ليکوالو د کتابتونونو نومونه اخلو:

## د لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي کتابتون:

د کابل په جمال مېنه کې د لوی استاد کور واقع و. دې کور نه يوازې زموږ فرهنګي کړيو ته له دې پلوه زيات ارزښت درلود، چې د استاد ځيني کتابونه او ځيني خطي نسخې په کې خوندي وو، بلکې له دې پلوه هم د زيات ارزښت درلودونکی و، چې دا د افغاني د فرهنګ د يو ستر خدمتګار او پالونکي کور و. ډېرې شپې او ډېر وختونه دا کور د ليکوالو او فرهنګيانو د ناستې ځای پاتې شوی او ډېرو ليکوالو او د علم او پوهې لارويانو همدې کور ته د خپل علمي مشکل د حل لپاره د يوه ماخذ په توګه ځان رارسولای دی.

په همدې فرهنګي کور کې د لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي بډايه علمي کتابتون هم موجود و (۴۰) په دې کتابتون کې ګڼ شمېر علمي، ادبي، تاريخي او سياسي کتابونه او ډېرې زياتې خطي نسخې خوندي وو. سره له دې چې ويل کېږي تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړې وړاندې موده کې د استاد له دې کتابتون څخه یو شمېر مهم کتابونه او خطي نسخې یو خوندي ځای ته انتقال شوي وو، خو بیا هم د استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په قول د استاد علامه عبدالحی حبیبي په ځاني کتابتون کې ډېر زیات شمېر کتابونه او خطي نسخې خوندي وو، چې د زیات تاریخي او علمي ارزښت لرونکي وو.

د استاد کور په هغو جګړو کې له یوې مخې وسوځول شو او رنګ بنګ شو، چې د نظار شورا او وحدت حزب ترمنځ پر بېلابېلو وختونو د کابل پوهنتون او د جمال مېنې په نورو برخو کې ترسره شوې. اوس د استاد په کور کې هېڅ شی پاتې نه دي، یوازې سوي او نیم رنګ ولاړ دېوالونه پاتې دي، چې پر دې سیمه د یوې لویې خونړۍ او ورانوونکې تېرې شوې غمیزې انځورنه کوي.

د لوی استاد عبدالحی حبیبي تر کتابتون وروسته د استاد پوهاند صدیق الله رښتین پر کتابتون هم دا ناورین خور شوی. د استاد رښتین کتابتون هم د کابل ښار په غربي سیمه کې واقع و، دلته هم جګړې ورځ په ورځ زور اخیسته. د استاد رښتین کتابونه هم ټول چور او تالا شول. په دې کتابتون کې هم د افغاني ادب او فرهنګ ګڼ شمېر کتابونه او هم نور ډول ډول کتابونه او خطي نسخې خوندي وو. د جګړې په شپو ورځو کې ډېر داسې کتابونه د کابل ښار په تړو کې له کتاب پلورونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره پیدا شول، چې د استاد پوهاند صدیق الله رښتین د کتابتون ښه پرې لګېدلې وه.

د کابل د زړو مکروریانو په سیمه کې د هېواد نومیالي عالم کاندید اکاډمیسین محمدصدیق روهي کور واقع و. د استاد په کور کې د هغه له ځاني کتابتون څخه ګڼ شمېر کتابونه د نابودۍ کندې ته رسول شوي دي. همدا راز د کابل ښار د درېیم مکروریان په سیمه کې د هېواد بل عالم کاندید اکاډمیسین محمدابراهیم عطایي کور او کتابتون واقع و. د استاد عطایي په کتابتون کې د ده په وینا (اوه زره) عنوانه بېلابېل علمي، ادبي او تاریخي کتابونه خوندي وو. دا کتابونه د یونسکو له خوا هم کتل شوي او ثبت شوي وو.

د ۱۳۷۲ل کال د جدي د میاشتې د خونړیو جګړو له امله غلو او داړه مارو دې کتابتون ته هم مخه وکړه او ټول کتابونه یې غلا کړل. دې سره ورنږدې د هېواد د دوو تنو نورو نامتو لیکوالو استاد واصف باختري او رهنورد زریاب کورونه او کتابتونونه واقع وو. په دې کتابتونونو کې هم ډول ډول مهم او قیمتي کتابونه موجود وو. پر دې کتابتونونو هم ورته ناتار خپور شو.

د همدې مکروریانو په بله غاړه کې د نومیالي شاعر سلیمان لایق ځاني کتابتون واقع و. هغه هم چور او چپاول شو، څو موده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ډېر داسې کتابونه په بازار کې وموندل شول، چې د سليمان لايق د کتابتون ټاپه پرې لګېدلې وه.

په زړو مکروريانو کې د افغانستان د بل نوميالي ليکوال پوهاند دوکتور مجاوراحمدزيار کور او کتابتون واقع و. د استاد کتابونه او د کور نور لوازم هم د غلو او لوټمارو ښکار شول. د استاد زيار کتابتون هم له هغو کتابتونونو څخه و، چې د ډېر زيات ارزښت او اهميتت درلودونکی و، د استاد د ټول عمر د زيار او ثمر نتيجه وه او ګڼ شمېر علمي، ژبني او نور ډول ډول اثار په کې خوندي وو.

د استاد زيار له کوره څو بلاکه وړاندې د علومو اکاډمۍ د يو بل غړي ښاغلي محمد ولي مندوزي کور موقعيت درلود، چې خپل ګڼ شمېر کتابونه يې په کې خوندي کړي وو. د مندوزي صيب ټول کتابونه د هغه د کور له اکثرو کاليو سره په همدې کور کې د توغندي د لګېدو له کبله پر ايرو بدل شول.

په همدې زړو مکروريانو کې د ښاغلي پوهنوال زېورالدين زېور او پوهندوی زرغونې زېور کور واقع و، د دوی کتابتون هم د دوی د کور له اکثرو کاليو سره له منځه يوړل شو.

د مکروريانو تر پخو او اوسپنيزو کورونو لږ څه وړاندې هلته د زمانخان کلا په خامه او خټينو کورونو کې د هېواد نامتو عاطفي شاعر اسحق ننګيال په يوه کرايي کور کې خپل نازولي ماشومان (کتابونه) خوندي کړي وو، د جګړې ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې يې له همدې ښوزلو او ښکسه ماشومانو سره، چې په دې شپو او ورځو کې د شپې او تيارې بڅې توره په لاس ورپسې ګرځېدل تېرې کړې، خو د ننګيال په شعر کې د ټول عمر رالويو شويو عاطفي لښکرو د دې وس نه درلود، چې دا نازولي او بې ضرره ماشومان د مرګ د تورې بګوې له خولې راوژغوري، په پای کې هغه ټول د نورو همزولو غوندې د همدې وبا او همدې ښامار خولې ته وغورځېدل. تر ننګياله څو کيلو متره لرې هلته د شاه شهيد(رح) د زيارت په سيمه کې يو بل ښکسه او ښوسه شاعر اوسېده، د شمشاد د غره پر سر د خيال په وربښمو او عاطفي جامو کې ناست و، ډېرې چيغې وهې خو څوک يې اواز نه اوري. د ښاغلي نصرالله حافظ ختيينه کوډله همدلته ودانه وه. ده د خپلو دردونو د رازو نياز ملګري له کلونو کلونو جرګو، مرکو او منډو ترړو وروسته همدلته راټول کړي وو او هره شپه چې به پرې د غم لښکرو زور راوور، نو ده به خپلو همدې نږدې ملګرو (کتابونو) ته پناه وروړه او د غم بار يې ورسره وېشه. له حافظ صيب څخه يې خپل دا خواږه ملګري پر ډېر لنډ وخت داسې جلا کړل، چې بيا به يې په ټول عمر کې مخ هم ونه ګوري. حافظ صيب له خپله کوره لرې په تايمني کې مهاجر شو. يوه ورځ زه د هغه ليدو ته ورغلم، هغه په يوه سپېره خونه کې ناست و، نه يې څنګ ته کتاب و او نه د شاعرۍ هغه رباب و، چې حافظ صيب به د خپلې ځوانۍ وير په کې کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر شخصي کتابتونونو د راغلیو غمیزو په لړ کې د یوې بلې سترې او دردونکې غمیزې یادونه په ځانګړې توګه د یادونې وړ ده.

د افغاني فرهنګ لوی خدمتګار سرمحقق زلمی هېوادمل چې افغاني احساس او عاطفې یې د وجود ټول رګونه نیولي دي. پښتو ادب ته یې نه یوازې تر دوو سوو ټوکو زیات کتابونه، چې یا د ده د قلم تر نوکې راوتلي او یا هم د ده د زیار په برکت چاپ او خپاره شوي، ورکړي، بلکې ټول ژوند یې هم له افغاني فرهنګ څخه لوګی کړی دی. استاد هېوادمل چې په افغانستان کې زموږ د یو لیکوال په قول ((د ژوندۍ اکاډمۍ)) حیثیت لري، تر هر چا زیات پر کتاب مین دی. د استاد هېوادمل ټول ژوند د کتابونو په پاڼو کې ډوب و. که سړی انصافاً دا خبره وکړي، چې ډېرو لږو کسانو به د پښتو ادب په خدمت کې د زلمي هېوادمل په اندازه خولې تویې کړې وي، نو له انصاف نه به لرې نه وي. دا خبره په دې مانا نه ده، چې تر هېوادمل صیب نه چا زیات خدمت نه دی کړی، بلکې مقصد مې له منډو ترړو، خولو تویولو او د ځاني ژوند له قربانۍ څخه دی. داسې ډېر کم خلک به پیدا شي، چې د ژوند خوږې ورځې یې د خپل فرهنګ لپاره پر ځان ترخې کړې وي او شپې یې هم رڼې سبا کړې وي. نه یوازې دا چې خپل فردي ژوند یې د قربانۍ په پوله ودرولای، بلکې خپله ټوله کورنۍ یې هم په دې قربانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې شریکه کړي. زما خو هېڅ وخت دا سې نه یادېږي، چې هېوادمل صیب دې ځان له فرهنګي کارونو څخه، لکه د نورو مامورینو په شان پر رسمي وخت خلاص کړی وي او کور ته دې د دمې او استراحت لپاره تللای وي، همېشه په ده شپه راغلې او په شپه کې یې کور ته مزل کړی او دا هم په همدې هیله چې یو روښانه فرهنګ ته لاره وکړي. دلته انصافاً او اخلاقاً د مرحوم روهي صیب او په خپله د هېوادمل صیب له درنې کورنۍ څخه مننه او قدرداني په کار ده، چې د هېوادمل صیب د فرهنګي چارو لپاره یې په ډېره قربانۍ لاره اواره کړې ده، خو اوس راځو دېته، چې د هېواد مل صیب پر دې دومره قربانیو، جګړې او جګړه مارو د زړه رحم وکړ او که نه؟ په خواشینۍ سره باید ووایو، چې نه هېڅکله نه!

هېوادمل صیب پر کتاب پاللو او ساتلو دومره مین و، چې هر کتاب به په هر ځای کې نوی چاپ شو، نو له هغه سره به یې یو ټوک موجود و. په دې وجه کوم پښتو او دري کتابونه چې په افغانستان کې چاپ شوي د هغو ډېرې کمې بېلګې که هېوادمل صیب سره موجودې نه وي، نور اکثره کتابونه ورسره موجود وو. دغه راز هغه پښتو کتابونه، چې په کوزه پښتونخوا کې چاپ شوي وو، هم اکثره یې له هېوادمل صیب سره موجود وو. له چاپي کتابونو سربېره له هېواد مل صیب سره د پښتو ادب خطي نسخې او همدارنګه په فارسي ژبه ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياتې خطي نسخې موجودې وې، چې تر دې وخته يې لا ځينو چاپ ته لاره نه وه کړې. کله چې پر کابل جګړه پيل شوه نو اورونه يې د هېوادمل صيب تر کتابونو هم ورورسېدل. زيات کتابونه يې تيت و پرک او ځينې يې چور شول. تر ټولو د غم خبره لا دا وه، چې د هېوادمل صيب په لاس په ډېر زيار او زحمت راټولې شوې خطي نسخې هم چور او غلا شوې او څو مياشتې وروسته يې د پېښور په بازارونو کې سر راوېست. د ځوان ليکوال او پر خپل فرهنګ مين اورنګزېب افغان دې کور ودان وي؛ د همدې خطي نسخو پر يو شمېر ورپېښ شو، هغه يې په خپلو پيسو له بازاره واخيستې او بېرته يې هېوادمل صيب ته ورحواله کړې، خو دا د ګوتو په شمار خطي نسخې وې او نور ګڼ شمېر کتابونه او خطي نسخې چې د هېوادمل صيب له کتابتون څخه چور شوې، بيا تر ننه چا ونه لېدلې.

د کابل ښار د دربيم مکروريانو په سيمه کې د هېواد د يو بل ليکوال محمد اکبر کرګر کتابتون هم موجود و، د نوموړي په خپلې وينا د ده کتابتون د يو منظم پلان له مخې چور شوی دی. په دې کتابتون کې (دوه زره عنوانه) بېلابېل علمي، تاريخي، فلسفي او نور کتابونه موجود وو او همدا راز د اخبارونو او مجلو ګڼ شمېر کلکسينونه. دغه راز د هېواد يو بل ځوان او تکړه شاعر احمد تکل کتابتون هم د غلو ښکار شوی، د نوموړي په کتابتون کې ۷۰۰ عنوانه بېلابېل کتابونه موجود وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پورتنيو ياد شويو ليکوالو پر کتابونو سربېره په هېواد کې د نورو لسګونو ان په سلګونو ليکوالو، پوهانو او د علم او پوهې د نورو خاوندانو نور ډېر لوی او واړه کتابتونونه موجود وو، چې د جګړې د همدې کلونو په بهير کې له منځه يوړل شول، خو مونږ دلته يوازې د بېلګې په توګه د څو ليکوالو د کتابتونونو د برخليک يادونه وکړه.

## په مجموعي توګه له منځه وړل شوي کتابونه:

په افغانستان کې د وروستۍ غميزې له کبله د له منځه وړل شويو کتابونو د ټول شمېر معلومول خورا ګران کار دی، خو د ځينو هغو موسسو، چې په ډله ييز ډول يې کتابونه او کتابتونونه له منځه وړل شوي دي، د هغو له اټکليز مجموعي شمېر څخه د ټولو ضايع شويو کتابونو شمېر تر يوه حده معلومېدی شي. د افغانستان په فرهنګي موسسو او فرهنګي علمي مرکزونو کې، چې د کتابونو له پلوه ورته تر ټولو زيات زيان اړول شوی، هغه د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت دی، ځکه له يوې خوا د نوموړي وزارت له خوا د چاپ شويو کتابونو تيراژ ډېر زيات و، يانې د هر عنوان کتاب چاپي تيراژ تقريباً يو سل زرو ټوکو ته رسېده، نو که اوس مونږ د نوموړي وزارت په چوکاټ کې د ۱۲ ګونو ټولګيو د لسګونو عنوانو همدا تيراژ په پام کې ونيسو، نو شمېر يې مليونو ټوکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسېږي. دغه راز په نومـوړي وزارت کې د اکثرو ټولګیو کتابونه انبار شوي وو ، همدارنګه د ښوونې او روزنې وزارت په کتاب ساتنځایونو او د اکثرو ښوونځیو په تحویلخانو کې په مجموعي ډول په ملیونونو ټوکه کتابونه خوندي وو ، چې دا اکثره له منځه وړل شوي دي.

که د ښوونې او روزنې، د لوړو زده کړو نور مرکزونه، عامه کتابتون، د وطن ګوند او ځوانانو سازمان کتابتونونه، بیهقي کتاب خپرولو موسسه، د علومو اکاډمۍ او نور ګڼ شمېر علمي مرکزونه او د هغوی کتابتونونه او کتابونه په پام کې ونیسو ، نو مجموعي ضایع شوي کتابونه به تر شلو ملیونو ټوکو څخه هم زیات اټکل شي.

د پرمختللو ټولنو په پرتله چې هلته د کتاب چاپ په ډېر لوړ تیراژ ترسره کېږي، دا دومره کتابونه نه دي، خو زموږ د خپل هېواد په سطح دا د دې هېواد د کتاب د چاپ له تاریخ څخه بیا تر دې وخته د ټول عمر پانګه او لاس لرلې فرهنګي شتمني وه ، چې زموږ د ولس له لاسه وایستل شوه. د کتابونو د شمېر په پام کې نیولو سره د هغوی د معنوي زیان اټکل هم کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ((۱۵))

# راډيو او ټلويزيون

(( سره لـه دې چې پـر ۱۳۰۲ل کـال يـوې دسـتګاه پـر راډيـويي خپرونو پيل وکړ، خو ويل کېږي، د يوې نوې راډيويي دستګاه په اخيستلو سره چې د هغې د مونتاژ او ترلو کار پر ۱۳۱۸ل کـال پيل شو، د ۱۳۱۹ل کال په نيمايي کې راډيو ازمېښتي خپرونې پيـل کـړې او د ۱۳۲۰ل کـال د وري پـر مياشـت د هغـه وخـت د صـدارت مرسـتيال مرحـوم سـردار محمد نعـيم لـه خـوا رسـماً پرانيستل شوه )). (۴۱)

وروسته کلونو کې راډيـو پـه کمي او کيفي ډول وده وکړه. د کابل په ګډون د هېواد پـه اکثـرو ولايتونو کې محلي راډيـويي دستګاوې نصب او پر خپرونو يې پيل وکړ.

د سـردارمحمد داودخان د جمهوريت پـر وروسـتيو وختونـو ((له جاپان څخه د ټلويزيون دستګاه او ستوډيوګانې وپېرودل شـوې او پـر همـدې وخت ټلويزيـون پـر ازمېښـتي خپرونـو پيـل وکړ )). (۴۲) د دستګاه د خدمتونو او تجهيزاتـو لپـاره د جاپـان

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بلا عوضي مرستې څخه **۹۵۰** مليونه ينه، چې دوه پر درې مليونه ډالره کېږي، لګښت شوی و. (۴۳) خو ټلويزيون د **۱۳۵۷**ل کال پر درېو لومړنيو مياشتو په اساسي ډول خپرونې پيل کړې. وروسته کلونو کې د راډيو ترڅنګ ټلويزيون هم په ځينو ولايتونو کې نورې دستګاوې جوړې او په نويو خپرونو يې پيل وکړ. پر **۱۳۶۱**ل کال د افغانستان ټلويزيون د ((شمشاد )) دستګاه لرونکی شو، چې له بهرنۍ نړۍ سره يې مستقيماً د افغانستان د ټلويزيون اړيکې ټينګ کړل.

له ولايتونو پرته يوازې په کابل کې راډيو افغانستان پر شپه او ورځ (**۲۴**) ساعتو کې **۵۲** ساعته خپرونې کولې او مرکزي ټلويزيون هم تقريباً په هر **۲۴** ساعتونو کې **۶** ساعته خپرونې درلودې. **۱۵** محلي راډيوګانو په **۲۴** ساعتونو کې **۴۵** ساعته خپرونې کولې. (**۴۴**)

راډيو او ټلويزيون خپل دا وخت په بېلابېلو علمي، کلتوري او روزنيزو خپرونو ښکلې کړې و. په يوه اوونۍ کې راډيو **۹۵** بېلابېلې خپرونې درلودلې. (**۴۵**) البته په دې کې به يو شمېر داسې خپرونې هم وې، چې هغه له اسلامي ګروهې او زموږ له ملي کلتور سره په مغاير او يا هم متضاد لوري کې وې، خو په عمومي ډول راډيو او ټلويزيون د خپل کمي او کيفي پرمختګ پړاوونه وهل، تقريباً دولس سوه مسلکي، فني او نور کارکوونکي په کې پر کار مصروف وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو کله چې پر ۱۳۷۱ل کال د جګړې توپان پر ټول ښار خور شو ، نو راډیو ټلویزیون او افغان فلم هم تر ښه خوندي پاتې نه شول. یوازې په څو ورځو کې راډیو ټلویزیون ته په ملیونو ډالره زیان واوښت.

پر ۱۳۷۱ل کال د ثور پر میاشت د راډیو یو مسئول وویل، چې راډیو ټلویزیون ته ((پنځه لس ملیونه)) ډالره زیان اوښتی دی. (۴۲) د جګړې په ترځ کې اسمایي غره د ټلویزیون د لېږدوونکې دستګاه، د شمشاد دستګاه او نورو تجهیزاتو ته درانه زیانونه اړول شوي دي. دغه راز د یکه توت په سیمه کې د راډیو د لنډو څپو لېږدوونکې دستګاه له منځه وړل شوې ده. همدا شان ویل کېږي، چې د ټلویزیون د آرشیف اکثره کیسټونه غلا شوي او د راډیو آرشیف ته هم سخت خطر متوجه دی، ځکه چې د راډیو آرشیف د ساتنې لپاره له ۱۸-۲۳ درجو پورې د هوا د حرارت درجه په کار ده، خو د برېښنا د نشتوالي په وجه دا درجه زیات بدلون کوي، نو کېدی شي دا کیسټونه هم ورو ورو خپل کیفیت له لاسه ورکړي. د راډیو او ټلویزیون د ټولو زیانونو بشپړه محاسبه خورا ګرانه ده، خو پر ۱۳۷۳ل کال د راډیو او ټلویزیون رئیس شمس الحق آریانفر یوې غونډې ته د ټلویزیون او راډیو د خسارو په باب ویلي دي:

((د مرکز د ټلویزیون د اورېدنې او لیدنې یوازینۍ دستګاه تخریب شوې او له منځه وړل شوې، چې تر لس ملیونو ډالرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات زيان دی. د راډيو د لېږدونې شپږ دستګاوې کاملاً له منځه وړل شوي، چې دا تر ۳۰ مليونو ډالرو زيات زيان دی. په ۲۰ ولايتونو او ولسواليو کې محلي ټلويزيونونه موجود وو، چې دوه ثلثه يې له منځه وړل شوي او چور شوي دي.

په ۱۸ ولايتونو کې محلي راډيو ګانې موجودې وې، چې درې پر څلورمه (درې ربعې) يې تخريب او له منځه وړل شوي دي. په ټولو ولايتونو کې د راډيو د اخذې دستګاوې او په ۴۴ سيمو او ولاياتو کې ګرځنده سينمايي دستګاوې موجودې وې، چې اوس نه شته.)) (۴۷)

خو له دې سره سره ځينې کتونکي چې هغوی د راډيو او ټلويزيون دستګاوې، ستوډيوګانې، آرشيفونه، ودانۍ او نور وسايط اووسايل ليدلي، راډيو او ټلويزيون ته ټول رسېدلی زيان تر درې سوو مليونو ډالرو څخه زيات محاسبه کوي.

پر ۱۳۷۲ل کال د راډيو ټلويزيون مسئولينو د ولايتونو او سيمه ييزو راډيويي او ټلويزيوني مرکزو ته د وررسېدلي زيان جاج داسې اخيستی دی:

((په ۱۸ ولايتونو کې د راډيو او ټلويزيون محلي ستوډيوګانو د هغه له کم طاقته راډيويي او ټلويزيوني هستوونکو سره کار کاوه، چې په ځينو ولايتونو او سيمو، لکه کندهار، فراه، شينډنډ، کندوز، پکتيا، خوست، کونړونه، غزني، نيمروز، هرات، ننګرهار، پروان، ارزګان، زابل، مقر او ځينو نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخو کې د راډیو ټلویزیون ټول تخنیکي امکانات یا په نیمه او یا په بشپړ ډول له منځه وړل شوي دي، چې دلته دا زیان په ارقامو کې ښودل کېږي:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د غزني ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | ۵۰۰ زره ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۲ | د مقر د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یو ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۳ | د غزني ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یو نیم ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۴ | د ګردېز د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یو ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۵ | د قلات ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یو ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۶ | د کندهار ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یو ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۷ | د هلمند ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو ته رسېدلي زیانونه | یونیم ملیون ډالره د تجهیزاتو او ۳۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۸ | د هرات ولایت د راډیو ټلویزیون تاسیسات او هغو | ۵۰۰ زره ډالره د تجهیزاتو او ۵۰۰ ملیونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| | ته رسېدلي زيانونه | |
| ۹ | د فــراه ولايــت د راډيــو ټلويزيون تاسيسات او هغو ته رسېدلي زيانونه | ۵۰۰ زره ډالره د تجهيزاتو او ۳۰۰ مليونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۱۰ | د نيمــروز ولايــت د راډيــو ټلويزيون تاسيسات او هغو ته رسېدلي زيانونه | ۵۰۰زره ډالره د تجهيزاتو او ۴۰۰ مليونه افغانۍ د ساختمان په برخه کې. |
| ۱۱ | د ننګرهــار ولايــت د راډيــو ټلويزيون تاسيسات او هغو ته رسېدلي زيانونه | دوه مليونه ډالره د تجهيزاتو او دوه سوه مليونه افغانۍ د ودانيو په برخه کې. |

په نورو ولايتونو کې په ټوليز ډول دوه مليونه ډالره او درې ملياره افغانۍ زيان اړول شوی دی. په اداري او ترانسپورټي برخه کې راډيو ټلويزيون ته رسېدلي زيانونه درې ملياره او ۵۰۰ مليونه افغانۍ اټکل شوي دي.

دغه راز راډيو ته د نوي کمپلکس د نه اتمام او ټلويزيون ته د نويو سټوډيوګانو د جوړېدو د نه بشپړتيا په وجه په مجموعي ډول ۷ مليونه ډالره زيان اړول شوی دی.

د شمشاد دستګاه، چې په ۱۰ مليونه ډالره اخيستل شوې وه او له هغې څخه د هېواد د باندې ټلېفوني ګټه هم پورته کېده او د ټلويزيون د هستوونکو خپرونو لپاره ترې ګټه اخيستل کېده. په جګړو کې په توغنديو ولګېده. لومړي توغندي د هغه ټلېفون او ټلويزيوني کاناليزاسيون فلج کړ، چې ۱۵۰ زره ډالره زيان يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واړاوه. یو کال وروسته یو بل توغندي د شمشاد ټلویزیوني هستوونکی سیستم، چې ولایاتو ته یې خپروني لېږدولې له منځه یووړ او د هغه له کبله د هغه د بېش یا کاسه هم له منځه یوړل شوه، چې ۱۰۲ ملیونه ډالره زیان ورته واړول شو. په ټولیز (کلي) ډول ۲۵۲ ملیونه ډالره زیان ورته اړول شوی دی. (۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

((۱۲))

# اخبارونه او مجلې

تر ۱۳۷۱ل کال پورې په ټول هېواد په تېره بیا په کابل او د هېواد په لويو ښارونو کې ګڼ شمېر مجلې، جريدې، ورځپاڼې او نورې مهالنۍ خپرونې چاپ او خپرېدلې. د ۱۳۷۱ل کال د ثور مياشتې پر شپږمه پر دې مطبوعاتو لوی تندر پرېووت، لومړی دا خپرونې بندې شوې او بيا يې د چاپ او خپرولو ټول وسايل او امکانات چور، چپاول او له منځه يوړل شول. د دې ټولو خپرونو د چاپ کلنی تيراژ او شمېر په لسګونو مليونو ګڼو ته رسېده.

دلته به مورږ د دې ډول خپرونو نومونه او د ځينو د خپرېدو د کلني تيراژ يادونه وکړو:

| نوم | د خپرېدو وخت | کلنی تيراژ |
|---|---|---|
| ۱- هېواد | هره ورځ | |
| ۲- کابل ټايمز | هره ورځ | |
| ۳- انيس | هره ورځ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۴- پیام | هره ورځ | |
| ۵-حقیقت سرباز | په اوونۍ کې څلور ځله | ۱۱۸۵۰۰۰ |
| ۶- پامیر | اوونیز | ۵۲۰۰۰۰ |
| ۷- رسمي جریده | ناټاکلی | ۷۲۰۰۰ |
| ۸-درفش جوانان | اوونیز | ۱۲۲۴۰۰۰ |
| ۹-سره میاشت | میاشتنۍ | ۲۴۰۰۰ |
| ۱۰-رهنمای خانواده | . | . |
| ۱۱-افغان اعلانات | په اوونۍ کې درې ځله | ۱۲۴۸۰۰ |
| ۱۲-مجله جوانان | میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰۰ |
| ۱۳-کار | . | . |
| ۱۴-اردو | . | . |
| ۱۵-ارشاد اسلام | پنځلس ورځینۍ | ۲۴۰۰۰ |
| ۱۶-سنګر | . | . |
| ۱۷-عدالت | میاشتنۍ | ۳۶۰۰۰۰ |
| ۱۸-صدای وطن | پنځلس ورځینۍ | ۱۲۰۰۰۰ |
| ۱۹-پوهنتون | . | . |
| ۲۰-میهن | میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰۰ |
| ۲۱- ملي جبهه | اوونیزه | ۲۲۰۰۰۰ |
| ۲۲-الاسلام | میاشتنۍ | . |
| ۲۳-پلوشه | پنځلس ورځینۍ | ۲۴۰۰۰ |
| ۲۴-احسم | میاشتنۍ | . |
| ۲۵-اخبار هفته | اوونیز | ۴۳۲۰۰۰ |
| ۲۶-ژوندون | میاشتنۍ | ۲۳۵۲۰ |
| ۲۷-اواز | میاشتنۍ | ۵۹۵۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۲۸-هنر | . | . |
| ۲۹-اریانا | دوه میاشتنۍ | ۲۴۰۰ |
| ۳۰روغتیاطبي مجله | میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰ |
| ۳۱- پیام حق | دوه میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰ |
| ۳۲- قضا | میاشتنۍ | ۲۴۰۰۰ |
| ۳۳-د کانو او صنایعو مجله | . | . |
| ۳۴-څارندوی | میاشتنۍ | ۱۹۲۰۰۰ |
| ۳۵-صلح و سوسیالیزم | میاشتنۍ | . |
| ۳۶- باستان شناسی | . | . |
| ۳۷-تحقیقات کوشانی | . | . |
| ۳۸- کتاب | . | . |
| ۳۹- کابل | دوه میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰ |
| ۴۰-د افغانستان بانک . | . | |
| ۴۱- طفل و مادر | . | . |
| ۴۲- افغانستان | . | . |
| ۴۳- بررسیهای مالی | . | . |
| ۴۴- افغان طبي مجله | دري میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰ |
| ۴۵- قوای هوایی ومدافعه هوایي . | | . |
| ۴۶- محصل امروز | . | . |
| ۴۷- پیشاهنگ | . | ۸۴۰۰۰ |
| ۴۸- همبستگی | . | . |
| ۴۹- هرات باستان | . | . |
| ۵۰- دوستي | . | ۱۸۰۰۰ |
| ۵۱- ملیتهای برادر | دوه میاشتنۍ | ۳۶۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| **۵۲**- جرگه | دوه میاشتنۍ | ۳۰۰۰۰ |
| **۵۳**- بولتن | . | . |
| **۵۴**- زنده گی حزبی | . | . |
| **۵۵**- سباوون | میاشتنۍ | ۴۸۰۰۰۰ |
| **۵۶**- مېرمن | دوه میاشتنۍ | ۳۶۰۰۰ |
| **۵۷**-صدای وطن | پنځلس ورځینۍ | ۱۲۰۰۰۰ |
| **۵۸**- پښتو | څلور میاشتنۍ | ۷۱۲۰ |
| **۵۹**-صدای صلح | . | . |
| **۶۰**- کودک | . | . |
| **۶۱**- کرهڼه | . | . |
| **۶۲**- غرجستان | دوه میاشتنۍ | ۳۰۰۰۰ |
| **۶۳**-خراسان | دوه میاشتنۍ | ۹۰۰۰ |
| **۶۴**- سنا | دوه میاشتنۍ | ۱۲۰۰۰ |
| **۶۵**- فرهنگ مردم | میاشتنۍ | . |
| **۶۶**- دهقان | . | . |
| **۶۷**- باستان شناسی | . | . |
| **۶۸**- ورزش | . | . |
| **۶۹**- حقوق | . | . |
| **۷۰**- ودانۍ | . | . |
| **۷۱**- عرفان | . | . |

پر پورتنیو خپرونو سربېره د هېواد په ځینو ولایتونو کې هم یو شمېر مجلې او جریدې خپرېدلې، چې دلته به د خپرونو او د ولایت د نومونو یادونه وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د خپروني نوم | ولایت |
| --- | --- |
| ۱- اتفاق اسلام | هرات |
| ۲- طلوع افغان | کندهار |
| ۳- ننګرهار | ننګرهار |
| ۴- وړانګه | پکتیا |
| ۵- اتحاد | بغلان |
| ۶- سنایي | غزني |
| ۷- پروان | پروان |
| ۸- ګوراش، جوزجان | جوزجان |
| ۹- فاریاب | فاریاب |
| ۱۰- بدخشان | بدخشان |
| ۱۱- کندوز | کندوز |
| ۱۲- هلمند | هلمند |
| ۱۳- سیستان | فراه |
| ۱۴- سمنګان | سمنګان |
| ۱۵- تخارستان | تخار |
| ۱۶- ارزګان | ارزګان |
| ۱۷- بامیان | بامیان |
| ۱۸- سوب | نیمروز |
| ۱۹- یلدوز | بلخ |
| ۲۰- لغمان | لغمان |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ۲۱- کاپیسا | کاپیسا |
| ۲۲- کونړ | کونړ |

په تنظیمي جنجالیزې واکمنۍ کې نه یوازې دا مطبوعات اکثره له منځه یوړل شول، بلکې د چاپ او خپرونې کوم وسایل چې په مرکز او ولایتونو کې موجود وو، هغه هم تباه کړای شول. د رباني د نیمواکې واکمنۍ پر وخت په کابل کې ځینې تنظیمي او ځینې دولتي خپرونې کېدلې، چې نه یې کمیت او نه یې کیفیت د تېرو خپرونو په شان و. یو شمېر خپرونې چې اصلاً د دولت له بودجې او د جمعیت ګوند تر فکري مسیر لاندې واقع وې د ازادو خپرونو نوم ورکړل شوی و، خو په حقیقت کې په ټول کابل کې هېڅ داسې کوم یاد وړ اخبار او جریده نه دي چاپ شوې، چې په هغو دې څوک پوره حساب وکړي. یوازې د شاه زمان ورېځ ستانیزي په مدیرت د ((پلوشه)) جریدې یو څو ګڼې چاپ شوې، چې هغه هم پر دې وخت له انتقاد او نورو هغو مطالبو څخه تشې وې، چې د رباني او مسعود پر ضد تمامېدل. د رباني د وخت د زیاتو خپرونو ژبه فارسي وه او په ځینو کې داسې مسایلو ته لمن ووهل شوه، چې د هېواد د بېلابېلو قومونو ترمنځ د تفرقې، ملي نفاق او د واحد افغانستان د جغرافیې او سیاسي جوړښت پر ضد تمامېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ((۱۷))

# چاپخونې (مطبعې)

(( په افغانستان کې لومړۍ چاپخونه (مطبعه) پر ۱۸۷۰م ۱۲۸۷ل کال هېواد ته راوړل شوه)). (۴۹) د غازي امان الله خان د پاچاهۍ پر وخت نه یوازې په کابل کې نورې مطبعې جوړې شوې، بلکې د هېواد په ځینو ولایتونو کې هم یو شمېر چاپخونې جوړې شوې)). (۵۰) وروسته بیا د وخت له اړتیاوو سره سم ګڼ شمېر چاپخونې په مرکز او ولایتونو کې جوړې شوي دي.

تر ۱۳۷۱ل کال د مخه یوازې په کابل ښار کې پنځلس لویې چاپخونې موجودې وې (۵۱) چې په ټولو کې په سلګونو پایې لوی او واړه ماشینونه لګېدلي وو.

یوازې په (( دولتي مطبعه کې د حروفي طبعې، افیسټ، حرارتي طبعې سیستمونو (۲۱۰) پایې عصري ماشینونه موجود وو. د جنګونو په اثر دا ټول ماشین الات او طباعتي وسایل، ټول شاپونه او د کاغذونو زېرمې، کیمیاوي مواد او د هغو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلنۍ پرزې ټول له منځه لاړل. د ۱۳۷۲ل کال د جدي پر میاشت د مطبعې مرکز او د هغو ټولو مربوطو ودانیو او کارخانو زیات ضرر ولیده. د دې مطبعې د دویمې څانګې یانې په هود خېلو کې د کتابونو د چاپ مطبعې په ګډون د نومورې تصدۍ ټولې تحویلخانې غلا شوې. د ۱۳۷۳ل کال د افغانۍ د ارزښت په پام کې نیولو سره دې تصدۍ ته تر ۵۰ زره ملیونو افغانیو زیات زیان اړول شوی دی. دغه راز دې تصدۍ د هېواد په نورو ولایتونو کې ۱۹ نمایندګۍ درلودې، چې هغو ته رسېدلې خساره لا په دې کې شامله نه ده. په دې نمایندګیو کې تر سلو زیات ماشینونه پر کار مصروف وو. که چېرې د دې ماشینونو مالي ارزښت هم محاسبه شي، نو د ۱۳۷۳ د افغانۍ د ارزښت له مخې به د دولتي مطبعې تصدۍ ته ټول رسېدلی زیان ۷۰ ملیارده افغانیو ته لوړ شي. په دې تصدۍ کې د چاپي کارونو لپاره ۱۳۴۲ تنه ماهر کارګران او مامورین پر کار مصروف وو)). (۵۲)

پر ۱۳۷۳ل کال د دې چاپخونې رئیس وایي: ((لږ تر لږه لس ملیونه امریکایي ډالره په کار دي، چې بېرته پرې د مطبعې عصري ماشین الات واخیستل شي او د وخت اړتیا پوره کړي)).(۵۳)

د دولتي مطبعې په شان د کاناډا مطبعه هم په هېواد کې یوه ډېره ستره مطبعه وه. په لسګونو پایې لوی او واړه ماشینونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې وو. دا مطبعه له کاناډا څخه وپلورل شوه او د پلچرخي په صنعتي پارک کې نصب شوه. دا چاپخونه د کاناډا د هېواد د کارپوهانو په مرسته مونتاژ او فعاله شوې وه.)) (**۵۴**)

پر دې چاپخونې باندې د غلو يو منظم پړاو تېر شو، اکثره ماشينونه يې روغ رمټ خلاص او پر ګاونډي هېواد پاکستان وپلورل شول. همدارنګه د کاغذ هغه ذخيرې چې په دې چاپخونې کې موجودې وې، هم ټولې غلا او وپلورل شوې. د دې چاپخونې مالي زيان لسګونو مليونو ډالرو ته رسېږي)).(**۵۵**)

د دې چاپخونې پر ماشينونو او ټنونو کاغذ سربېره ودانيو ته هم خورا زيات زيان اوښتی دی، يو شمېر توغندي د چاپخونې پر ځينو ودانيو لګېدلي او هغه يې تخريب کړي دي.

د پوهنې مطبعه چې د افغانستان په ښوونې او روزنې وزارت پورې تړلې چاپخونه ده، د دولتي مطبعې په شان د افغانستان له سترو چاپخونو څخه وه. د دې چاپخونې کارګرانو افغاني فرهنګ ته د هغو مليونونو ټوکو تعليمي کتابونو د چاپ له لارې ډېر زيات خدمتونه کړي دي، چې د ښوونې او روزنې وزارت بېلابېلو ښوونځيو ته يې چاپ کړي دي. د دې مطبعې پر تعليمي کتابونو سربېره نور علمي، سياسي کتابونه او د دولت د اداري کارونو زيات کتابونه او پاڼې چاپ کړي دي، خو د هېواد د فرهنګ دښمنانو دا چاپخونه سره له دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریباً د ښار په زړه کې پرته ده، هم جوړه پرې نه ښوده. ((د ۱۳۷۱ل کال په ثور کې د نوموړې مطبعې د رئیس عبدالرحمن زیارمل په وینا یوازې د هماغه کال د ثور د میاشتې پر ۸-۹-۱۰ نېټه په دربو ورځو کې دې چاپخونې ته یونیم زر ملیونه افغانۍ زیان ورسېدلی و. د هغه وخت د افغانیو د ارزښت د محاسبې له مخې په همدې درې ورځو کې دې چاپخونې ته د اړول شوي زیان په پیسو د افغانستان د هر فرد لپاره درې ټوکه کتابونه چاپېدلای شول)). (۵۲) دا د درې ورځو زیان خو د مطبعې هسې یوه سرسري خبره وه، په راوروسته کرمو جګړو کې بیا په دې چاپخونې د غلو داسې منظمې او نامنظمې داړې پرېوتې، د کاغذو زیاتو زېرمو په ګډون یې د مطبعې ګڼ شمېر ماشینونه غلا او ګڼ شمېر ته یې زیان واړاوه او هم له دې مطبعې څخه یې هغه مال او وسایل چې د غلا امکان یې موجود و ټول غلا کړل. همدارنګه ودانیو ته یې هم زیات تاوان واړاوه چې مجموعي زیان یې لسګونو ملیونو ډالرو ته رسېږي.

همدغه اور د لوړو زده کو چاپخونې ته هم ورسېد، هغه چاپخونه چې د کابل د څلورمې کارتې په سیمه کې د وزارت په مقر کې جوړه شوه، تر شلو پایو پورې ماشینونه یې لرل او په ګودامونو کې یې ډېر زیات کاغذ موجود و. دا مطبعه هم د جګړې له کبله له منځه یوړل شوه او ودانۍ یې هم تخریب شوه. د لوړو زده کړو د وزارت د یو کارکوونکي او د همدې مطبعې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو سابقه لرونکي کارمند ښاغلي محمد فاروق په وينا: (( موږ ته يوازې د ماشينونو له درکه يو مليون ډالره زيان اوښتی دی )). (۵۷) په همدې تناسب د چاپخونې ودانۍ، د کاغذ زېرمتون او د مطبعې نور امکانات هم محاسبه کېدی شي.

د کابل پوهنتون پر مطبعه هم دا حال راغی. دې مطبعې (( يو وخت ۱۴ عنوانه بېلابېلې، مجلې چاپولې او تر ۱۳۷۱ ل کال پورې د استادانو تر ۱۲۰ عنوانو څخه زيات، علمي، مسلکي او درسي کتابونه په همدې چاپخونه کې چاپ شوي دي )). (۵۸)

د کابل پوهنتون مطبعې د پوهنتون د خپل وخت ټول طباعتي ضرورتونه پوره کولای شول، خو اوس ډېرو زياتو پيسو ته اړتيا ده چې دا مطبعه خپل پخواني حالت ته ورسوي.

د طب د انستيتيوت چاپخونې ته هم د اور ليکې ورسېدلې. د دې انستيتيوت چاپخونې هم د خپل علمي مرکز اکثره اړتياوې رفع کولای شوې، د جګړو له امله دا چاپخونه په بشپړ ډول له منځه وړل شوې ده.

د صکوکو مطبعې ته زيانونه اړول شوي. د دفاع وزارت (اردو چاپخونه) سره له دې چې ډېر زيات زيان ورته اړول شوی دی، خو بيا هم د چوکاټ له مخې روغه بريښي او اوس يې هم له ځينو ماشينونو څخه ګټه اخيستل کېدی شي. د اريانا مطبعه هم پر همدې برخليک اخته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل ښار کې چې نورې چاپخونې موجودې وې، پر هغو هم ورته حالات راغلل. د ولایتونو چاپخونې چې په نسبي ډول یې د هغو ولایتونو اړتیاوې تر یوه حده پوره کولای شوې، هم ددې طاعون ښکار شوې. په لغمان، غزني، کندهار او ځینو نورو ولایتونو کې چې کومې مطبعې موجودې وې یا په نسبي او یا هم په بشپړ ډول له منځه یوړل شوې.

د دولتي چاپخونو د یو مسوول شخص په وینا: ((یوازې د کابل ښار پنځه لسګونو چاپخونو ته د سامان الاتو، ماشینونو او د کاغذ د زېرمو له کبله د لومړۍ سروې له مخې تقریباً زر ملیونه ډالره زیان اوښتی دی.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله (نتیجه)

لکه څنګه چې مو په سریزه کې یادونه وکړه، ددې رسالې اساسي هدف د هېواد فرهنګ ته د اوښتو ژبانونو څرنګوالی، څومره والی او راتلونکو ته د فرهنګي زیان د جاج معلومول او هم د هغو د بیا رغونې لپاره د هېوادوالو د پام را اړول دي، لکه څنګه چې اکثره د خپل هېواد د فرهنګ په ویجاړی دردېدلي، ټولو ته باید ددغو زیانونو اندازه څه نا څه معلومه شي، سره له دې چې ددې کار لپاره چې څنګه دې د ټول هېواد فرهنګ ته اوښتي زیانونه معلوم شي؟ خورا زیات کار او ان ډله ییزې څېړنې ته اړتیا وه، خو څرنګه چې زه لکه د نورو هېوادوالو په شان د جګړې په ټولو کلونو کې په هېواد او په تېرو څلورو کلونو کې په کابل کې پاتې شوی یم، نو د ګڼ شمېر فرهنګي مرکزونو ړنګونه مې په خپلو سترګو لیدلې، همغه وخت مې ځینې یادښتونه اخیستي دي، خو دا باید په ډاګه کړم، چې دا یادښتونه په پوره ډول د هغې فرهنګي موسسې ټول څرنګوالی نه شي بیانولای. په کابل ښار کې داسې حالات هم پېښ شول، نه یوازې دا چې یو فرهنګي مرکز ړنګ شو، بلکې هغه بل لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګي ارګان، چې دا فرهنګي مرکز يې تر لاس لاندې و ، هغه هم ړنګ شو ، ځينو برخو کې هېڅ اسناد او اشخاص نه شته، چې سړی ترې بشپړ معلومات واخلي او که څوک هم د يوه فرهنګي مرکز په باب بشپړ او پوره معلومات راټولوي، نو ډېر زيات وخت او امکاناتو ته اړتيا لري او په ځينو برخو کې هېڅ شوني نه دي.

په دې رساله کې علمي مرکزونو ته اوښتي زيانونه هم ځينې د اټکل له مخې بيان شوي او منځنی حد ټاکل شوی. اصلاً د فرهنګي څېړنې ترڅنګ اقتصادي کارپوهانو ته هم اړتيا ده، چې ددې مرکزونو اقتصادي زيان محاسبه کړي. دلته به هم لوستونکو ته يوه فرهنګي مرکز ته د اقتصادي زيان په اړه پوښتنې راولاړې شي، خو که خپله قلم او کاغذ راواخلي او د هر زيان اندازه ولګوي، نو ښه به ورته معلومه شي، چې د زيان د حد ټاکل خورا ګران کار دی.

په رساله کې د هېواد ټولو فرهنګي شتمنيو ته اوښتي زيانونه په پوره ډول نه دي بيان شوي، يوازې د هغو مهمو فرهنګي مرکزونو او شتمنيو د چور او تالان پېښې په کې په لنډيز سره بيان شوي، چې ډېر پرې سړی درد پېږي او تل د سړي سترګو ته ودرېږي. ددې ترڅنګ په رساله کې هغو فرهنګي شتمنيو او د هغو پر زيان باندې بحث نه دی شوی، چې هغه د علمي مرکز او جوړښت په شکل موجودې نه وې او يوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو په روحیاتو، دودونو او اعمالو کې ښکاره کېږي. ټولنیز ارزښتونه، چې د کلتور یوه برخه جوړوي د هغو څېړنه هم په کې نه ده راغلې. لنډه دا چې په دې رساله کې د هغو علمي، فرهنګي او هنري مرکزونو په باب په لنډیز سره د ځینو اسنادو، شواهدو او د سترګو لیدلي حال پر بنسټ ځینې معلومات راغلي، چې یو وخت د پوهې، ښکلا او تاریخي برم مرکزونه وو او بیا وروسته وران کړای شول او پر وژنتونونو او وژنځایونو واړول شول. د یادونې وړ ده، چې په دې رساله کې یوازې د افغانستان فرهنګ ته اوښتو زیانونو ته اشاره شوې، د بیا رغونې لپاره څه وړاندیزونه په کې نه شته، خو په دې برخه کې ((د بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان)) په نوم د ښاغلي ((شباهنګ)) له خوا یو اثر لیکل شوی او د همدې موسسې (وفا) له خوا چاپ شوی دی.

دا حاضره رساله که له خپلو ټولو نیمګړتیاوو سره سره بیا هم د هېواد د فرهنګ د رنځونو، دردونو او ستونزو په انعکاس کې رول ولوبولای شي، نو ما به تر یوه حده خپله دنده سرته رسولې وي.

په درنښت

اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځليکونه


۱- هيله مجله، ۱ګڼه، پېښور، ۱۳۵۷ل کال، ۳۴-۳۵ مخونه.
۲- وفا جريده، د ۱۳۷۲ل کال، کال ګڼه.
۳- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، پېښور، د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنه (وفا)، ۱۳۷۴، ۷مخ
۴- عزيز احمد اماج، په افغانستان کې د ښوونې او روزنې لنډه تاريخچه، ۱۳۷۰، ۹ مخ.
۵- ارمان جريده، پېښور، ۱۳۷۳ل کال، ۵ ګڼه، ۳مخ.
۶- تعاون مجله، پېښور، ۱۳۷۵ل کال، ۳ ګڼه، ۴مخ.
۷- BBC راډيو، پښتو خپرونه، ۱۳۷۱ل کال د ښوونې او روزنې وزارت د يو مسوول څرګندونې.
۸- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۴ل کال، ۲ مخ.
۹- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۴ل کال، ۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۴ل کال، ۷مخ.
۱۱- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۴ل کال، ۸مخ.
۱۲- هیله، ۱۳۷۲ل کال، ۱گڼه.
۱۳- سید امیر شاه حسن یار، پېښور، وفا، ۱۳۷۴ل کال د غبرګولي د میاشتې ګڼه، ۱مخ.
۱۴- ارمان جریده، پېښور، ۱۳۷۴ل کال د چنګاښ د ۱۱ نېټې ګڼه، ۷مخ.
۱۵- هیله، ۱۳۷۲ل کال، ۱ګڼه، ۴۷مخ.
۱۶- ارمان جریده، ۱۳۷۳ل کال، ۱۲ګڼه، ۷مخ.
۱۷- محمد رسول باوري، شمشاد مجله، ۵ګڼه، ۳۹مخ.
۱۸- محمد رسول باوري، شمشاد مجله، ۲ګڼه، ۴۳-۴۵مخونه.
۱۹- محمد رسول باوري، شمشاد مجله، ۲ګڼه، ۴۸مخ.
۲۰- محمد رسول باوري، وفا، پېښور، ۱۳۷۴ل کال، ۴۰ګڼه، ۳ مخ.
۲۱- نانسي دوپرې: د ډاکتر خوشال روهي ژباړه، وفا، ۱۳۷۳ل کال، ۵۱-۵۲ګڼه.
۲۲- نانسي دوپرې: د ډاکتر خوشا روهي ژباړه، وفا، ۱۳۷۳ل کال، ۵۱-۵۲ګڼه، ۲او ۱۱ مخونه.
۲۳- هیله، ۱۳۷۲ل کال، ۱ګڼه، ۴۵مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴- احمد صميم، ارمان جريده، ۱۳۷۴ل کال، د وري ۱۳مې نېټې ګڼه، ۵ مخ.
۲۵- ګورګنج، دعوت، ناروې، د ۱۳۷۴ل کال د جدي ګڼه، ۳مخ.
۲۶- دعوت، ناروې، ۱۳۷۴ل کال، ۵۲ګڼه، ۶مخ.
۲۷- عبدالله پويان، د برهان الدين رباني په اداره کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هنر رئيس، ارمان جريده، پېښور، ۱۳۷۴ل کال، د حمل ۲۳نېټې ګڼه، ۲ مخ.
۲۸- هنداره، کابل، ۱۳۷۵ل کال، سنبله، ۲ ګڼه، ۲مخ.
۲۹- محمد رسول باوري، شمشاد، ۱۳۷۴ل کال، ۶ګڼه، ۱-۵۲ مخونه.
۳۰- افغانستان مجله، ۱۳۷۶ل کال، د ثور مياشت ګڼه، ۱۰-۱۱ مخونه.
شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۴ل کال، ۱۲۳-۱۲۴ مخونه.
۳۲- د BBC د يو رپوټ پر اساس، ۱۳۷۵ل کال، کب مياشت.
۳۳- وفا جريده، پېښور، ۱۳۷۴ل کال، ۳۹-۴۰ ګڼه، ۳مخ.
۳۴- تعاون مجله، ۱۳۷۵ل کال، اسد او سنبله، ۴۹ مخ.
۳۵- ارمان جريده، د ۱۳۷۴ل کال د جوزا د ۱۴مې نېټې ګڼه، ۲ مخ.
۳۶- عبدالصمد قادريان، برگ سبز، پېښور، ۱۹۹۷م کال، ۲ګڼه، ۲۷مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۷- ارمان جریده، ۱۳۷۳ل کال.
۳۸- رزاق برق BBC، پښتو خپرونه، ۱۳۷۵ل کال.
۳۹- هیله مجله، ۱۳۷۲ل کال، ۱ګڼه، ۴۷مخ.
۴۰- هنداره، کابل، ۱۳۷۵ل کال، ۱۰ګڼه، ۱مخ.
۴۱- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۲ل کال، ۱۳۱-۱۳۲ مخونه.
۴۲- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۲ل کال، ۱۳۴مخ.
۴۳- پر ۱۳۷۲ل کال د راډیو ټلویزیون د مسئولینو څرګندونې.
۴۴- پر ۱۳۷۲ل کال د راډیو ټلویزیون د مسئولینو څرګندونې.
۴۵- پر ۱۳۷۲ل کال د راډیو ټلویزیون د مسوولینو څرګندونې.
۴۶- BBC پښتو خپرونه، ۱۳۷۱ل کال، د راډیو ټلویزیون د یو مسوول څرګندونې.
۴۷- شمس الحق آریانفر، نقش وسایل ارتباط جمعي درجامعه امروز وفردا افغانستان، کابل، ۱۳۷۴ل کال، ۳۲مخ.
۴۸- پر ۱۳۷۲ل کال د راډیو ټلویزیون د مسئولینو تهیه شوی راپور.
۴۹- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۱، ۱۲۹مخ.
۵۰- همدغه اثر، ۱۳۰مخ.
۵۱- هیله، ۱ګڼه، ۱۳۷۲ل کال، ۴۸مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵۲**- سید احمد رها، نقش وسایل ارتباط جمعی امروز و فردای افغانستان، کابل، ۱۳۷۴ال کال، ۲۸-۲۹ مخونه.
**۵۳**- پورتنی اخځ، ۷۲مخ.
**۵۴**- شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، ۱۳۷۲، ۱۳۴مخ.
**۵۵**- هیله مجله، ۱گڼه، ۱۳۷۲ال کال، ۴۸مخ.
**۵۶**- عبدالرحمن زیارمل، پر ۱۳۷۱ال کال د پوهنې د مطبعې رئیس، هیله، ۱گڼه، ۴۸ مخ.
**۵۷**- هیله، ۱گڼه، ۴۸ مخ.
**۵۸**- سید امیرشاه حسن یار، وفا، پېښور، ۱۳۷۴ال کال، د غبرګولي د میاشتې ګڼه، ۱مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه



محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی په ۱۳۴۲ل کال، د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ د نیازیو په یوې روښنفکري کورنۍ کې زېږېدلی دی.
لومړنۍ زده کړې یې د الینګار ولسوالۍ د سلینګار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، تر هغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لیسه کې شامل شو. په ۱۳۶۲ل کال له نوموړې لیسې څخه په دویم نومره بریالی او په ۱۳۶۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. په ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې څخه اول نومره بریالی او په همدې کال بېرته د پښتو څانګې د کدر غړی شو. په ۱۳۸۵ل کال په نوموړې څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ماسترۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.
محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د(پوهندوی) علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د ((کابل پوهنتون))، ((هیلې)) او((شمشاد ))مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې ((معارف)) مجلې کتونکی غړی هم و. همدارنګه دیو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.
استاد یون پر ۱۳۸۱ل کال، په جلال اباد کې بېړنۍ لویې جرګې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، ددې جرګې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرګې غړی، بیا د جرګې د غړو له خوا د بېړنۍ لویې جرګې دلومړي منشي په توګه انتخاب شو. استاد یون په دې جرګه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.
تر دې جرګې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا ددې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له خوا ترسره شول.استاد یون د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د نوموړې جرګې د دارالانشا د غړي په توګه خپل فعال رول ادا کړ. ټاکل شوې وه، استاد یون په ختیزو ولایتونو کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لویو جنګسالارانو او ځینو تنظیمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زیات فشار له امله له کاره ګوښه شو. ملګرو ملتونو (UNAMA) استاد یون ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې به تر دې لوړه دنده ورو سپارو، خو استاد یون ونه منله او خپلې استادۍ ته یې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته یې د ځینو ملګرو په زیات ټینګار او غوښتنه، د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د ریاست دنده ومنله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لا تر اوسه دا دنده پر مخ وړي. استاد یون پر **۱۳۸۵** ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد یون د خپلو اکادمیکو لیکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، راډیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د واقعیتونو او حقایقو د څرګندیدان له امله د خلکو په زړونو کې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي. د هغه ملي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګټــورو نظریــاتو تــه هــم غلــط رنــګ او تعبیــر ورکــوي، دا ډول اشـخاص، چې اکثـره یې زوروا کي او د سیاسـي ډلـو ټپلو غـړي او مشران دي، د استاد یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو تـه خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. زه د دې شاهد یم، هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پـر وړاندې یې مثبت او منفـي غبرګونونـه دواړه راپـارولي دي، منفـي غبرګونونـه اکثـره وخـت د هغـو اشخاصـو او ډلـو لـه خـوا وي، چـې پـه تېـر کـړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونـه یې مطرح کړي دي.

مثبـت غبرګونونـه اکثـره د ولـس دمشــرانو، روښـنفکرانو او نــورو مخورو له خوا وي، خو استاد یون پـه دغسـې سـختو اغزنو او تنګو شـرایطو کـې بیـا هم خپـل فرهنګي، سیاسـي او ټولنیز کـار تـه دوام ورکوي.

دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو یې اوس پـه مسلسـل ډول ګـورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې له تېر یو نیم کال راهیسـې پرې په منظم ډول کار شوی، اوډل شوي او دادی ستاسو مخې ته ایښـودل کېږي، په داسې یو دولتي دفتر کې چې بوختیاوې په کې ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کـار نـه دی. استاد یـون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکـار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی، په پېښـور کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او (د پښتني فرهنګ د ودې پراختيا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو ليکوالو پـه لسګونو اثار، ايډيټ او چاپ کړي دي. دغه راز يې په سلګونو کورنيو مشاعرو، ادبي غونډو او سيمينارونو کې ونډه اخيستې ده، خپله يې هم پـه لسګونو مشاعرې، سيمينارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، پـه يو زيات شمېر، ملي او نړيوالو کنفرانسونو کې يې پـه ښـه ډول د خپل هېـواد استازي کـړې ده. دلتـه بـه يـې د اثـارو يادونه وکړو:

## اثار

### الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • مټکور | لومړۍ شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • په اورونو کې سندرې | دويمه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |

### ب- راټولونې:

| | | |
|---|---|---|
| • هيلې | ګډه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • نيمګړي ارمانونه | د حيران شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • د لوونو فصل | ګډه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • د نازو انا ياد | د سيمينار د ليکنو ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • د استاد الفت نثري کليات | د استاد الفت نثرونه | دريم ۱۳۸۷ |
| • سيندونه هم مري | د اسحق ننګيال شعري منتخبات | دويم ۱۳۸۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه
  د پوهنوال روستار تره کي اثر دويم ۱۳۸۷
- .د افغانستان فرهنگي ميراثونو ته يوه کتنه
  د نينسي دوپري اثر دويم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنايتکارانو محاکمه
  د پوهنوال روستار تره کی اثر دويم ۱۳۸۷

## د- يونليکنې:

- د اماراتو سفر د اماراتو يونليک دويم ۱۳۸۷
- که يون دی يون دی د اروپا يونليک لومړی ۱۳۸۷
- د پنټاګون ترڅنډو د امريکا يونليک لومړی ۱۳۸۷

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته يوه لنډه کتنه دويم ۱۳۸۷
- استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوری دويم ۱۳۸۷
- د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي پښتو کتابتون د دويم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زيانونه دويم ۱۳۸۷
- د پښتو شعر هندسي جوړښت شپږم ۱۳۸۷
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل دويم ۱۳۸۷
- ساينسي پرمختياوې دويم ۱۳۸۷
- بېړنۍ لويه جرګه ولسواکي او زورواکي دويم ۱۳۸۷
- انديال خوشال لومړی ۱۳۸۷
- هيله د خپلو سريزو په لمن کې لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري يون لومړی ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

- فرهنګي فقر لومړی ۱۳۸۷
- مرکه او مرکې لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ایډیال لومړی ۱۳۸۷
- دکتابونو په ورېمو کې لومړی ۱۳۸۷
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون لومړی ۱۳۸۷
- اوسنۍ رسنۍ لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟ لومړی ۱۳۸۷

خدای(ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله(ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته د نور زغم او اوسېلې هیله لرم.

په درناوي

وفاالرحمن وفا

کابل-افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# dә áfǧánestán kultur ta áwuṣ̌ti zyánuna

## (Damages to Afghanistan culture)

By:
M. Ismael yoon

ISBN 978-9936-500-10-5
9 789936 500105 >

دخپرونو لړ: (۱۱)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**